# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

اکتوبر ۳۰، ۲۰۰۹

**د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون (پي. ایل. ۱۸۱- ۱۱۰) د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) بنسټ کیښود.**

د سیګار مشن د مالیه ورکوونکیو د ډالرو او نورو اړوندو بودیجو د کارولو په اړه د خپلواکو او مقصدي پلټنو، معاینو او څېړنو په ترسره کولو، او دا مهال د کانګرس او همداراز د بهرنیو او دفاع د محکمو د بیا رغونې د پرمختګ او کمزوریو څخه په خبر ساتلو سره، د افغانستان د بیا رغونې د پروګرامونو نظارت پراخول دي. د افغانستان په بیا رغونه کې ستر قراردادونه، مالي مرستي، معاهدې یا د بودیجو نور میکانیزمونه شامل دي چې د متحده ایالاتو د حکومت د یو ریاست یا اداري لخوا پېل شوي وي او په دې کې د ټاکل شویو یا غېر مختص شویو بودیجو د استعمال خبره وي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره یې د یوې شخصي اداري سره د دې لپاره موافقه شوې وي چې: د افغانستان بنسټیزه فزیکي اډانه جوړه او یا یې بیا ورغوي؛ د افغانستان سیاسي او ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا ورغوي او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمات وړاندې کړي.

سرچینه: پی. ایل. ۱۱۰ -۱۸۱ "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۲۸|۱|۲۰۰۸.

## د افغانستان اسلامي جمهوریت



ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان د بیارغوني لپاره

اکتوبر ۳۰، ۲۰۰۹

خوښ یم چې د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړي عمومي پلټونکي دفتر (سیګار) لخوا کانګرس ته پنځم درې میاشتنی راپور وړاندې کوم. دا راپور د پی ایل ۱۱۰--۱۸۱ د ۱۲۲۹ برخي لاندې ټولو اړتیاوو سره سم، د دیرشم جولای ۲۰۰۹ د راپور نه راوروسته فعالیتونو راپور وړاندې کوي او په افغانستان کې د بیا رغونې پروګرامونو د وضعیت په اړه وروستی حال وړاندې کوي. د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا کانګرس تخمیناً ۳۹ ملیارده ډالر د افغانستان د بیارغونې لپاره اختصاص کړي دي. ډېر شوني ښکاري چې د ۲۰۱۰ مالي کال لپاره د مالي سرچینو غوښتنې دا مبلغ ۵۰ ملیارده ډالرو ته لوړ کړي.

په دې درې میاشتو کې سیګار خپل پرمختګ ته ادامه و رکړه، او د نظارتونو، پلټنو او څېړنو د ترسره کولو له لارې یې خپل ظرفیتونه لوړ کړي دي. زموږ د وروستي راپور راهیسي، زمونږ د مسلکي کارکوونکیو شمېره د ۴۴ تنو څخه ۵۷ ته لوړه شوې ده. زموږ دفتر په تیرو دریو میاشتو کې پنځه د پلټنې راپورونه او پنځه د معاینې راپورونه خپاره کړي دي. دا راپورونه بیلابیل ځانګړي پروژې او ستر پروګرامونه د امنیت، دولتداري، او پرمختګ په برخو کې تر پوښښ لاندې راولي. موږ د پلټنې ۱۰ نور راپورونه او ۷ معاینې تر کار لاندې لرو. د سیګار د څېړنو ټیم د جنایي پلټو اوه نوي قضیي تر څېړنې لاندې نیولي دي او د دوو ځانګړو کسانو او یوې کمپنۍ چې د بډې اخیستلو تور پري وه، له پلټنو سره مرسته کړې ده.

یو کال کیږي چې سیګار خپل لومړنی بودیجه ترلاسه کړي، او د دې توان یې ترلاسه کړ چې کارکوونکي استخدام کړي او په واشنګټن او افغانستان کې د خپلو دفترونو بنسټ کیږدي. د هغه کارونو پر بنسټ چې موږ تر نن ورځې پورې ترسره کړي دي، شخصي لیدنې په افغانستان کې، او د متحده ایالاتو، افغانستان او نړیوالو کارکوونکو سره د خبرو اترو په پایله کې، سیګار څلور مسالې په ګوته کړي دي چې باید هغوی ته ځواب وویل شي تر څو د بیارغونې پروګرام اغیزمنتوب اصلاح کړې شي. لومړی، هغه پروګرامونه چې بودیجه یې د متحده ایالاتو لخوا ورکول کیږي، باید چې نور هم مسوول وي. دویم، په دې خبره باید نور هم ټینګار وشي چې د پروژو د جاري ساتلو لپاره د افغانستان ظرفیت لوړ شي. دریم، د بیارغونې د موخو د ترلاسه کولو لپاره، د متحده ایالاتو او نړیوالو لخوا تمویل شوي پروژې باید چې لاښې سره یو لاس او متحدې کړای شي. څلورم، د مالي فساد د مخنیوي لپاره د اغیزمنې ستراتیژۍ د جوړولو لپاره باید لا پراخه پاملرنه وشي. د حساب ورکولو نشتوالی، د ظرفیت د لوړولو او مسولیت په غاړه اخیستلو لپاره غیرکافي پاملرنه، د پروژو د یو ځای کولو کموالی، او مالي فساد ټول د بیا رغونې هڅو د ضایع کیدلو سبب کیږي.

د متحده ایالاتو حکومت په ځانګړي توګه اندیښمن دی چې مالي فساد د افغانستان د بیارغونې لپاره زموږ پانګه له خطر سره مخ کوي. د متحده ایالاتو او افغانستان د دولت له مسوولینو سره د خبرو اترو په پایله کې، سیګار یو لړ د حساب ورکونې هڅې په لار واچولې چې د متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرستندویانو لخوا د افغانستان د تاسیساتو د ظرفیت د لوړولو او د فساد مخنیوي لپاره ترسره کوي، ارزونه وکړي. په دې دریو میاشتو کې، سیګار د افغانستان د بیلابیلو دولتی تاسیساتو د صلاحیتونو او ظرفیتونو بیاکتنه پیل کړه چې داخلي کنټرول، د مالي فساد د خطر کچه وارزوي او د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د پیسو لپاره حساب ورکول نور هم ښه کړي. سیګار د دغو راپورونو لومړنی یو د عدلی سمونو په برخه کې خپور کړ. که چیرې سیګار کافي بودیجه ترلاسه کړي، موږ به د مالي فساد ضد ابتکار د افغانستان ولایاتو او همدا رنګه د دولتداري ملي موسساتو ته پراخ کړو.

د ۲۰۰۹ کال د اګست په شلمه نیټه، افغانانو د لومړی ځل لپاره د افغانانو لخوا په لاره اچول شویو د ولسمشری او ولایتي شوراګانو په ټولټاکنو کې رایه ورکړه. د امریکا متحده ایالات، چې ټولټاکنې د مشروع حکومت د جوړولو په لار کې یو مهم ګام بولي، د ټولټاکنو د پروسي سره د مرستي لپاره ۲۶۳ میلونه ډالره ورکړل. د پراخو درغلیو ادعاوو د پایلو تصدیق وځنډول. خو سره له دې هم، د افغانستان

د ټاکنو اداري- د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC) - یوه داسي پروسه تر کار لاندې ونیوله چې د درغلیو کچه وارزوي، او د اکتوبر په شلمه د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې ولسمشر کرزي په سلو کې ۴۹.۷ رایې وړې دي، چې د اړتیا وړ ۵۰ په سلو کې رایو چې په لومړی پړاو کې د ټاکنو د ګټلو لپاره ورته اړتیا ده، لږ کمې دي. د ټاکنو دویم پړاو د نومبر د ۷ نیټې لپاره په نظر کې نیول شوي دي. سیګار په دې درې میاشتې کې د دې ټاکنو په اړه دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړل، او د ټاکنو ټوله پروسه، له هغوی نه د ترلاسه شویو زده کړو په شمول، به وارزوي.

د اګست په میاشت کې، د افغانستان دولت خپل لومړنی کلنی راپور د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) د وضعیت په اړه خپور کړ، او په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره د یوه نوي ملکي-نظامي کمپاین پلان خپور کړ. که څه هم د افغانستان دولت د ANDS په نیژدې ټولو برخو کې د ځینو پرمختګونو راپور ورکړ، دا راپور خبرداری ورکوي چې دولت او د هغه نړیوال ملګري اوس هم له سترو ننګونو سره مخ دي، په ځانګړي توګه د دولتداري او امنیت په برخو کې. د امریکا د متحده ایالاتو پلان په افغانستان کې په سیمییزه، ولایتي او ملي کچه باندې د دولتداري د ظرفیت په جوړولو باندې ټینګار کوي. د دې راپور په لومړۍ برخه کې د دې دواړو سندونو لنډیز شامل دی.

په سپټمبر کې د ملي امنیت او بهرنیو چارو جرګه کې په مخ کې د شاهدي ورکولو په مهال، ما د هغو ګامونو لوړ ټکي بیان کړل چې سیګار په افغانستان کې د ادارو تر منځ د انسجام د نوي ستراتیژي د ځارنې په موخه عملي کړي دي. بشپړ بیان زموږ په ویبپاڼه کې شته دی: www.sigar.mil. که څه هم د متحده ایالاتو ستراتیژي د تکامل په حال کې ده، د بیارغونې هڅې دوام لري او سیګار د بیارغونې لپاره د ورکړل شویو ډالرو د ضیاع، درغلي، او ناوړه استعمال د مخنیوي لپاره خپلې ځارنې ته ادامه ورکوي.

په ډیر درناوي



ارنلډ فیلډز
برید جنرال، یو ایس ایم سی (متقاعد)
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

SPECIAL INSPECTOR GENERAL
AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د منځپانګې جدول

## لومړنۍ برخه

### د افغانستان عمومي کتنه




| | |
|---|---|
| امنیت | 4 |
| دولتداري | 4 |
| د پروژو انسجام | 7 |
| د نظارت انسجام | 8 |


## دویمه برخه

### د سیګار نظارت




| | |
|---|---|
| پلټنې | 15 |
| معاینې | 22 |
| د سیګار ځانګړي شمیره | 28 |
| څیړنې | 29 |
| د سیګار بودیجه | 32 |
| د سیګار کارکوونکي | 33 |


## دریمه برخه

### د بیارغونې وروستي معلومات




| | |
|---|---|
| عمومي کتنه | 37 |
| د بودیجو حالت | 41 |
| امنیت | 57 |
| دولتداري | 73 |
| اقتصادي او ټولنیز پرمختګ | 93 |



## څلورمه برخه

### د نورو ادارو نظارت


| | |
|---|---|
| د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه | 113 |
| روان نظارت | 114 |
| د نورو ادارو څېړني | 122 |
| د نورو ادارو معاینې | 123 |




### ضمیمې


| | | |
|---|---|---|
| ضمیمه ا: | د قانوني غوښتنو سره سمد راپور کتل | 126 |
| ضمیمه ب: | د متحده ایالاتو د دولت لخوا اختصاص شوي بودیجې بودیجې | 132 |
| ضمیمه ج: | د سیګار پلټنې او معاینې | 134 |
| ضمیمه د: | سیګار ځانګړي شمیره | 136 |
| ضمیمه هـ: | لنډیزونه او تعریفونه | 137 |


### پایلیکونه


پایلیکونه 140

**د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکني**

د غزني ولايت د ناوي ولسوالۍ په سيمه ييز ښوونځي کې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو د کارکوونکو لخوا د رايي ورکولو پاڼې تنظيم او برابرېږي. له ښوونځي څخه د رايي ورکولو د مرکز په توګه کار اخيستل شوی وه. (انځور د متحده ايالاتو د سمندري پوځ، ډلګی مشر ويليام ګريسون)

# 1 د افغانستان عمومي کتنه



«سره له ډېرو سختو حالاتو، موږ ولیدل چې ټاکني
ترسره شوي، اوس موږ ولیدل چې د ټاکنو خپلواک
کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون خپلې
دندي بشپړي کړي، موږ ولیدل چې کاندیدان دي ته
چمتوالی ښيي چې اساسي قانون ته غاړه کیږدي،
او د ټاکنو د پروسې د بشپړوالي لپاره پرمختګ
کیږي.»

— د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: د سپیني مانۍ مطبوعاتي بیان، «د ولسمشر اوباما او د عراق لومړي وزیر ملکي لخوا له کتني وروسته تبصري» www.whitehouse.gov/the_press_office/Remarks-by-President-Obama-and Prime-Minister-Maliki-of-Iraq-After-Meeting, وکتل شو په ۲۰۰۹\۲۱\۱۰.

# د افغانستان عمومي کتنه

په افغانستان کې په دې درېيو مياشتو کې، په عمومي توګه امنيتي وضعيت لا هم مخ په خرابېدو وه، د ياغيانو حملې د اګست د شلمې نيټې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د ترسره کېدلو مخکې مخ په ډېرېدو وې. د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون (IEC) لومړنۍ پايلې د سپټمبر په مياشت کې اعلان کړې، خو د پراخو درغليو ادعاوو د پايلو د تصديق کولو مخنيوي وکړ. د ټاکنيزو شکاياتو کميسيون (ECC)، د ټاکنو له خپلواک کميسيون (IEC) سره په ګډه، د درغليو د کچې د معلومولو په موخه د پلټنو يوه پروسه ترسره کړه. د اکتوبر په شمله نيټه، د ټاکنو خپلواک کميسيون د دې پلټنې پايلې اعلان کړې، چې ښيي ولسمشر کرزي د رايو ۴۹.۷ په سلو کې برخه ترلاسه کړي، چې په لومړۍ دور کې د په ټاکنو کې د بريٰ له پاره اړينې ۵۰ په سلو کې له پاسه يوه رايه يې پوره نکړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون اعلان وکړ چې هغوی به د نومبر د مياشتې په ۷ نيټه د ولسمشر کرزي او په ټاکنو کې په دويمه کچه ډېرې رايې ګټونکې ډاکټر عبدالله عبدالله، چې د رايو ۳۰.۶ په سلو کې برخه يې ترلاسه کړې وه، د ټاکنو دويم پړاو ترسره کړي.

د افغانستان داسلامي جمهوريت دولت (GIRoA) د ۲۰۰۹کال د اګست په مياشت کې د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ANDS) د عملي کولو په اړه خپل لومړنی کلنی راپور خپور کړ، او د متحده ايالاتو دولت د افغانستان د با ثباته کولو په موخه د يوه نوي منسجم ملکي-نظامي کمپاين پلان خپور کړ. د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ANDS) راپور د ANDS د ترجيحاتو سره سم د بودجو د برابرولو لپاره او د داسې ميکانيزمونو تاسيس چې د ANDS د موخو د ترلاسه کولو په لوري پرمختګ تر نظر لاندې ونيسي او ارزيابي يې کړي، د افغانستان حکومت هڅې بيانوي. د دې راپور سره سم، د ANDS د ډېرو ارکانو او سکتورنو ترلاسه کول محدود ول چې د هغې وجه د امنيت مسالې او د پروګرامونو د مديريت لپاره د دولتداري د ظرفيت نشتوالی دی. د متحده ايالاتو د دولت لخوا د افغانستان د ملاتړ لپاره نوی منسجم شوي ملکي-نظامي کمپاين پلان، چې د ولسمشر باراک اوباما لخوا سږ کال په ګوته شوي پراخو استراتيژيکو اهدافو باندې ولاړ دی، له ياغيانو سره د مقابلې لپاره ۱۱ اساسي «بدولونونکي هڅې» په ګوته کوي، چې په سيمييزه، ولايتي او ملي کچو باندې د امنيت او دولتداري وضعيت ښه کړي.

په دې درې مياشتو کې پرمختګونه له هغو بې شميره ننګونو سره چې په افغانستان کې د بيا رغوني هڅې لا هم ورسره مخ دي. دوه مسالې - د امنيت نشتوالی او د دولتداري د ظرفيت اړتيا- لا هم د پرمختګ لپاره تر ټولو ستر خنډونه جوړوي. د هغو ستونزو سربيره چې د مخ په خرابېدونکي امنيتي وضعيت او ضعيفي دولتداري را منځ ته کړي دي، سيګار -په افغانستان کې د خپلو پلټنو، معاينو، څېړنو، او نظارت له لارې- د نظارت څلور اساسي انديښنې په ګوته کړي دي: د حساب ورکولو نشتوالی، د ظرفيت لوړولو او مسووليت په غاړه اخيستلو ته ناکافي پاملرنه، د پروژو تر مينځ د انسجام کموالي، او اداري فساد.

## امنيت

په افغانستان کې د امنيت نشتوالي د بيارغونې په هر اړخ باندې منفي اغيزه لري، د انفراسټرکچر له جوړولو او



**سفیر ریچارډ سی. هالبورک**، د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی، د ټاکنو په ورځ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له کارکوونکو سره خبري کوي. (انځور په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت، ډان ویلکینسون)

ترمیمولو را نیولي د ښې دولتداري پر مخ بیولو پوري. د امنیت راوستلو لپاره د متحده ایالاتو ستراتیژي د تر ډیره بریده د لوي افغاني پوځ او پولیس په جوړولو متمرکزه ده چې د ترهګري-په خلاف د جګړې د رهبري کولو صلاحیت ولري او وکولای شي د افغانستان خلکو ته له یاغیانو څخه پناه ورکړي. د متحده ایالاتو د بیارغوني د بودیجي ستره برخه - ۱۸.۷ میلیارده ډالر- د افغانستان د امنیتي پوځونو بودیجي (ASFF) ته ورکړل شوي ده چې د افغانستان ملي اردو (ANA) او د افغانستان ملي پولیس (ANP) ته روزنه ورکړي او تجهیزات ورته برابر کړي.

د امنیت اهمیت او د افغانستان د امنیتي پوځونو د جوړولو په پروسه کې د متحده ایالاتو برخې ته په کتلو سره، سیګار د دې درې میاشتني راپور په موده کې خپل نظارت امنیتي سکټور ته وغځاوه، او د امنیتي سکټور په برخه کې یې دوه نوي پلټنې پیل کړې. لومړنی هغه د ملي اردو او ملي پولیسو په وړتیاوو د باوریتوب ارزونه ده، کوم چې د خپلواک امنیتي پوځونو د تشکیل د ودې ارزوني لپاره کارول کیږي. دویم هغه یې د ملي اردو او ملي پولیسو د پرسونل د مدیریت سیستمونو د جوړولو د بشپړتیا ارزول دي، چې په هغې کې هغه دوامداره هڅې هم شاملې دي چې «ارواحو» پرسونل ته په ټګې سره د پیسو ورکولو پیژندل دي. د دې پلټنو سربیره، سیګار په کندهار او فراه کې د ANSF اسانتیاوې معاینه کوي، کوم چې د افغانستان - ګډې انتقالي امنیتي قوماندې له لارې تمویل کیږي. دا معاینې به دا خبره روښانه کړي چې آیا دا اسانتیاوې په قرار داد کې د ذکر شویو ځانګړتیاوو سره سم جوړیږي او که نه او دا چې د هغوي وړ او مناسبه ساتنه کیږي.

له دې امله چې جدي امنیتي ستونزې نیژدې د افغانستان په ټولو برخو کې شته دی، د متحده ایالاتو دولت او د بیا رغوني قرار دادیان دواړه کوم چې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي پروژې بشپړوي، د شخصي امنیتي شرکتونو پرسونل د امنیت لپاره استخدام کوي. ډیر شکایتونه، چې په هغوی کې د متحده ایالاتو د قرار دادي له لوري د سیګار د ځانګړې شمیرې لخوا ترلاسه شوی هغه هم شامل دی، ادعا کوي چې د دغو شخصي امنیتي شرکتونو څخه ځینې یې د هغو خلکو لخوا جوړ شوي چې له طالبانو سره اړیکې لري. سیګار په دې اړه پلټنه پیل کړې ده چې دا خبره تر کتنې لاندې ونیسي چې د متحده ایالاتو دولت او د بیارغوني قرار دادیانو ته امنیت څه ډول برابریږي. سیګار دې خبرې ته توجه کوي چې د متحده ایالاتو هره اداره د خپلو امنیتي اړتیاوو په موخه څه ډول قرار داد کوي او دا چې هره اداره په کومه اندازه د خپلو قراردادیانو څارنه عملي کوي.

د سیګار لومړني کارونه ښیي چې لږ تر لږه ۱۴۰۰۰ شخصي امنیتي قراردادیان نیغ په نیغه د متحده ایالاتو د ادارو لپاره کار کوي. سره له دې هم، د متحده ایالاتو دولت نه پوهیږي چې څومره نوري شخصي کمپنۍ یا کسان د بیا رغوني د قراردادیانو لپاره امنیتي خدمات وړاندې کوي. د وخت په تیریدلو سره، د سیګار پلټونکي تمه لري چې د شخصي امنیتي قراردادیانو له کارولو سره اړوند د پالیسي مسالې په ګوته کړي.

## دولتداري

د متحده ایالاتو نوی ملکي-نظامي کمپاین پلان «په افغانستان کې د لا ډیر وړ، مسؤول، او اغیزمن دولت پر مخ بیولو» باندې ټینګار کوي او د هیواد په بیا جوړولو کې د افغانانو په لا پراخه کچه برخه اخیستلو لپاره خپل غږ اوچتوي.[1] د راپور ورکولو په دې دوره کې، متحده ایالات د ښې دولتداري په دوو اړخونو باندې متمرکزه وه: د باوري او مطمینه ټاکنو له پروسي څخه ملاتړ کول، او د داسې یوې ستراتیژي جوړول چې د اداري فساد مخه ونیسي. د متحده ایالاتو د دولت په نظر د اګست د شلمي نیټې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې، چې د لومړي ځل لپاره په خپلو د افغانانو لخوا اداره کیږي، د داسې یوه دولت د تاسیس له پاره چې د خپلو خلکو په سترګو کې قانوني حیثیت ولري، یو مهم ګام دی. او په عین حال کې، د متحده ایالاتو دولت د اداري فساد په اړه خپلې ژورې اندیښنې څرګندې کړې، کوم چې نه یوازې په دولت باندې باور کولو ته زیان رسوي، بلکې د بیا رغوني د هڅو هر اړخ ته زیان رسوي.

سیګار په دې دواړو برخو کې نظارت کوي. په دې درې میاشتو کې، سیګار د ټاکنو د پروسې په اړه د پلټنې

دوه راپورونه خپاره کړل او يو لړ نوري پلټني يي پيل کړي چي په ولايتي او ملي کچه باندې د بيلابيلو افغاني عامه موسسو وړتياوي او کړني ارزيابي کړي. دا پلټني به د داخلي کنټرولونو، د مالي فساد د خطر د کچي په اړه د افغاني وزارت خانو او دولتي دفترونو وړتيا وارزوي او د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د پيسو په اړه حساب ورکول او مسؤوليت پيژندنه نور هم ښه کړي.



**د متحده ايالاتو سفير کارل ايکن بيري** د امريکا د متحده ايالاتو د مشرانو جرګي د بهرنيو اړيکو د کميټي له مشر جان کيری سره له ټاکنو څخه د ملاتړ په مسالو خبري اتري کوي. (انځور په کابل کي د متحده ايالاتو د سفارت)

## د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکني

د هغه اهميت په وجه چي دا ټاکني يي د متحده ايالاتو د دولت لپاره لري، او هغه د پام وړ پيسي چي د متحده ايالاتو او نړيوالي ټولني لخوا د ټاکنو د پروسي څخه د ملاتړ لپاره ورکړ شوي وي، سيګار ټاکني له نيژدې څخه څارلي دي. د امريکا متحده ايالات او د هغه نړيوال ملګري د يوه قانوني او مسؤل حکومت د جوړولو لپاره دي ټاکنو ته په ډير اهميت قايل دي. سيګار په دي دري مياشتو کي د پلټنو يو راپور خپور کړ چي نړيوالي مرستي او هغه اندازه چي دا مرستي د ټاکنو د ترسره کولو لپاره د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ظرفيت په لوړولو کي کارول شوي وي، په ګوته کړي. دويمي پلټني په دغو ټاکنو کي د ښځو د برخه اخيستلو ارزونه وکړه.

د ۲۰۰۹ کال تر پايه، د امريکا متحده ايالاتو د خوندي او اعتبار وړ ټاکنو څخه د ملاتړ لپاره ۲۶۳ ميلونه ډالر ورکړي وه چي د نړيوالي ټولني لخوا برابر شوي ۴۸۸ ميلونه ډالرو تر نيمايي زياته برخه جوړوي. ملګرو ملتونو (UN) د نړيوالي ټولني لخوا ورکړ شوي بوديجي څخه ۳۳۱ ميلونه ډالر اداره کړل. هغوی دا پيسي د بشپړي پروسي د اداري مصارفو لپاره ولګولي، چي په هغوی کي د رايه ورکوونکو له ثبت کولو څخه رانيولي د ټاکنو تر عملي کيدو او مناقشي وړ رايو لپاره د حل لاره موندل شامل دي. ملګرو ملتونو د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته مرستي او ملاتړ برابر کړل.

د ملګرو ملتونو له موخو څخه يو هم د ټاکنو د ترسره کولو لپاره د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ظرفيت او وړتيا لوړول وه. د ټاکنو خپلواک کميسيون د خپلو دندو په ترسره کولو کي له سترو چلينجونو سره مخ دي، په ځانګړي توګه دا چي په ۲۰۱۰ کال کي د ولسواليو د شوراګانو او پارلماني ټاکني هم په مخ کي دي، ځکه هغوی د نړيوالي ټولني له مرستي او ملاتړ څخه پرته د دي ټاکنو د ترسره کولو لپاره د منابعو او تخصص له کموالي سره مخ دي. که څه هم ملګرو ملتونه د ظرفيت او وړتياوو د پرمختګ اړتيا منلي ده، هغوی تر اوسه پوري د ظرفيت جوړولو لپاره اوږد مهاله ستراتيژي نه ده جوړه کړي.



**د امريکا د متحده ايالاتو د پوځ جنرال ستانلي مک کرستال** د افغانستان د بهرنيو چارو وزير، ډاکټر رنګين دادفر سپنتا، سره په داسي حال کي ليدل کيږي چي د آيساف د مرکزي قوماندانی سره نيژدې د ځانمرګي چاودني په نتيجه کي د پيښ شوي زيانونو سروي کوي. (انځود د متحده ايالاتو د پوځ، بريدمن ديويډ الوارادو لخوا)

د ټاکنو خپلواک کميسيون راپور ورکړ چي د اګست د مياشتي په ټاکنو کي د رايه ورکوونکو نيژدي ۳۸.۸ په سلو کي ښځي وي. سيګار ونشو کړای چي په خپلواکه توګه د دي شميرو تصديق وکړي. سيګار په دي پوهيدلي چي د رايي ورکولو له حق څخه د کار اخيستلو لپاره ښځي له بی شميره خنډونو سره مخ دي. د خوندي او امن چاپيريال نشتوالی، له فرهنګي او دوديزه بنديزونو سره په ګډه، د ثبت کولو، کمپاين چلولو او رايي ورکولو لپاره د هغوي وړتياوي محدودي کړي. ډيرو ځارونکو دا راپور ورکړ چي سړيو د ښځو په نمايندګي رايي ورکولي، سره له دي چي د بل چا په وکالت رايه ورکول د ټاکنو د قانون څخه سرغړونه ده. څنګه چي د رايي ورکولو مرکزونه د جنس په اساس سره بيل شوي دي، په ټول هيواد کي د ښځينه رايه ورکولو اداري مامورينو کمښت هم د هغو ښځو شميره راښکته کړه چي کولای شول خپله رايه استعمال کړي.

سیګار دا سپارښتنه کړې ده چې د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر دی د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت، ملګرو ملتونو، اونورو اساسي برخه لرونکو سره په ګډه کار وکړي چې د ټاکنیزو ظرفیتونو د جوړولو لپاره یوه عمومي ستراتیژي او تفصیلي پلان جوړ کړي. دا ستراتیژي او پلان باید هغو ننګونو او ستونزو ته چې ښځینه نوماندي او رایه ورکوونکي ورسره مخ دي، ځواب ووایي.

وروسته له هغه چې ټاکنې پای ته ورسیږي، سیګار به یوه وروستي پلټنه ترسره کړي چې د ټاکنو د پروسې د ترسره کېدلو او درغلیو په بنا اچول شویو رایو د بیژندنې او منسخولو لپاره د کړنلارې جوړولو تحلیل او تجزیه وړاندې کړي. دا راپور به د راتلونکو ټاکنو لپاره هغه ځانګي په ګوته کړي چې له دې ټاکنو څخه زده کړې شول.

## د اداري فساد ضد کړنو ته یوه کتنه

د اداري فساد د مخنیوي لپاره د افغانستان د توان او ظرفیت لوړول او پیاوړي کول د امریکا د متحده ایالاتو د بیا رغونې پروګرام، او همدا رنګه د نړیوالې ټولنې او پخپله د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له ترجیحاتو څخه دي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د امریکا د متحده ایالاتو له بیلابیلو دولتي مسؤولینو څخه دا غوښتنه کړې ده چې د ظرفیت په پیاوړي کولو کې ورسره مرسته وکړي تر څو وکولای شي کنټرول ولري او حساب ورکولو پروسه نوره هم ښه کړي، کومې چې دواړه یې د اداري فساد د مخنیوي لپاره مهمې دي. سیګار د یوې پلټنې ابتکار په لاره اچولې دی چې دا وګوري د امریکا متحده ایالات او نور نړیوال مرستندویان د اداري فساد د مخنیوي لپاره د افغاني ادارو د ظرفیت لوړولو او پیاوړي کولو لپاره کوم کارونه ترسره کړي دي. دا همدا رنګه د داخلي کنټرولونو او د حساب ورکولو کړنلاره چې د افغانستان د مهمو دولتي تاسیساتو لخوا په ولایتي او ملي سطحو ورڅخه کار اخیستل کیږي، ارزوي. که څه هم سیګار به د افغاني چارواکو روزنه تر کار لاندې نه نیسي، د سیګار پلټنې له افغانی چارواکو او همدا رنګه د امریکا متحده ایالات او نورو نړیوالو مرسته کوونکو کارکوونکو سره د مرستې په موخه ترسره کیږي تر څو په لا ښه توګه د داخلي کنټرول، حساب ورکولو او د اداري فساد په خلاف اقداماتو په اهمیت پوه شي.

د اګست په میاشت کې سیګار خپل لومړنی راپور خپور کړ، کوم چې د اداري فساد د مخنیوي او د قانون د حکومت د پیاوړي کولو لپاره د امریکا د هڅو په لړۍ کې لومړنی راپور دی. په دې راپور کې دا خبره جوته شوه چې تجهیزاتو ته د لاسرسي لپاره غیر کافي پیسي او نامناسب لاسرسي د توقیف کولو د اسانتیاوو جوړول ځنډولي دي کوم چې په کابل کې د مخدره موادو سره د مبارزې لپاره د انصاف مرکز په بیړنی توګه ورته اړتیا لري. دا مرکز، چې د مخدره موادو په خلاف د متحده ایالاتو او افغانستان د مبارزې یوه مهمه برخه ده، په ټول هیواد کې د نشه یي توکو د مهمو قضیو په اړه انحصاري صلاحیت او قانوني واک لري. د دې مرکز په پراخولو کې ځنډ کولای شي په افغانستان کې د غیرقانوني مخدره موادو د تجارت په خلاف د افغان دولت او متحده ایالاتو د مبارزې هڅې په ډیره بده توګه اغیزمنې کړي. د سیګار د راپور په ځواب کې، د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د پوځي انجنیرانو قطعې دا خبره روښانه کړه چې هغوی کولای شي په ګډه کار وکړي تر څو په خنډونو بریالي شي او په دې توګه د دې مرکز د تسهیلاتو جوړول کیدای شي پر مخ لاړ شي.

د سپتمبر په میاشت کې، سیګار د امریکا د متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرسته کوونکو د هڅو په اړه یوه پلټنه پیل کړه کوم چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د نظارت د لوی دفتر (HOO) د ظرفیتونو د پیاړوي کولو لپاره په لاره اچول شوي وه. دا اداره د هیواد د اداري فساد په خلاف کوشنونه عملي کوي او د افغانستان ولسمشر ته راپور ورکوي. دا پلټنه به د اداري فساد په خلاف د هغوی د مشن لپاره د HOO د وړتیاوو ارزونه وکړي او د هغه د ظرفیتونو د جوړولو لپاره به د متحده ایالاتو او نورو مرسته کوونکو کوششونه په ګوته کړي.

## د انفراسټرکچر ساتنه

په افغانستان کې له ۲۰۰۲ کال راهیسي، د انفراسټرکچر د جوړولو لپاره په میلیاردونو ډالر لګول شوي دي--له ښوونځیو او روغتیایي کلینیکونو رانیولې تر سرکونو، د اوبو سیستمونو، او د بریښنا تولیدي فابریکو پورې هر څه په کې شامل دي-- د هیواد په ډیرو برخو کې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي د جوړولو کارونه روان دي. انجنیران، پلټونکي او څیړونکي د سیګار لخوا استخدام شوي دی چې په ګډه کار وکړي، او نه یوازې دا خبره څرګنده کړي چې آیا دا پروژې د قرارداد له مشخصاتو سره سمې جوړیږي او له موخې سره سم کارول کیږي او که نه، بلکې دا خبره هم ارزیابي کړي چې د هغوی د ساتلو لپاره د افغانانو وړتیاوې څرنګه دي.

د سیګار لومړنی مشاهدي دا ښیي چې وروسته له هغه چې دا پروژې افغاني چارواکو ته سپارل شوي دي، د هغوی ساتلو ته ډیره لږه پاملرنه شوي ده. سیګار په خپله دي څرګندونه کې یوازې نه ده. د بیلګې په توګه، په دوو بیلو راپورونو کې، د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO) دي خبرې ته اشاره کړي ده چې د افغانستان دولت دا ظرفیت او وړتیا نه لري چې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي د انفراسټرکچر پروژې وساتي.[2]

د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) د بودیجو د کارولو اړوند مقررات دا غوښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان دا ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان د دولت یوه مناسبه با صلاحیته اداره دي د یوې پروژې د بشپړیدلو او انتقال وروسته د هغې د ساتلو لپاره آماده کړي شي. USFOR-A راپور ورکړ چې د پروژې د کتنې په مهال هغوی د افغانستان دولت له چارواکو د یوه لیکل شوي سند غوښتنه کوي چې د پروژې د دوام او ساتنې سره موافقه وښیي. دا لیک عموماً د ولایت په کچه د چارواکو لخوا ورکول کیږي او "د افغانستان د دولت له اړخه د ژمنې" څرګندونه کوي.[3] د USFOR-A د راپور له مخې، سره له دې هم، "ډیر زیات شواهد شته چې افغانستان نشي کولای هغه پروژې چې موږ بشپړوو، هغوی ته ادامه ورکړي." USFOR-A اضافه کوي، "د بیارغونې د هڅو له اړه یو نا لیکل شوي مسوولیت شته چې پرمختګ وشي. موږ جوړونې ته ادامه ورکوو او په دې تمه چې د افغانستان دولت به یوه ورځ وکولای شي چې د خپلې برخې مسوولیتونه پوره کړي، او هغه پروژې چې دوی ویلي دي چې هغوی ته له انتقال کولو وروسته به یې ساتي، د [مالي اداري د مقرراتو] قانوني غوښتنې پوره کوو." سیګار به دا د ساتنې او جاري ساتلو مساله نوره هم وڅیړي، ځکه په دې کې کیدای شي د هغو پروژو په جوړولو سره چې ساتنه یې نشي کیدلای، د مالي ورکوونکو ډالر د ضیاع امکانات وي.

## د پروژو انسجام

د متحده ایالاتو د ملکي-نظامي کمپاین پلان د بیا رغونې د پروژو تر مینځ د لا ښه انسجام غوښتنه کوي، نه یوازې د متحده ایالاتو د ادارو ترمینځ بلکې همدا رنګه له نړیوالې مرستندویه ټولنې سره هم د هغې غوښتنه کوي. د معلوماتو د مدیریت د یوه اغیزمن سیستم یا نورو لارو چارو نشتوالي چې د بیلابیلو ادارو او موسسو لخوا په افغانستان کې په غاړه اخیستل شوي پروګرامونو یوه بشپړه منظره وړاندې کړي، د بیا رغونو د هڅو اغیزمن انسجام له ستونزو سره مخ کوي. سیګار سپارښتنه کړې چې د متحده ایالاتو ملکي اداري او پوځي قوماندي په ګډه سره کار وکړي تر څو د معلومات د مدیریت یو داسې منسجم سیستم رامینځ ته کړي چې د بیا رغونې د پروګرامونو او پروژو یو مشترک عملي تصویر وړاندې کړي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړیوالې ټولنې په کال ۲۰۰۶ کې د همغږۍ او څارنې مشترک هییت (JCMB) تاسیس کړ چې د افغان تړون عملي کیدل تر نظر لاندې ونیسي او په ګډه توګه یې عملي کړي. JCMB، چې د هغه په ۲۸ غړو کې ۷ کسان د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په استازیتوب او ۲۱ کسه د نړیوالې ټولنې په استازیتوب شامل دي، اوس د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړیوالې ټولنې ترمینځ د پرمختیایي پالیسیو د جوړولو او منظم کولو مسؤولیت په غاړه لري. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د هغه نړیوال ملګري د JCMB له لارې منسجم کیږي تر څو د ANDS د موخو د ترلاسه کولو په لوري پرمختګ تر نظر لاندې ونیسي. کله چې د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کې JCMB غونډه وکړه چې د ANDS وضعیت وڅیړي، نړیوالې

تولني هغه مهال وويل چې ANDS لا ښه تمرکز ته اړتيا لري اودا چې د افغانستان اسلامي جمهوري د ولت بايد د ترجيحاتو او پروګرامونو يوه روښانه او له ابهام څخه پاکې بنې ته وده ورکړي.[4]

سيګار د ځانګړيو پرمختيايي سکټورونو لپاره يو لړ د کارايي د پلټنو کار پيل کړی دی. د دغو پلټنو لومړنۍ هغه يې، چې په راتلونکو دريو مياشتو کې به خپور شي، د انرژۍ په ځانګه کې د متحده ايالاتو او نورو مرسته کوونکو هيوادونو د مرستو عمومي کتنه ده. دا پلټنه به هغه کچه چې متحده ايالات او نور نړيوالي پروژۍ يو بل بشپړوي، ارزيابي کړي او دا خبره به معلومه کړي چې بريښنا ته د افغانانو د لاسرسي په پراخولو کې هغوي څومره اغيرمن شوي دي.

## د نظارت همغږي

د ځانګړي پلټونکي تولنه له دې حقيقت نه ښه خبره ده چې خپل کارونه همغږي کړي تر څو نظارت ممکنه لوړې کچې ته ورسوي، د کارونو له دوه ځلي ترسره کيدلو مخنيوی وکړي، او د عملي کوونکي اداري څخه غوښتني راټيټې کړي. سيګار د سهيل لويديځي آسيا د پلان جوړولو د مشترکي ډلې او د هغې د پاکستان/افغانستان جرګګۍ غړی دی، کوم چې په افغانستان او پاکستان کې کړني تر نظارت لاندې نيسي. دا جرګګۍ له سيګار، GAO او د USAID، د دفاع محکمې او بهرنيو چارو محکمې له عمومي پلټونکو څخه تشکيل شوي ده.

سيګار همدا رنګه په قرار دادنو کې د اداري فساد په خلاف د نړيوال کاري ځواک (ICCTF) غړی هم دی، او هغوی د فدارلي جرمونو او ملکي قضيو د تنظيمولو اصلي ارګان دی چې په سهيل ختيځه آسيا کې د متحده ايالاتو د دولت لخوا د مصرف کړل شويو پيسو اړوند د ټګي او اداري فساد په خلاف بوخت دي. د سيګار تحقيق کوونکي او څارنوالان په متحده ايالاتو او افغانستان کې د قانون نافذ کوونکو فدارلي ادارو کې له خپلو همکارانو سره په ګډه او له نيژدې کار کوي.




**د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی،** بريد جنرال آنلډ فيلډز (متقاعد) د ملي شورا د ملي امنيت او بهرنيو چارو د جرګګی په وړاندې د شاهدي ورکولو په حال کې، د سپتمبر ۹، ۲۰۰۹. (C-SPAN)

# د امريکا د متحده ايالاتو دولت لخوا د افغانستان د ملاتړ لپاره د ملکي - نظامي کمپيان پلان انسجام

د اګست په مياشت کې د متحده ايالاتو سفارت، کابل او USFOR-A يو نوی تنظيم شوي ملکي ـ نظامي پلان خپور کړ چې د مشن فعاليتونه تنظيم کړي او د القاعدې د ورانولو، ويجاړولو، او پای کې ماتي ورکولو له پاره د متحده ايالاتو پراخ ستراتيژيک هدف ترلاسه شي. دا پلان ټينګار کوي چې «د افغانستان د خلکو د امنيت، چمتو کولو او ملاتړ لپاره بايد هر عمل تر سره شي چې ياغيانو ته ماتي ورکړي او يو اغيزمن دولت جوړ کړي»، ۷ پرنسيپونه بيانوي، له ياغيانو سره د مبارزې لپاره ۱۱ «بدلونونکي اغيزې» په نښه کوي، او د هغې ستراتيژي عمده ټکي را په ګوته کوي چې بايد په راتلونکو دري کلونو کې په ياد شويو ۱۱ ځانګو کې د افغانستان د ثبات لپاره ترسره شي. د امريکا د متحده ايالاتو په نوي ستراتيژي سربيره، دا پلان د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي، د افغانستان تړون، او د ناټو عملياتي پلانونو څخه د لارښووني په موخه کار اخلي.

اصلي پرنسيپونه په لاندې توګه دي: ۱) د افغانستان ظرفيتونو ته وده ورکول؛ ۲) په ټيټه کچه دولتي ادارو ته لا ډيره پاملرنه کول، چيري چې ياغيان د تشدد له لاري او له دولت څخه د خلکو د نه رضايت څخه په ناوړه ګټه اخيستلو پياوړي کيږي؛ ۳) په ملي او ولايتي سطحو کې د ملکي او پوځي پلانونو انسجام چې له افغانستان سره مرسته وکړي؛ ۴) له نړيوالي ټولني سره په تيژذي همکاري او همغږي کار کول؛ ۵) په ساحه کې کار کوونکو ملکي او پوځي ټيمونو ته د لارښوونو، منابعو برابرول او صلاحيت ورکول؛ ۶) د افغانستان خلکو ته د رښتيوني ترقي او پرمختګ څرګندول؛ او ۷) دولتي حساب ورکوني او شفافيت ته وده ورکول.

د پلان ۱۱ بدلونونکي اغيزي، د امنيت، دولتداري، او پرمختګ په برخو کې د متحده ايالاتو د بيا رغوني لومړيتوبونه جوړوي. د امريکا د متحده ايالاتو کارکوونکي دا دنده لري چې، له افغانانو سره په ګډه، په سيمييزه، ولايتي او ملي سطحو دا پروګرامونه تطبيق کړي. دا پلان په ځانګړي توګه لومړيو دريو بدلونونکو اغيزو ته ډير اهيمت ورکوي: د اوسيدونکو امنيت، ټاکني او د دولتداري دوام، او د مسؤول او روښانه دولت پراخوال.

دا پلان په څلور سيمو -شمال، جنوب، ختيځ، لويديځ-او کابل کې بيلي غښتلتياوي په نظر کې نيسي. دا په هره سيمه کې ترجيجات ټاکي، او د اړتيا وړ ملکي-نظامي کړني را په ګوته کوي، لکه چې ښي خوا ته په نقشه کې ښودل شوي دي.



د افغانستان خلکو ته د امنيت په راوستلو کې د متحده ايالاتو هڅي به د هلمند، کندهار، خوست، پکتيا، او پکتيکا په مهمو ولايتونو متمرکز وي، چيري چې ياغيان تر ټولو ډير فغال دي. په جنګي عملياتو باندې د دوباره تمرکز برسيره، دا پلان د لا ستر، لا وړ، او لا مسلکي افغاني ملي امنيتي پوځونو غوښتنه کوي. ډير ټينګار به له سيمييزو ټولنو سره د هغوی لخوا د خپل امنيت د ساتلو په اړه د ګډ کار کولو په اړه وي.

نړيوالي ټولني په کافي اندازه مرستي د ټاکنو لپاره ورکړی دي، چې د داسي يوه دولت په جوړولو پای ومومي چې د خپلو اوسيدونکو او خلکو په سترګو کې قانوني وي. د دي کمپيان له پلان سره سم، د موسساتو د ظرفيت جوړولو او مسؤوليت پراخولو لپاره به يو نوی پروګرام په لار واچول شي تر څو د افغانستان له حکومت سره د يوي واضع اجنډا يا تګلاري په جوړولو کې مرسته وکړي. دا کار به د متحده ايالاتو، نړيوالي ټولني، او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ترمينځ، او همدا رنګه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د افغانانو تر مينځ د يوه نوي ګډون او شراکت غوښتنه کوي. ډيره پاملرنه به سياسي حل ته ورکول کيږي، چې د دوباره انسجام پروګرام ته د پراختيا ورکول او بخښني په کې شامل دي.

## ۱۱ بدلونونکي اغيزي

- د خلکو امنيت
- ټاکني او د دولتداري دوام
- د مسؤول او روښانه دولتداري پراخول
- د معلوماتو د غوښتلو د حق پيلول
- عدالت ته لاسرسي
- د نه پخلا کيدونکو په خلاف عمل
- د تحمل وړ کارونو جوړول
- د زراعت فرصتونه او مارکيټ ته لاسرسي
- د جرمونو، اداري فساد، مخدره موادو او ياغيانو په خلاف مبارزه کول
- دولت او د سيمي تر سرپرستي لاندې انسجام
- سرحدونو ته لاسرسي د تجارت لپاره، نه د ياغيانو لپاره

# د ANDS په اړه لومړنی کلنی راپور

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ANDS) چې د ۲۰۰۸ کال د اپريل په مياشت کې د افغانستان ولسمشر تصويب کړه او د ۲۰۰۸ کال د جون په مياشت کې د نړيوالې ټولنې لخوا تصديق شوه، د دريو پراخو ستو په اساس ترتيب شوي ده - امنيت، دولتداري، او اقتصادي او ټولنيز پراختيا - چې ۸ لاندينې ستنې، ۱۷ سکټورونه او ۶ لنډي موضوع ګانې له ځانه سره لري. د ANDS د تطبيق کولو په اړه په لومړني کلني راپور کې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت راپور ورکوي چې په نيژدې ټولو برخو کې ځينې پرمختګونه شوي دي، او خبرداری يې ورکړ چې دولت او نړيوال ملګري اوس هم لا له ډيرو سترو ننګونو سره، په ځانګړي توګه د دولتداري او امنيت په ځانګو کې، مخ دي.

په تير کال کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تاسيساتو لپاره د چوکاټ په جوړولو تمرکز درلود چې د ANDS د موخو د ترلاسه کولو لپاره ملي کوششونه وارزوي. په وزارتخانو کې د «سکټور د پاليو چوکاټونه» تاسيس کړی شوي دي، چې پرمختيايي فعاليتونه، د هغوی له پاليلو او لاس ته راوړنو سره يو ځای په ګوته کوي. د دي راپور په اساس، دا وزارتخاني اوس خپل پروګرامونه سره يو ځای کوي، چې د ANDS د اهدافو په لاس ته راوړلو کې برخه واخلي.

دا راپور په خپلو مشاهدو کې نوټ کوي چې د سکټور د ستراتيژيو اغيزمن په لار اچول، د ډيرو وزارتخانو، عامه ادارو او نورو داخلي او نړيوالي ملګرو تر منځ د نيژدي همکاري غوښتنه کوي، او دا چې «دا يو پيچلی ترون دی چې د پروسي د مديريت په ټولو سطحو کې د وړ او مناسبي رهبري غوښتنه کوي.» راپور زياتوي چې «د نتايجو مديريت، د پلانونو جوړول، د مديريت او تنظيم تطبيق کول، او د هغو د پاليلو نظارت لپاره د حکومت په داخل کې اوسنی ظرفيت په کاميابي سره د دغو کارونو د ترسره کولو لپاره کافي نه دی." په دی کلني راپور کې د ANDS لاس ته راوړني په ګوته شوي دي.

## امنيت

د ANDS په بارو سره د اقتصادي پرمختګ لپاره امنيت يو مخکيني شرط دي. راپور دا خبره مني چې د تير يو کال په موده کې امنيتي وضعيت مخ په خرابيدو دی، خو ځيني مثبتي پرمختياوي هم راپيژني:

- د ملي امنيت کرنلاره جوړه شوي ده، چې لا ښه امنيت د ترلاسه کولو لپاره د افغاني او نړيوالو امنيتي ځواکونو سره تر منځ همغږي رامنځ ته کړي.
- د افغانستان ملي اردو او افغانستان ملي پوليسو د پياوړي کولو پروسه له پلان سره سم پرمختګ کوي، او د روزني امکانات په ملي او ولايتي کچو پراخ شوي دي.
- د ملي امنيت د نوي پاليسي او د همغږي ۱۵ سيمييزو مرکزونو په جوړولو سره د افغانستان د امنيتي ځواکونو تر مينځ همکاري او همغږي ښه شوي ده.
- له ۲۵ په سلو کې د نظر وړ سيمو څخه ماينونه او ناچاودل شوي مواد پاک شوي دي.

ان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ای این ډي ایس)



## دولتداري

د دولتداري په لومړيتوبونو کې د ديموکراتيکې پروسې پياوړي کول، خلکو ته د عامه خدماتو ښه رسول، د قانون د حکومت تاسيس کول، عدل او انصاف ته د لاسرسي زياتول، او د اداري فساد مخنيول شامل دي. د دې راپور له وينا سره سم، په لاندې برخو کې برابر پرمختګ شوی دی:

- ملي شورا ۵۳ نوي قوانين تصويب کړل، چې په هغوی کې د اوبو قانون او د اداري فساد ضد قانون او همدا رنګه نور د شرکتونو، مينځګړيتوب، فکري ملکيت، او د امتياز حق اړوند قوانين شامل دي.
- دولت رايه ورکوونکي ثبت کړل او ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکني يې ترسره کړي.
- د تخنيکي قانوني زده کړي د برابرولو په موخه د قانوني زده کړي خپلواک ملي مرکز تاسيس کړی شو.
- د قانون پوهانو خپلواکه ټولنه خلکو ته د قانوني مرستو د برابرولو په موخه تاسيس کړي شوه.

## اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

د ANDS تر ټولو ستري برخي په توګه، دا ۶ لانديني برخي او ۱۳ سکټوره لري. په لانديني برخو کې دا لاندې برخي شاملي دي: انفراسترکچر او طبيعي منابع، ښوونه او روزنه او فرهنګ، روغتيا، زراعت او کليو پراختيا، ټولنيزه ساتنه، او اقتصادي دولتداري. په راپور کې روغتيا او ښوونه او روزنه د هغو برخو په توګه په ګوته شوي دي چې تر ټولو ستر پرمختګونه يې کړي دي. په راپور کې د لوړ اهيمت لرونکو سکټورونو برښنا، د اوبو د منابعو مديريت، ترانسپورټ، او تر ځمکي لاندې ماينونو په اړه د مثبتي پرمختيا يادونه شوې ده او دا لاندې برخي د يادوني وړ بولي:

- د هيواد په سلو کې ۸۵ خلک ابتدايي روغتيايي خدمتونو ته لاسرسي لري.
- ۲۹۱ روغتيايي کيلنيکونه او ګرځنده مرکزونه جوړ کړی شوي دي.
- د واکسين کولو پروګرام د هيواد په سلو کې ۹۵ تر پينځو کلونو ښکته ماشومان تر پوښښ لاندې نيسي.
- د ښوونځيو شمير ۱۱۰۰۰ ته لوړ شو، چې په هغوی کې ۶۰۷۲ لومړني ښوونځي، ۳۰۶۲ منځني ښوونځي، او ۱۸۶۶ ليسي دي.
- نيژدي ۶۱ ميليونه توکه درسي کتابونه - چې ۳۹ ميليونه توکه د لومړنيو ښوونځيو او ۲۲.۸ ميليونه توکه د ليسي ښوونځيو لپاره دی- چاپ او توزيع شول.
- اټکل ۳۱۷۰۰۰ افغانان، چې ۳۶ په سلو کې ښځينه دي، د سواد د زده کړي له پروګرامونو فارغ شول.
- د برېښنا مجموعي توليد په کال ۲۰۰۷ کې له ۴۸۵ ميګاواټه په کال ۲۰۰۹ کې ۶۳۰ ميګاواټه ته لوړه شوي ده (چې په دې کې وارد شوي برېښنا هم شامله ده).
- د برېښنا د توليد د څو سترو بندونو د جوړولو په موخه تفصيلي مطالعه او څېړنه بشپړه شوي ده.
- د اوبو د رسولو نيژدي ۱۳۰۰۰ شبکي جوړي شوي ده او نيژدي ۲.۸ ميليونه کليوالو خلکو ته د څښلو پاکي پاکي برابروي.
- په تېرو کچه د اوبه لګولو سيستمونو ښه کول په ۱۸۹۱ کليو کې ۶۴۴۷۷۷ کورنيو ته ګټه رسولې ده.
- د زراعت په برخه کې پرمختياوي کروندګرو ته د ۵۳۰۰۰ ټنه د غنمو تخمونه او کيمياوي سري ويشل، د ۷۷۰ باغونو جوړيدل، د ۵۸۸ د پستي د ځنګلونو دوباره جوړول، او د ۳.۲ ميليونه نيالګيو ويشل شامل دي.
- د ۳۳۹ کيلومتره مربع ځمکي سروي د ګازو ۵۰۰ ساحي او ۴۰۰ د ځمکي لاندې کانونه په نښه کړل.

ANDS د سړکونو د شبکي جوړول ته لومړيتوب ورکوي، چې خلکو ته د افغانستان دننه د تګ را تګ او له ګاونډيو هيوادونو سره د هيواد د نښلولو آسانتياوي برابروي. اټکل ۲۹۱ کيلومتره سيمييز سړکونه بشپړ شوي دي. خو سره له دې هم، د ANDS راپور دا خبره په ګوته کوي چې د سړکونو د ساتني او ترميم له پاره له مالي لحاظه د منلو وړ سيستم په جوړولو کې پرمختګ نه دی شوی.

د راپور مطابق، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د لګښتونو ترجيحات د اوس لپاره د ANDS مطابق دي، خو مرسته کوونکي هيوادونه يې نه تمويل کوي، او يو علت يې دا هم دی چې د پرمختيايي بوديجې لپاره نړيواله مرسته کمه شوي ده. په ۲۰۰۸ کال کې، نړيوالي ټولنې د ANDS د پروژو څخه د ملاتړ لپاره د اټکل ۲۱ ميلياردو ډالرو ژمنه کړی وه خو له دې جملې نه يې ۷ ميلياردو ډالر د مخکنيو ژمنو برخه وه. له دې سره يوازې ۱۳.۹ ميلياردو ډالر په نويو منابعو کې پاتي شول. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اټکل کوي چې هغوی به د ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کال د پرمختيايي بودجي لپاره له ۳.۲ ميلياردو ډالرو له کمښت سره مخ وي.

**د افغانستان ملي اردو (ANA) د سرتیرو روزنه**
یو افغان پوځي افسر کوارډینات بیانوي چې د ویشتلو په ژوندي تمریناتو کې چې په هغوی کې د افغان ملي اردو د ځلورم کنډک مخکښ کتونکو، د ویشتلو د لوري د کنټرول پرسونل، او درنو وسلو کسانو د نورستان ولایت دکله کوش په مخکښ عملیاتي قرارګاه کې برخه اخیستي وه. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، بریډمن متیو مویلر)

# 2 سیکار
# نظارت



"د امریکا د متحده ایالاتو او مرستندویانو پانګې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ضروري دي....د بیا رغونې لپاره د ورکړ شویو بودیجو له زیاتیدلو سره، او په هغه کې د شاملو ارګانونو د شمیر له پراخیدلو سره، د پروګرام انسجام نور هم ستونزمن کیږي. د نظارت اړتیا، نه یوازي د قراردادونو د پروسي، د پروګرام د سمبالښت، او د کیفیت د ډاډینې لپاره، بلکې دا هم چې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي پروګرامونه د متحده ایالاتو د پرمختګ له پالیسي سره په یوه لیکه دي...،
هم ډیر شوي دي."

برید جنرال (متقاعد) ارنلډ فیلډز
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

سرچینه: د مشرانو جرګې د ملي امنیت او بهرنیو چارو د جرګه کی په وړاندې شهادت، ۲۰۰۹\۹\۹.

# پلټنې

په دې دريو مياشتو کې سيګار د پلټنو ۵ راپورونه خپاره کړل او ۱۰ نور راپورونه تر کار لاندې لري. د پلټنو دري راپورونه د يو لړ هغو مسالو په اړه دی چې د بيا رغوني د پروګرام د اغيرمن تطبيق لپاره اړين دي. په دې مسالو کې نه يوازې د قرارداد نظارت، د پروګرام اداره کول، او د قراردادي د کار ترسره کول شامل دي، بلکه همدا رنګه دا هم ښيي چې د بيا رغوني کومې پروژې چې ماليي ورکوونکو په ډالرو تمويل شوې دي، د امريکا له متحده ايالاتو سره په افغانستان کې د خپلو ستراتيژيکو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. په تيرو دريو مياشتو خپاره شوي د پلټنو دوه راپورونه د اګست د ۲۰ مې نيټې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو اغيزې ارزيابي کړي، کومې چې د متحده ايالاتو له خوا د قانوني حکومت د تاسيس او جوړولو لپاره ضروري بلل شوي دي.

## د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

په دې دريو مياشتو کې بشپړ شوي د پلټنو څلور راپورونه د دولتداري د سمون او اصلاح کولو لپاره د متحده ايالاتو هڅې ارزيابي کړي دي په دې کې دوه راپورونه د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په اړه او دوه د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په اړه دي. د پلټنې پنځم راپور د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) د مسؤليت ارزونه کوي. دا پروګرام په دې موخه جوړ شوی وه چې په لومړۍ مرحله کې د ټيټې کچې پروژې تمويل کړي چې په ولاياتو کې د بشري او بيا رغوني اړتياوو ته بيړنی ځواب ووايي.

## د افغان ټاکنيزو ظرفيتونو د ساتلو لپاره د اړتيا وړ ستراتيژي او منابع، د سيګار پلټنه ۰۶-۰۹ (ټاکنې)

نړيوالې ټولنې ۴۸۸ ميلونه امريکايي ډالر د اګست د ۲۰ مې نيټې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو څخه د ملاتړ لپاره د مرستې په توګه ورکړل. د امريکا متحده ايالاتو ۲۶۳ ميلونه امريکايي ډالر ورکړل، چې د ټولو ورکړل شويو پيسو تر نيمايي ډيره برخه جوړوي. ملګرو ملتونه (UN)، چې د نړيوالو مرستو ډيره برخه يې مصرف کړې دي، خپلې هڅې يې د فوري او عملياتي اړتياوو د پوره کولو لپاره متوجه کړې وې. په دې هڅو کې د مقرراتو او کړنلارو د پراختيا څخه ملاتړ، د لنډ مهاله کارکوونکو مقررول، د ټاکنيزو وسايلو او موادو برابرول، او د امنيت لپاره د پلان جوړولو انسجام شامل دي

د افغانستان د بنيادي ورتياوو پراختيا چې وکولای شي د اعتبار وړ ټاکنې ترسره کړي، د بياجوړوني او داسې يوه حکومت د ساتلو لپاره چې اوسيدونکي يې د مشروع دولت په توګه وپيژني، ضروري دي. د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون (IEC)، چې بايد په ۲۰۱۰ کال کې د ملي شورا او ولسواليو ټاکنې هم ترسره کړي، له سختو ننګونو سره مخ دی؛ د نړيوالې ټولنې له مرستې او ملاتړ پرته، هغوی د ټاکنو د اداره کولو لپاره د منابعو له نشتوالي سره مخ دي. د اعتبار وړ ټاکنو ترسره کول نه يوازې د ټاکنو د پروسې په سپڅلتوب پورې اړه لري بلکې د راتلونکي افغان دولت په رضايت او ورتيا پورې هم اړه لري چې د کميسيون ظرفيتونه لوړ کړي او په دې توګه د ټاکنيزې پروسې ډيموکراتيک اصول مراعات شي. سيګار ته معلومه شوه په داسې حال کې چې ملګري ملتونه د ظرفيت او ورتياوو د ودې اړتيا مني، هغوی تر اوسه پورې د ټاکنو د ظرفيت جوړولو لپاره اوږد مهاله

ستراتیژي نه ده جوړه کړې.

سیگار سپارښتنه کوي چې په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت، د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره (USAID) په مشوره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د یوه ستراتیژیک پلان په جوړولو کې مرسته وکړي چې د ټاکنو د ترسره کولو لپاره د افغانانو ظرفیتونه او وړتیاوې لوړې کړي. په دې پلان کې باید د افغانستان بودیجه او د بشري منابعو جوړښت شامل وي چې د د ټاکنو د پروسې د جاري ساتلو سره مرسته وکړي. سیگار همدا رنگه دا سپارښتنه کوی چې د متحده ایالاتو چارواکي په ملګرو ملتونو باندې ټینګار وکړي چې د ظرفیت د پراختیا مشاور مقرر کړي او یا اجراییه استازي وټاکي چې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون، ملګرو ملتونو، او لویه مرسته کوونکو او برخه لرونکو سره په ګډه یوه عمومي ستراتیژي جوړه کړي چې په افغانستان کې د ظرفیت جوړولو ټولو کوششونو پرمختګ او وضعیت تر څارنې لاندې ونیسي. په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او USAID دا سپارښتنې ومنلې او د دې خبرې پخلی یې وکړ چې هغوی به د دیپلوماتیکو او مرستو له لارو زیار وباسي چې دا سپارښتنې عملي کړي.

## په افغاني ټاکنو کې په لویه کچه د ښځو د ګډون په مخ کې خنډونه، د سیگار پلټنه ۱-۱۰ (ټاکنې)

سیگار د اګست د ۲۰ مې نیټې په ټاکنو کې د ښځو د ګډون کچه، او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له خوا د داسې یوه چاپیریال د جوړولو پراخوالی چې ښځې وکولای شي په آزادانه توګه رایه ورکړي، تر عمومي کتنې لاندې ونیول. سره له دې چې د افغانستان اساسي قانون د ښځو او نارینه لپاره د یو ډول حقوقو غوښتنه کوي او د افغانستان ملي پرمختیایی ستراتیژي (ANDS) په عامه چارو کې د ښځو په ګډون او برخه اخیستې باندې ټینګار کوي، سیگار ته روښانه شوه چې ښځینه کاندیداني او ښځینه رایه ورکوونکي له بې شمیره خنډونو سره مخ وي. نا امنه چاپیریال، له فرهنګي او دودیزو محدودیتونو سره په ګډه، په ټاکنو کې د رایې ورکولو، کمپاین چلولو او نوم ثبت کولو لپاره د ښځو وړتیا محدودې کړي. د ټاکنو کتونکو د لږ شمیر ښځینه رایې ورکوونکو راپور ورکړ. هغوی دا خبره یادداښت کړه چې هغو ښځو چې د رایې اچولو مرکزونو ته تللي وي، بعضې وختونه یې د هغوی د کورنیو او یا هم هغو کسانو چې د رایې اچونې په مرکزونو کې حاضر ول، په لاربنوونه رایې ورکړې. برسیره پردې، د ټاکنو کتونکې د داسې پیښو شاهد ول چې نارینه د ښځو په وکالت رایه ورکوي.

ډیرې ډلې، چې په هغوی کې ملي او نړیوال نادولتي ارګانونه (NGO)، ملګري ملتونه، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اداري هم شاملي دي، تر ټاکنو مخکې میاشتو کې د ملکې پوهاي پروګرامونه په لاره واچول، تر څو ښځې په ټاکنو کې برخه اخیستلو ته وهڅوي. سره له دې هم، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ملګري ملتونه په کافي اندازه د ښځو په مسالو باندې تمرکز نه درلود. د بیلګې په توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون له ۸۰،۰۰۰ کارکوونکو څخه چې هغوی د رایه اچونې مرکزونو لپاره ورته اړتیا درلودله، یوازې نیمایي یې استخدام کړل. په نتیجه کې، لږ تر لږ د رایه اچونې په ۶۵۰ مرکزونو کې (تر ۱۰ فیصده لږ ډیر) هیڅ ډول ښځینه کارکوونکي موجود نه وي.

سیگار سپارښتنه کوي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر، د ملګرو ملتونو په ملتیا، د ټاکنو په خپلواک کمیسیون باندې ټینګار وکړي چې اضافي ښځینه د ټاکنو کارکوونکي استخدام او روزنه ورکړي؛ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له کارکوونکو سره د ټاکنیزو قوانینو د پلي کولو په اهمیت باندې خبرې وکړي، کوم چې د بل چا په نیابت باندې رایه ورکول منع کوي؛ او د قانون سرغړونکو غندنه او راپور ورکړي. د دې لپاره چې د دې خبرې ضمانت وشي چې ښځې کولای شي له ویرې او ډار پرته په آزادانه توګه رایه ورکړي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید دا اطمینان ترلاسه کړي چې د نوم ثبتولو او رایې ورکولو مرکزونه امن دي، او دا چې د رایې ورکولو مرکزونه ښځینه کارکوونکي لري. د مدني زده کړې پراخو پروګرامونو ته اړتیا ده چې د ښځو د حقوقو په اړه پوهاوي عام

کړي تر څو په بشپړه توګه د ټاکنو په پروسه کې برخه واخلي.

USAID/افغانستان او د متحده ایالاتو د ادارو تر مینځ د ټاکنو ټیم د سیګار په راپور کې د سپارښتنو تصدیق وکړ. په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر به د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه په ټینګه وغواړي چې له ملګرو ملتونو سره په ګډه اړوند ضروري اصلاحات عملي کړي.

## د مخدره موادو په خلاف د انصاف مرکز د جوړولو په چارو کې د تاخیر د حل کولو لپاره د اقداماتو اړتیا، د سیګار پلټنه ۰۴-۰۹ (عدالتی سمونې)

په کابل کې د مخدره موادو و په خلاف د انصاف مرکز، چې د متحده ایالاتو او افغانانو لخوا د مخدره موادو په خلاف د کوششونو اصلي برخه ده، سږ کال پرانیستل شو، او لا د مخه د خپل ظرفیت سره سم کار کوي. د ۱۱ میلیونو ډالرو دا مرکز، کوم چې د مخدره موادو د مهمو دوسیو د تعقیب او مرافعي لپاره د افغانستان د یوازینی محکمي ټاټوبی دی، په بیړنی توګه د توقیف او ملاتړ اضافي تسهیلاتو ته اړتیا لري.

سیګار ته معلومه شوه چې د مرکز د پراخولو لپاره پلانونه د ناکافي پیسو او نامناسبو تسهیلاتو په وجه د ۱۸ میاشتو لپاره ځنډول شوی دي. د متحده ایالاتو د پوځي انجنیرانو قطعي تر اوسه و نشوای کړای چې د بهرنیو چارو د محکمي لخوا د منل شویو پیسو دننه، د ۲ میلونو ډالرو په ارزښت د ملاتړ له موافقه لیک سره سم د جوړولو لپاره مزایده ترلاسه کړي. برسیره پر دي، د دي تسهیلاتو پراخول د اوبو، د ناولو اوبو ایستلو، او بریښنا اړوند خدمتونو د نوي کولو غوښتنه کوي. که څه هم په لومړي سر کی د دي پروژي لپاره د ځانګړي شویو پیسو څخه ۱.۴ میلیونه ډالر پاتي دي، د انجینیرانو قطعي نه غوښتل چې دا پیسي مصرف کړي او دا خدمات نوي کړي، کوم چې د کار په اصلي مقصد کي شامل نه وو. دوي همدا رنګه په دي اړه چې آیا دا پیسي به اوس هم موجودي وی، اندیښنه درلوده.

د مخدره موادو په خلاف د کوششونو په اړه د دي مرکز اهمیت ته په کتلو سره، سیګار دا سپارښتنه کوي چې د دفاع محکمه د کار لومړنی مقصد اصلاح کړي او د خدمتونو نوي کول هم په هغي کي شامل کړي. سیګار همدا رنګه دا سپارښتنه کوی چې د بهرنیو چارو محکمه دی یا خو په موافقه کي ذکر شویو پیسو اندازه لوړه کړي چې د توقیف او ملاتړ تسهیلاتو جوړولو اضافي مصارف پوره کړي، او یا دي نوي موافقه لیک خپور کړي تر څو د اړتیا وړ پیسي په کي شامل وي.

د بهرنیو چارو د محکمي د مخدره موادو د نړیوال او قانون نافد کولو چارو اداره (INL) په عمومي توګه د راپور له لاس ته راوړنو او سپارښتنو سره موافقه لري خو په دي شرط باندې یي اعتراض وکړ چې پیسي دي د ملاتړ د موافقي یوې ځانګړي برخي ته محدودي کړای شي. سیګار دا خبره په نیت کي نه درلوده چې د پیسو میکانیزم دي محدود کړي او سپارښتني یي له هغي سره سم تعدیل کړي. د انجنیرانو قطعي د راپور له سپارښتنو سره ملتیا وښودله او روښانه یي کړه چې هغوی له INL سره له نیژدي کار کوی تر څو د ملاتړ د نوي تعدیل شوي موافقی سره سم د مخدره موادو په خلاف د انصاف مرکز د پراخولو کار له بشپړولو ډاډمن شي.

## د توقیف ځای د کړنلارو مستند کول به له ډاډ ورکولو سره مرسته وکړي چې د مخدره موادو خلاف د انصاف مرکز څخه له څرنګه چې په نظر کې وه کار اخیستل کیږي، د سیګار پلټنه ۰۷-۰۹ (عدالتي سمونې)

په داسي حال کي چې د مخدره موادو خلاف د انصاف مرکز په پراخولو کي د خنډونو علتونه ارزیابي کول، د سیګار پلټونکو دا خبره په ګوته کړه چې د ۲۰۰۹ کال په جولای کي د توقیف ځای ټولي کوټي د ټیټي درجي له بندیانو څخه ډکي شوي وي. د بهرنیو چارو او د عدلیي د وزارتونو د چارواکو له وینااو سره سم، دا مرکز، چې له یوه توقیف ځای، یوه محکمه، د قاضیانو او څارنوالانو لپاره دفترونه، او اړوند ملاتړي تسهیلاتو څخه تشکیل

شوی دی، د مخدره موادو د لوړي کچي د قاچاقبرانو لپاره جوړ شوی وه. د INL چارواکو څرګنده کړه چي ډیر عوامل، چي په هغوی کي په کابل ښار کي د عدلیي وزارت او کورنیو چارو وزارت پوري اړوند د توقیف مرکزونو کي د ډیرو زیاتو کسانو موجودیت، د دي سبب وه چي تر ډیره حده د مخدره موادو د ټیټي کچي قاچاقبران دي په توقیف ځای کي وي.

د عدلیي وزارت چارواکو څرګنده کړه چي د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر تر ۲۵ نیټي پوري، په دي مرکز کي دري مهم جنایتکاران اوسیږي، او مخکي هم ډیر نور مهم جنایکاران هلته اوسیدلي دي. د عدلیي وزارت ځینو چارواکو وویل چي د مخدره موادو د ټیټي کچي قاچاقبرانو محاکمه کول د لوړو او مهمو جنایتکارانو په اړه مهم او ګټور معلومات په لاس راکړي دي. سربیره پر دی، د عدلیي وزارت او INL چارواکو د دي خبرې پخلی وکړ چي د لوړي کچي هیڅ توقیف شوی کس هم د ځای د نشته والي په وجه مسترد شوي نه دي. خو سره له دي هم، دا مرکز هیڅ ډول لیکل شوی کړنلاري او مقررات نه لري، چي د مخدره موادو د منځنی او لوړي کچي قاچاقبرانو ته په توقیف ځای د کوټو له شتوالي اطمینان ورکړي.

له مجرمینو څخه د اغیزمن تحقیق ترسره کول او د هغوی قانوني تعقیب او محکمه بشپړول په دي پوري اړه لری چي تحقیق کوونکي او څارنوالان توقیف شوي کسانو ته ښه لاسرسي ولري. که چیري د مخدره موادو لوي مجرمین د مخدره موادو په خلاف د انصاف مرکز کي حاضر نه وي، دا به جنایي عدالت کارکوونکو ته او همدا رنګه د مخدره موادو مرکزي محکمي لپاره چي په کامیابي سره هغوی محاکمه کړي، کار نور هم ستونزمن کړي.

سیګار سپارښتنه کوي چي د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر دي د متحده ایالاتو او افغاني اړوند چارواکو سره کار وکړي، چي کړنلاري رسمي او مستند کړي او دا ډاډ ترلاسه شي چي د مخدره موادو په خلاف د انصاف مرکز د توقیف ځای تسهیلات د لومړیتوب حق د مخدره موادو د منځنی او لوړي کچي قاچاقبرانو ته ورکوي. په کابل کي د متحده ایالاتو سفارت د سیګار دا سپارښتنه ومنله چي په مرکز کي د بندیانو لپاره د ارزیابي کړنلاره رسمي کړي. د سفارت د پرمختیایي او اقتصادي چارو د همغږي کولو رییس څرګنده کړه چي د سیګار لخوا د ورکړ شویو سپارښتنو په اساس، اوسمهال یوه داسي پروسه تر کار لاندې ده چي د افغانستان د پولیسو د تحقیق کوونکو او څارنوالي د کارکوونکو او د مرکزي بندیخاني د ریاست مقام لخوا ترکار لاندې کړنلاري ارزیابي او رسمي کړي.

## په افغانستان کي د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام لپاره د لا ډیري څرګندتیا، څارني او پلان جوړولو اړتیا ده، د سیګار پلټنه ۰۵-۰۹ (د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام)

له ۲۰۰۴ کال راهیسي، ګانګریس د دفاع محکمي (DoD) ته د په افغانستان کي د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) لپاره ۱.۶ میلیارده ډالر ورکړي دي. د قوماندان د بیرنی ځواب پروګرام (CERP) د دي لپاره جوړ شوی وه چي په بنیادي توګه د وړي کچي پروژي تمویل کړي چي د سیمي او ولایت په سطحو باندي عاجلو بشري او بیارغوني اړتیاوو ته ځواب ووایي.

سیګار ته دا خبره جوته شوه چي که څه هم د دفاع محکمي داسي کړنلاري جوړي کړي دي چي د CERP لپاره د ورکړ شویو پیسو حساب ونیسي، خو هغوی د CERP ذ پروژو د عملي کولو او څارلو لپاره مناسب او وړ میکانیزمونه او طریقي نه دي عملي کړي. د پروګرام منیجرانو سیګار ته وویل چي د هغوی د تمرکز اصلي برخه د پروژو لپاره د بودیجو مقید کول وه نسبت دي ته چي د هغوی تطبیق کول تر څارني لاندي ونیسي. د پروګرام منیجران د CERP د پروژو په عملي کولو باندې محدود څرګندتیا لري، چي د هغي یو علت هم دا دی

چې د متحده ایالاتو ځواکونه-افغانستان (USFOR-A)، کوم چې CERP اداره کوي، په افغانستان کې د فزیکي دوسیو د ساتلو لپاره کوم مرکزي سیستم نه لري او بریښنایي سوابق یا خو نا مکمل دي او یا هم هیڅ وجود نه لري. د بیلګې په توګه، د پلټنې په جریان کې، د USFOR-A د پروګرام چارواکو نشوای کولای چې له مالي کال ۲۰۰۹ نه مخکې تمویل شوي د CERP د روانو پروژو شمیر وښایي.

سیګار ته همدا رنګه دا خبره جوته شوه چې د CERP پانګې مخ په زیاتیدونکي توګه د لوړو کچو پروژو لپاره ورکول کیږي، چې د هغوی مصرف ۵۰۰،۰۰۰ ډالره یا ډیر وي. په داسې حال کې د دې لوړو پروژو شمیر د ټولو پروژو یوازې ۳ په سلو کې برخه تشکیل کوي، خو هغوی د CERP د پانګو په سلو کې ۶۷ برخه مصرف کوي. دا پروژې د CERP لپاره مخ په زیاتیدونکي خطرونه متوجه کوي، ځکه دا پروژې عموماْ تر وړو پروژو ډیرې پیچلې دي او د بشپړولو لپاره ځو کلونو ته اړتیا لري. د CERP د پروګرام ډیر شمیر منیجران ته داسې زده کړه ورکړ شوی ده چې د وړې کچې پروژې تطبیق کړي. سربیره پر دې، د سرتیرو د نوبت مهال ویشونه د لویو، اوږد مهاله پروژو لپاره په دوامداره توګه د اداري په نشتوالي باندې پام مومي.

سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان دا لاندې ټکیو ته وده ورکړي او تطبیق کړي، ۱) یوه داسې پروسه چې په منظم ډول سره د CERP د پروژو په اړه معلومات را غونډ او تعقیب کړي، ۲) د سوابقو د ساتلو لپاره یو مرکزي سیسټم، او ۳) یو داسې پلان چې دي ته ځواب ووايي چې هغه پروژې چې ۵۰۰،۰۰۰ ډالر یا ډیر مصرف لري، له هغوی سره اړوند په ګوته شوي خطرونو څه ډول اداره کړي.

USFOR-A د راپور له لومړیو دوو لاس ته راوړنو سره موافقه درلودله او ځو اقدامات یې بیان کړل چې هغوی په پلان کې لري ترسره کړی او په ګوته شوي نیمګړتیاوې رفع کړي. په دې اقداماتو کې د CERP د اداري چارو د پرمختګ لپاره د پروژو د منیجرانو اضافه کول، د بریښنايي سوابقو د مقرراتو پیاوړې کول، د سوابقو په ساتلو کې د آسانتیا لپاره د معلوماتو ملکي منیجرانو اضافه کول، په یوه سیمه کې د پروژو د شمیر په اړه د محدودیت وضع کول، او د پیسو د تصویب با صلاحیته کسانو کمول شامل دي. دا اقدامات، که چیرې په بشپړه توګه تطبیق شي، د پروګرام خطر به راټیټ کړي.

USFOR-A له دې سره موافقه نه درلوده چې د ۵۰۰.۰۰۰ ډالرو یا لوړې پروژې د CERP لپاره خطر جوړوي. د سیګار د راپور مسودې ته په خپل ځواب کې USFOR-A څرګنده کړه چې د هغوی د لوړې کچې ډیرې پروژې سرکونه دي. "موږ د سرکونو ډیرې زیاتې پروژې تطبیق کړې دي چې نسبت به وړو پروژو ته موږ په هغوی باندې ښه پوهیږو." USFOR-A لیکي. "د پروژو تاریخچې ته په کتلو سره موږ پوهیږو چې په دقیق ډول سره یو کیلومتر سرک څومره مصرف دي، یو ټن شګې څومره مصرف لري، تر سرک لاندې د لښتې د تیرولو مصرف څرمره دی، او همداسې نور. په اوس وخت کې قرار دادیان د هغوی د وړتیا او کار د کیفیت له نظره پیژندل شوي دي." د USFOR-A ځواب نتیجه اخلي، " وړې پروژې کیدای شي ډیر مختلف ډولونه ولري، ځینې د لومړی ځل لپاره تطبیق کیږي، او ډیرې نورې هغه نیغ په نیغه ساختماني چارې دي چې له PPO [د پروژې د اخیستلو افسر] څخه دا غوښتنه کوي چې د تسهیلاتو، د تعمیراتو کوډونو، او د ځمکې د مالکیت د مسالو په اړه د کار کولو تجربه او پوهه ولري. دا مسالې د سرک د کار نسبت ته ډیرې زیاتې پیچلې دي."[5]

## رواني پلټنې

سیګار ۱۰ نورې پلټنې ترکار لاندې لري. دا پلټنې دامنیت، دولتداري او پراختیایي مسالو په اړه دي. پلټونکي دادارو کړنلارې، د قراردادي د کارونو سرته رسونه، د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستې، او د افغاني ادارو ظرفیتونه ارزوي.

## د بیا رغونې د بودیجو او پروژو لپاره د ادارو د مدیریت نظارت، کړنلارې، او پالیسیو بیا کتنه

سیګار یو لړ پلټنې ترسره کوي چې د دې خبرې ارزښت وټاکي چې تطبیق کوونکی اداري د بیا رغونې پروګرام څه ډول اداره کوي. درې پلټنې د يوې اداري لخوا د پروژو جوړول او اداره کول، د کار سرته رسولو د کچې معلومول، او د پیسو د ګردش د کنټرول او حساب ورکولو وړتیا ارزوي. سیګار مخکې د ګډې امنیتي انتقالي قومانده - افغانستان (CSTC-A's) لخوا د هغوی د خپلو پروګرامونو د نظارت په اړه راپور ورکړی وه. په هغه پلټنه کې چې اوس تر کار لاندې ده، سیګار د USAID نظارت تر کتنې لاندې نیولی دی.

## په افغانستان کې له لویس برجر ګروپ (Louis Berger Group) سره د USAID قراردادونه په اړه د اداري نظارت او د قراردادیانو د کار سرته رسولو بیا کتنه

دا پلټنه به هغه قراردادونه څرګند کړي چې USAID يې له لویس برجر ګروپ سره لري او د USAID لخوا د دې قراردادي نظارت ارزيابي کوي. د دې بیا کتنې د يوې برخې په توګه، سیګار د USAID د عمومي پلټونکي لخوا د لویس برجر ګروپ لخوا د ترسره شوي کار په اړه موندنې تحلیل کوي.

## د افغانستان د انرژي له سکټور سره د مرستې لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویه پروګرامونو بیا کتنه

د هغو پلټنو د لړۍ په لومړۍ کړۍ کې چې په دې سکټور کې د بیارغونې د پروژو ارزيابي کوي، سیګار د انرژي سکټور په برخه کې د متحده ایالاتو او نړیوالو پروګرامونه پلټنه کوي. دا پلټنه به

- د افغانستان د انرژي سکټور د بیا رغونې او جاري ساتلو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو موخې تشخیص کړي.
- دا پریکړه وکړي چې د کار د سرته رسولو د ارزونې لپاره کوم اصول کارول شوي دي چې آیا د پروژې اصلي موخې او پایلې په کافي اندازه تعقیب شوي دي
- د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي او نورو معیارونو په مقابل کې د انرژي سکټور د بیا رغونې کوششونو پایلې او پرمختګ ارزيابی کول
- د متحده ایالاتو او نړیوالو ادارو تر منځ د انرژي په سکټور کې د همغږۍ ارزيابي کول
- د بیا رغونې د پروګرامونو په پریکړو او تطبیقولو کې د افغانانو د ګډون ارزيابي کول

## په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د تیارۍ او سرته رسولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستو بیاکتنه

د ټاکنو د پروسې په اړه د راپورونو په لړۍ کې دا وروستی پلټنه

- د ټاکنو د پروسې لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو ټولې مرستې تشخیص کول
- د رایه ورکوونکو ثبت کول، د رايي ورکولو د مرکزونو امنیت، د رايي اچولو بکسونو سپیځلتوب، د رایو شمیرل، او د درغلیو د ادعاوو د حل کولو په برخو کې د مرستو عمومي اغیزمنتوب ارزيابي کول
- د بشپړې پروسې د پیاوړتیاوو او نیمګړتیاوو پیژندنه او د راتلونکو ټاکنو لپاره اخیستل شوي درسونه

## له اداري فساد سره د مبارزې لپاره د افغانستان د ظرفیت جوړولو لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د کوششونو بیا کتنه

سیګار یو لړ پلټنې پیل کړې دي چې په ملي سطحه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا د اداري فساد او نظارت په اړه د هغوی د ظرفیتونو بیا کتنه ترسره کړي. دا پلټنې به د افغانستان د ظرفیت د پیاوړې کولو لپاره چې وکولای شي منځنی کنټرولونه ترسره کړي اود بودیجو حساب ورکړي، د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو

کوششونه ارزيابی کړي. سيګار به په ځانګړي توګه خپله پاملرنه د افغاني چارواکو وړتيا ته راوګورځوی چې په ټاکل شوي وزارت خانو کې د متحده ايالاتو لخوا ورکړ شوي بوديجو حساب ورکړي. سيګار د افغانستان د نظارت تر ټولو لوړي اداري په توګه د نظارت د لوی دفتر (HOO) ظرفيتونه ارزيابي کوي. دا پلټنه به HOO ته د متحده ايالاتو او مرستندويانو مرستې راوپيژني، او څرګنده کړي چې دا مرستې تر کومه حده پوري اغيزمني وي.

## په ولايتونو کې له اداري فساد سره د مبارزې لپاره د افغانستان د ظرفيت جوړولو لپاره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د کوششونو بيا کتنه

سيګار يو لړ پلټني پيل کړي دي چې د ولايتونو په سطحه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا د اداري فساد او نظارت په اړه د هغوی د ظرفيتونو بيا کتنه ترسره کړي. دا پلټنې به د ولايتي دفترونو د ظرفيت د پياوړي کولو لپاره چې وکولای شي منځنی کنټرولونه ترسره کړي اود بوديجو حساب ورکړي، د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو کوششونه ارزيابی کړي. سيګار به په ولاياتو کې د فعاليتونو د ملاتړ لپاره کارول شوي د متحده ايالاتو د بوديجو د حساب ورکولو لپاره د ولايتي دفترونو ظرفيت ارزيابي کړي.

## په افغانستان کې د بيا رغونې د پروګرامونو لپاره د امنيت برابرولو لپاره د ادارو لخوا د قرارداديانو د استعمال بيا کتنه

سيګار يو کتنه ترلاس لاندې لري چې د هغو قراردادیانو شمير او اندازه معلومه کړي چې په افغانستان کې امنيتي خدمتونه وړاندې کوي. دا ارزونه به

- د امنيت په برخه کې د قراردادیانو او د هغوی د پرسونل شمير معلوم کړي
- د ادارو لخوا د امنيت په برخه کې د قراردادیانو او پرسونل اداره ارزيابي کړي
- دا پريکړه کول چې GAO او د ټولنې عمومي پلټونکي تر کومې کچې پوري د شخصي امنيتي قراردادونو پلټنې ترسره کړي دي

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وړتياوو ارزيابي کول

سيګار يوه پلټنه ترسره کوي چې د افغانانو لپاره د امنيت برابرولو لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) وړتيا معلومه کړي. دا پلټنه به

- هغه کړنلاره راوپيژني چې په هغې باندې د ANSF د وړتياوو اندازه ټاکل کيږي او تصديق کيږي
- هغه پراخوالی ارزيابي کړي چې د هغوی په اساس د چمتوالي د ارزيابي ميتود د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پوليس (ANP) تر منځ او د هغوی په دننه کې سره توپير لري
- دا پريکړه کول چې د وړتيا د اندازه کولو سيستم د افغان د ملي امنيتي ځواکونو د وړتياوو په اړه د باور وړ معلومات په لاس ورکوي
- د هغې اندازې معلومول چې د ANSF د وړتياوو د ارزيابي کولو لپاره د متحده ايالاتو وړتيا له ننګونو سره مخ کړي دي

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پرسونل د اداره کولو بيا کتنه

سيګار دا پلټنه ترسره کوي چې د پرسونل د اداره کولو لپاره د ANSF وړتيا ارزيابي کړي. دا پلټنه به لاندې ځانګي تشريح او ارزيابي کړي

- هغه کچه چې د هغې په اساس د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو پرسونل شميرل شوي او تصديق شوي دي
- د متحده ايالاتو او نړيوالو مرستندويانو لخوا د ANSF د پرسونل د شمير سيستمونو د ملاتړ لپاره ترسره شوي اقدامات

- د پرسونل د شمیرلو لپاره د عادي سیستمونو د بشپړولو او څارني سره اړوند ننګوني
- د هغې کچې معلومول چې د پرسونل ناسمو شمیرو له اضافي ننګونو سره مخ کړي دي، په ټکي سره د ANSF د معاشونو د ټولولو په شمول

## د افغاني ښځو او نجونو لپاره د بیل شویو بودیجو د کارولو بیاکتنه

سیګار دا پلټنه ترسره کوي چې دا خبره څرګنده کړي چې د ګانګرس لخوا د ښحو او نجونو لپاره بیل شوي د متحده ایالاتو بودیجې څه ډول کارول شوي دي او دا چې د هغوی استعمال د متحده ایالاتو له قانوني مقرراتو او غوښتنو سره تر کومې کچې مطابقت درلود. سیګار همدا رنګه دا خبره ارزیابي کوي چې اداري د دې پروګرامونو اغیزمنتوب څه ډول اندازه کوي، او دا چې د هغوی د جاري ساتلو څخه د اطمینان ترلاسه کولو لپاره څه ترسره کوي.

# معاینې

سیګار د افغانستان د بیارغوني پروژو معاینې ترسره کوي چې دا معلومه کړي چې آیا د متحده ایالاتو بودیجې په مناسبه توګه استعمالیږي، د قرارداد شرایط پوره شوي، مناسب او کافي نظارت کیږي، او دا چې وروسته له هغه چې پروژه افغاني چارواکو ته وسپارل شي هغه به جاري وساتل شي. په دې دریو میاشتو کې سیګار د معاینو پنځه راپورونه خپاره کړل او اووه معاینې تر کار لاندې لري.

په دې دریو میاشتو کې خپاره شوي د معاینې راپورونه د کاپیسا په ولایت کې یوه د سرک او څلور د ښوونځیو پروژې تر پوښښ لاندې نیسي. سیګار ځکه د سرک او ښوونځي جوړولو ته پام وکړ چې دواړه له اوږدې مودې راهیسې د بیارغوني لپاره لومړیتوب لري. د سیګار معاینو د بشپړ شویو پروژو د ساتلو لپاره د افغانانو د وړتیا په اړه اندیښنې په ګوته کړې دي.

له ۲۰۰۲ کال راهیسې، د امریکا متحده ایالاتو، د دفاع محکمې او USAID له لارې، اټکل ۱.۱۷ میلیارده امریکایي ډالر په افغانستان کې د سرک جوړولو پروژو لپاره ورکړي دي. له دې پیسو څخه له ۸۰۰ میلیونه ډالرو څخه زیاتې یې د CERP لخوا د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کلونو تر مینځ تمویل شوي دي. له ۲۰۰۵ کال راهیسې، د سرکونو جوړول د CERP د ټولې بودیجې په سلو کې ۶۳ برخه شمیرل شوي ده.

د افغانستان د زده کړې د موخو په ملاتړ کې، له ۲۰۰۲ کال راهیسې متحده ایالاتو په سلګونو ښوونځي او تعلیمي اداري په ټول هیواد کې جوړې کړې دي. د ختیځ سیمییزه قومانده-چې ۱۴ ولایات تر خپل وزر لاندې لري- د CERP له بودیجو څخه په کار اخیستلو د ښوونځي جوړولو له یوه ستر ابتکار سره موافقه وکړه. د دې ابتکار د یوې برخې په توګه، د تیرو ۱۸ میاشتو کې په موده کې په کاپیسا کې د ښوونځي جوړولو ۱۲ پروژې پیل شوي دي. هغه څلور ښوونځي چې سیګار معاینه کړل د نجراب په ولسوالی کې، چې د ولایت په زړه کې یوه لرې پرته، غښتلي او غریزه سیمه ده، موقعیت لري.

رواني معاینې د ولایتي بیا رغوني ټیمونو (PRT) ظرفیت ارزیابي کوي چې د بیا رغوني کوششونه، او همدا رنګه د انفراسترکچر د ځانګړو پروژو تطبیق اداره او تنظیم کړي. څنګه چې PRT د بیا رغوني د کوششونو په لومړۍ کرښه کې دي، دا معاینې به دا معلومه کړي چې آیا یو PRT

- د خپل بیا رغوني مشن د تنظیم لپاره په کافي اندازه کارکوونکي لري
- د متحده ایالاتو د بیا رغوني کوششونه له داخلي اداري ملګرو، ایتلافي ملګرو، افغاني چارواکو، او نورو برخه لرونکو سره منسجم او منظم کول
- په مناسب او کافي اندازه د پروژو اداره کول او د قرارداد د نظارت مسولیتونه سرته رسول
- د CERP له اړوند لارښوونو او د امنیت نړیوال مرستندویه ځواکونو له لارښوونو سره توافق لرل

- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د توان برابرول چې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي د انفراسټرکچر بنه والي او پرمختګ وساتي
- دا ډاډ ترلاسه کول چې کارونه د PRT راتلونکي قوماندانانو او کارکوونکو ته په اغيزمن سپارل کيږي

## بشپړي شوي معاينې

په دي دريو مياشتو کې، سيګار په کاپيسا کې د انفراسټرکچر د پروژو پنځه معاينې بشپړې کړي. يوه معاينه د سړک پروژه وه او څلور د ښوونځي جوړولو پروژي وي.

## په کاپيسا ولايت کي د محمود راقي تر نجراب پوري د سړک د پروژي معاينه: د قرارداد شرايط پوره شوي دي؛ خو د هغوي د دوامداري په اړه انديښني شته، د سيګار معاينه ٢-٠٩

سيګار د CERP لخوا تمويل شوي هغه پروژه معاينه کړه چې د ۲۸.۵ کيلومتره سړک جوړول دي او د کاپيسا ولايت مرکز، محمود راقي، له نجراب سره، کوم چې د ولايت په لري پرته سيمه کي ښارګوټي دی، نښلوي. د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم (PRT) د سړک جوړولو پلان له افغاني ولايتي چاراواکو سره په ګډه په ۲۰۰۸ کال جوړ کړ، کوم چې په دي ولايت کي د CERP لخوا تمويل شوي د ۱۳ اسفالټ شويو سړکونو د جوړولو د لوي پروګرام يوه برخه ده. د ولايتي بيارغوني ټيم د سړک جوړولو لپاره د ۶.۶ ميليونه ډالرو ثابت قيمت قرارداد يوي افغاني شرکت ته ورکړ. د اګست د مياشتي تر نيمايي پوري، کله چې سيګار خپله معاينه ترسره کړه، د سړک کار په سلو کي ۶۰ بشپړ شوی وه.

سيګار ته معلومه شوه چې ساختماني کار په وخت سره او په ابتدا کي آټکل شوي مصرف دننه پر مخ روان وه. افغاني قراردادي د کيفيت د کنټرول لپاره د منلو وړ کړنلاره څخه کار اخيسته. سره له دي، سيګار انديښنه لري چي دا پروژه به دوام ونکړي. که څه هم د کاپيسا د بيا رغوني ټيم (PRT) د کاپيسا ولايت د فوايد عامي له رياست څخه اطمينان ترلاسه کړي وه چې هغوی به د سړک څارنه وکړي، سيګار ته څرګنده شوه چې وزارت د قير شويو سړکونو د ساتني او ترميم لپاره د اړتيا وړ سامانونو، موادو او پرسونل له نشتوالي سره مخ دی. دا سړک داسي جوړيږي چې د ترميمولو ته له اړتيا لرلو مخکي پنځه کاله دوام وکړي، خو درونډ ترافيک، د درندو لاريو او زرهدارو نقليه وسايطو په شمول، احتمال لري چې د پنځو کلونو تر تيريدلو مخکې د سړک لوي برخې په کافي اندازه خرابي کړي. د دفاع محکمې د مالي چارو د مديريت مقررات (FMR) د دي اجازه نه ورکوي چې د CERP بوديجي دي د انفراسټرکچر د پروژو د ساتني او څارني لپاره ولګول شي. د CERP بوديجي د نظامي مقصدونو لپآره نه شي کارول کيدای. که څه هم د سړکونو لومړنی او اساسی موخه د افغانانو لپآره د ټرانسپورټيشن او اړيکو د اسانتياوو برابرول دي، د متحده ايالاتو لرډو هم له سړکونو څخه ګټه اخلي.

سيګار سپارښتنه کوي چې د کاپيسا د بيا رغوني ټيم او د متحده ايالاتو نوري اړوند اداري، د کاپيسا ولايت د فوايد عامي رياست سره په ګډه، داسي يو د منلو او تطبيق وړ پلان جوړ کړي چي د څارني او ترميم امکانات برابر کړي.

د سيګار د راپور د مسودي په ځواب کې، USFOR-A د دي راپور د معلوماتو له يوې برخي سره موافقه وښودله. هغه دي خبري ته اشاره کوی چې که څه هم FMR له قوماندان څخه دا غوښتنه کوي چې داړوند افغاني چاراواکو لخوا د بشپړو شويو پروژو د ساتلو لپاره د هغوی له تياري څخه ډاډ ترلاسه کړي، "ډير زيات شواهد شته چې افغانستان نشي کولای هغه پروژي چې موږ بشپړوو، وساتي."[6] "د بيا رغوني په اړه د پرمختګ کولو لپاره يو ناليکل شوي مسؤليت شته دی." USFOR-A ليکي. "موږ د FMR له مقرراتو سره سم جوړولو ته ادامه ورکوو له دي هيلی سره چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به يوه ورځ دا توان ولري چې د پروژو په



**په کاپيسا ولايت کي د محمود راقي** تر نجراب پوري سړک تر جوړولو مخکي. (انځور د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم)

ځارني سره د قرارداد خپله هغه برخه پوره کړي چې ويل يې د پروژو له سپارلو وروسته به هغه هغوی د ځارني او ساتني مسوليت په غاړه اخلي."[7]



**له محمود راقي تر نجراب پورې سړک باندې** قير اچول.
(انځور د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم)

## د کاپيسا په ولايت کې د فرخ شاه ښوونځي د جوړولو د پروژې معاينه: د قرارداد د ټولو مقرراتو له پوره کيدلو مخکي د پروژې بشپړول تصويب شول، د سيګار معاينه ۱-۱۰

د فرخ شاه د منځنی ښوونځي جوړول، چې د يوې لرې پرتي سيمي د مخ په زياتيدونکي اوسيدونکو د ماشومانو د خدمت لپاره جوړ شوی دی او کومو چې مخکي د مناسب ښوونځي آسانتياوو ته لاسرسی نه درلود، له قراردادیانو سره د بيا بيا ستونزو له امله دوه کاله کيږي چې ځنډول شوی دی. د کاپيسا د بيا رغوني ټيم (PRT) د ۲۰۰۷ کال په جنوري کې د CERP د بوديجي په کارولو سره د دي ښوونځي د پروژې لپاره ۱۵۰۰۰۰ ډالره منظور کړل. د لومړي قراردادي لخوا بشپړ شوي کار تر معيار ښکته وګڼل شو. د ۲۰۰۹کال د فبروري په مياشت کې دويم شرکت قرارداد په خپله غاړه واخيست، خو هغوی هم ونشوای کړای چې د منظور شوي بوديجي دننه د قرارداد له معيار سره سم پروژه بشپړه کړي. د ولايتي بيا رغوني ټيم د ۲۰۰۹ کال په مې کې دويم قرارداد فسخ کړ او له دريم قرارداد سره د ودانۍ د بشپړولو لپاره په تماس کې شول. د ولايتي بيا رغوني ټيم (PRT) د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۸ نيټه د پروژې د ټړلو راپور خپور کړ.

سيګار ته معلومه شوه چې ولايتي بيا رغوني ټيم (PRT) مخکي له دې چې له قرار داد سره سم د پروژې ټول کارونه بشپړ شوي وي، پروژه تړلې وه. په پاته شويو کارونو کې د ښوونځی د ودانۍ بشپړول، تشنابونه، د ساتونکو خونه، د برق بند، د اوبو پمپ، او د سيمي پاکول شامل دي. سيګار ته همدا رنګه په پروژه کې دوه نيمګړتياوي معلومي شوي چې کولای شي په اوږد مهال کې د ښوونځي د انفراسټرکچر پاته کيدل اغيزمن کړي. ناسمه درجه بندي، چې په هغوی کې د خاورې د توروني د اغيزو د لړولو لپاره د تيراسونو نشتوالی، او د خوندي ساتونکي ديوال نشتوالی به دا خطر ډير کړي چې د مځکي ښويدنه به احتمالاً د ښوونځي په ساحه کې بيلابيلې ودانۍ زيانمني کړي. سيګار باور لري چې دې دواړو خبرو ته بايد چمتوالی نيول شوی وای او د پروژې د کار په ساحه کې شامل شوي وای.

سيګار سپارښتنه کوي چې د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم (PRT) قوماندان

- يو تعقيبی قرارداد صادر کړی چې په راپور کې ياد شوي د جوړونې نيمګرتياوو ته ځواب ووايي
- د کار د تفصيلي سکوپ په پراخولو باندې نور هم ډير ټينګار وشي، چې د ډيزاين اړوند مهمو مسالو وړاندوينه وکړي او هغوی ته ځواب ووايي، کومي چې د هرې ساختماني پروژې لپاره ځانګړې دي او يوازې د ډيزاين په سټندرډ پلانونو باندې اکتفا ونشي.

د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم په دي راپور کې وړاندې شويو معلوماتو او سپارښتنو سره په عمومي توګه موافقه وکړه.

## د کاپيسا په ولايت کې د عبدالمنان ښوونځي د جوړولو د پروژې معاينه: نيمګړي پلان جوړول، د خونديتوب ستونزي، او کيفيت کمزوری کنترول د پروژې په پايلو اغيزه کوي، د سيګار معاينه ۲-۱۰

د ۲۰۰۸ کال په اوړي کې، د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم (PRT) يوه پروژه تر کار لاندې ونيوله چې د نجراب ولسوالی په لرې پرته سيمه کې د يوې دوه پوړيزې ښوونځی ودانی جوړه کړي چې ۸۰۰ زده کوونکو ته ځای ورکړي. په ښوونځي برسيره، د CERP لخوا تمويل شوي پروژې د يوې ودانۍ د جوړولو غوښتنه کوله چې په ډيزلو چليدونکي ۱۰ کيلوواټه جنراتور، لس تشنابه، په لاس په کار اچونکی د اوبو پمپ او ذخيره، د امنيت لپاره

له تیرو جوړ شوی دیوال، د ساتونکو کوټه ولري، او د پلي تګ راتګ کانکریټ لار ولري. همدا رنګه قرار دادي د ساحې د آماده کولو، د خښتو او اضافي موادو لرې کولو، او د ۸۰۰ زده کوونکو لپاره د میزونو د جوړولو او نصب کولو مسوولیت هم په غاړه درلود.

سیګار ته معلومه شوه چې پروژه په څرګنده توګه تر پروګرام ناوخته وه، بودیجه یې زیاته شوې وه، او په قرارداد کې د غوښتل شویو د کیفیت له معیارونو او د ښوونې او روزنې وزارت د ډیزاین له پلانونو سره موافقت نه درلود. همدا رنګه د سیګار معاینه کوونکو د ښوونځي د ودانۍ د جوړښت د بشپړتیا په اړه، چې د غره په ډډه کې پروت دی، خپله اندیښنه څرګنده کړه. قراردادي د خوندي ساتلو لپاره مناسب دیوال نه وه جوړ کړی، چې ښوونځی د اوبو د پورته کیدلو، د ډبرو راغورځیدلو، او د ځمکې د ښوییدلو په مقابل کې، چې هر پسرلی پیښیږي، خوندي کړي.

سیګار دا خبره نوټ کړه چې ستونزې د ۲۰۰۸ کال په سپټمبر کې د ولایت د ښوونې ریاست ته د قرار داد په ورکولو سره پیل شوې. د ۲۰۰۸ کال په منې کې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې لخوا چمتو شوې تعدیل شوې لارښوونې مهمې وزاتخانې د CERP لخوا تمویل شویو پروژو د قراردادونو له اخیستلو منع کوې. د کاپیسا ولایتي بیا رغوني ټیم (PRT) اړ شو چې قرارداد فسخ کړي، او له دې سره پروژه څو میاشتې ځنډول شوه. د ۲۰۰۹ کال په جنوري کې نوی قرارداد خپور شو. د ۲۰۰۹ کال تر مې پورې د پروژې مصرف له ۲۰۸.۰۰۰ ډالرو څخه ۲۵۰.۰۰۰ ډالرو ته لوړ شو، ځکه د کار اصلي سکوپ د ودانۍ څو برخې، لکه د ساتونکو ودانۍ او د چاپېریال دیوال نه درلودل، کوم چې د ښوونې وزارت د هر ښوونځي لپاره غواړي.

سیګار د ډیزاین په پلان کې څو مهمې نیمګړتیاوې په ګوته کړې او د خراب ساختماني کار ډیر مثالونه یې ثبت کړل. یو له ډیرو مهمو مسالو څخه دا ده چې په اوسني ډیزاین کې، دا ۱۰ تشنابونه د یوې ویالې د پاسه خالي کیږي کوم چې د سیمې د خلکو لپاره د څښاک اوبه ورکوي. که څه هم د بیا رغوني ټیم څو څو ځلې دا ستونزه له قراردادي سره مطرح کړه، د تشنابونو د جوړول کار په هماغه اصلي ځای کې اوس هم دوام لري.

سیګار سپارښتنه کوي چې قوماندان، USFOR-A او قوماندان، د کاپیسا د بیا رغوني ټیم

- داسې ګامونه اوچت کړي چې په راپور کې په ګوته شوې څو څو نیمګړتیاوې اصلاح کړي، او دا ډاډ ترلاسه کړي چې د دې پروژې لپاره د کار کولو قرارداد او د ډیزاین پلان مشخصو ساختماني غوښتنو ته ځواب وایې، لکه د ساحې موقعیت او د قراردادي وړتیاوې
- د کیفیت د ډاډیني معیاري لارښوونې جوړې کړي چې د دې پروژې او د CERP لخوا تمویل شویو نورو پروژو د اداره کولو لپاره وکارول شي

USFOR-A او د کاپیسا د ولایتي بیا رغوني ټیم له لومړی سپارښتنې سره موافقه وکړه. USFOR-A له دویمې سپارښتنې سره موافقه وکړه. د کاپیسا د ولایتي بیا رغوني ټیم له یوې برخې سره موافقه وکړه خو څرګنده یې کړه چې د کیفیت د ډاډیني پلانونه بیا چې په کافي اندازه نرم وي تر څو د ولایتي بیا رغوني ټیم انجنیرانو ته اجازه ورکړي چې د هرې پروژې له ځانګړو غوښتنو او اړتیاوو سره سم مشخص پلانونه جوړ کړي.

## د کاپیسا په ولایت کې د حبیب رحمان ښوونځي د جوړولو د پروژې معاینه: د ډیزاین او خوندیتوب مسالې پاملرنې ته اړتیا لري، د سیګار معاینه ۳-۱۰

د حبیب رحمان ښوونځي د ډیزاین پلان د دوه پوړیزه ودانۍ غوښتنه کوي چې ۲۴ درسي خونې ولري او ۲.۰۰۰ زده کوونکو ځای برابر کړي. د قرارداد په ورکولو کې د یو لړ ستونزو څخه وروسته، د ولایتي بیا رغوني ټیم د ۳۱۲.۰۰۰ ډالرو په ارزښت اوسنی قرارداد د ۲۰۰۸ کال په ډیسمبر کې ورکړ. د ښوونځی له ودانۍ برسیره، دا قرارداد د بریښنا د تولید د خونې جوړول، چې له ډیزلو څخه ۱۰ کیلو واټه بریښنا تولید کړي، یو تشناب، د اوبو

يوه لاسي بمبه او ذخيره، او کانکريټي پلي لارو غوښتنه کوي. قراردادي بايد ټولي خښتي/ډبري او نور پاتي شوي تعميراتي مواد له ساحي لري کړي.

سيګار ته معلومه شوه چي د دي پروژي د تطبيق کولو په لومړيو مرحلو کي د ولايتي بيا رغوني ټيم اداره او د کيفيت د ډاډيني پروګرام مناسب نه وه. دا پروژه د قرارداد په جريان کي له يو شمير تيروتنو، د پروژي د مستند کولو نشتوالي، او د کيفيت د کنټرول له ناکافي اقداماتو سره مخ شوه. خو سره له دي هم، د ۲۰۰۹ کال په جون او اګست کي له ساحي څخه د ليدني په مهال سيګار عمومي ښه والي او پرمختګ يادداښت کړ. سيګار ته جوته شوه چي د جوړولو کار تر ډيره بريده په وخت باندې او د ورکړ شوي بوديجي سره سم وه، او د ولايتي بيا رغوني ټيم لخوا د پروژي د اصلاح شوي نظارت په نتيجه کي په عمومي توګه د قرارداد د کيفيت غوښتني په ځای کوي.

سيګار دوه د اندېښني وړ برخي وموندلي چي پاملرنه غواړي. لومړی، په ساحه کي د مخکنيو ساختماني چارو څخه پاته شوي ناتکميل شوی کار د ډيزاين او خونديتوب په برخه کي د سترو ستونزو سبب ګرځي. قرارداد د دي غوښتنه نه کوي چي مخکيني ساختمان دی لری کړی شي، او اوس وخت د هغي د لري کولو لپاره هيڅ کوم پلان نشته دی. سيګار باور لري چي متروکه ودانی د ارزښت وړ ځای نيسي او کيدای شي د ډيرو نورو موخو لپاره وکارول شي. برسيره پر دي، په اوسنی بڼه د ښوونځي د زده کوونکو لپاره يو ناخوندي چاپيريال جوړوي. دويم، د خوندي کولو ديوال د ټينګولو نشتوالی او له هغي سره اړوند د ښوونځي په شا برخه کي د ځمکي د لري کولو کار، کوم چي د غونډۍ له بنسټ سره څنګ په څنګ دی، کيدای شي د ودانۍ د اوسيدونکو لپاره له احتمالي ډبرو او ځمکي ښوييدلو څخه خطر پيښ کړي.

USFOR-A او د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم د راپور له معلوماتو سره موافقه وکړه او له سپارښتنو ته يي تر يوه حده غاړه کينوده. د بيلګي په توګه، د بيا رغوني ټيم ومنله چي د ځينو نيمګړتياوو د سمون اړتيا ليدل کيږي، په ځانګړي توګه د شا ملاتړي ديوال. خو بيا هم، هغوی څرګنده کړه سيمه بيز دولت او د ټولني مشران نه



**په حبيب رحمان ښوونځي کي د مخکيني** ودانۍ ناتمام شوي کار نه دی لري شوي، چي په ډيزاين او خونديتوب کي د ستونزو سبب کيږي. (د سيګار انځور)

غواړي چې نيمګړی جوړ شوی ساختمان دي وران شي.

سيګار سپارښتنه کوي چې قوماندان، USFOR-A، او قوماندان، د کاپيسا د بيا رغوني ټيم، د CERP يوه پروژه پيل کړي چې ډيزاين اصلاح کړي او په راپور کې په ګوته شوي د خونديتوب نيمګرتياوي سمي کړي.

## د کاپيسا په ولايت کې د کوهي د نجونو ښوونځي د جوړولو د پروژې معاينه: په جوړولو کې د ځنډ ستونزه حل شوه، خو د خونديتوب په اړه اندنيښنې لا هم شته، د سيګار معاينه ۴-۱۰



**د حبيب رحمن ښوونځي د شا ديوال** د شا د ملاتړ ديوال نشتوالی ښيي، چې د ډبرو او ځمکي د ښوييدلو د احتمالي خطر سبب کيږي. (انځور د کاپيسا د ولايتي بيا رغونې ټيم)

د ۲۰۰۸ کال په اوړي کې د ولايتي حکومت له لوري د غوښتني له ترلاسه کولو وروسته، د کاپيسا د بيا رغونې ټيم د کوهي د نجونو د ښوونځي د جوړولو د پروژې لپاره يو پروپوزل آماده کړ. مقصد دا وه چې د هغو وړو نجونو لپاره د ښوونځي انګړ جوړ کړي چې په همدې سيمه کې اوسيدلي او چيرې چې هغوی رسمي ښوونې ته لاسرسي نه درلود.

په قراردادونو کې يو لړ ستونزي پيښي شوي، چې په هغوی کې په نامناسبه توګه د ولايت د ښوونې او روزنې رييس ته د قرارداد ورکول کوم چې د CERP د اصلاح شويو لارښوونو سره په ټکر کې وه، د ولايتي بيا رغوني ټيم دي ته اړ کړ چې د ۲۰۰۹ کال په جنوري کې د مزايدي تعديل شوي پروسه عملي کړي. د ۲۲۰.۰۰۰ ډالرو په ارزښت اوسنی قرارداد د ۲۰۰۹ کال په جنوري کې لاسليک شو. دا قرارداد د يوې دوه پوړيزي ودانۍ غوښتنه کوي چې ۱۶ درسي خوني ولري او د نجراب ولسوالۍ په قومي لحاظ ګوښه شوي افغانيه دره کې د ۵۰۰ زده کوونکو لپاره د زده کړي ځای برابر کړي. د ښوونځي له ودانۍ برسيره، دا قرارداد د برق د توليد خونه چې له ډيزلو څخه ۱۰کيلو واټه برق توليد کړي، يو تشناب، د اوبو لاسي بمبه او ذخيره، او کانکريټي لارو د جوړولو غوښته کوي. قراردادي بايد ټولي خښتي/ډبري او نور پاتي شوي تعميراتي مواد له ساحې لري کړي.

د ۲۰۰۹ کال په جون کې له ساحې څخه د سيګار د کتني په وخت کې پروژه نيژدې په سلو کې ۳۰ بشپړه شوي وه. سيګار دا خبره نوټ کړه چې پروژه د جوړولو په کار کې له ځنډ سره مخ ده، ځکه چې د ساختمان په لومړۍ مرحلو کې د پيسو د کموالي له امله قراردادي خپل کاريګر کم کړي وه. په اګست کې د سيګار د ورپسي ليدنو په مهال، وروسته له هغه چې د بيا رغونې ټيم تصديق کړ چې د پروژې د کار ۴۰ په سلو کې کار بشپړ شوی دی، قراردادي د پيسو دويمه برخه ترلاسه کړه. دي پيسو قراردادي ته اجازه ورکړه چې اضافي کارګران مقرر کړي او د جوړولو چاري ګړندۍ کړي. په پای کې، سيګار ته معلومه شوه چې په عمومي توګه کار د قرارداد له وخت، بوديجې، او سرته رسولو له غوښتنو سره په مخ ځي. سيګار همدا رنګه جګړي سره اړوند احتمالي خطرناک شيان په هغه سيمه کې وليدل چې د نجونو لپاره نوي ښوونځي او د هغه تر څنګ د هلکانو د ښوونځو لخوا په ګډه استفاده تري کيږي. سيګار باور لري چې د جګړي سره اړوند دي شيانو لري کول او نور خطرناک مواد بايد د قرارداد د کار په اصلي قرارداد ليک کې شامل شوي وه.

سيګار سپارښتنه کوي چې قوماندان، د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم، د کاپيسا له ولايتي چارواکو سره په ګډه، يو داسي پلان جوړ کړي چې د کوهي د نجونو له ښوونځي د ودانۍ له پروژې له سيمي څخه کوم چې د ولايت د پوهني د رياست له نورو تسهيلاتو سره ګډه ده، د جګړي پاتي شوی ناکاره مواد لري کړي.

د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم تر يوه حده د سيګار له سپارښتني سره موافقه وښودله. سره له دې، U-FOR-A او د کاپيسا د ولايتي بيا رغوني ټيم دا پوښتنه مطرح کړه چې آيا د CERP لارښووني د دي اجازه ورکوي چې د جګړي سره اړوند ناکاره پاتي شوي مواد له داسي يوي ساحي څخه لري شي کوم چې د پروژې ساحه نه وه.



**سيګار سپاربښتنه کوي چې** له جنګونو څخه پاتي احتمالي خطرناک شیان د کوهي د نجونو له ښوونځي څخه لري کړای شي. (د سيګار انځور)

## رواني معاینې

د سیګار اووه رواني معاینې د ولایتي بیا رغوني ټیم (PRT) وړتیاوي ارزیابي کوي او د انفراسټرکچر پروژې آزمويي.

## د ولایتي بیا رغوني ټیمونو (PRT) د اداري او عملیاتي وړتیاوو معاینې

سیګار اوسمهال د دوو ولایتي بیا رغوني ټیمونو (PRT) اداره او عملیات معاینه کوي: د کاپیسا د ولایتي بیا رغوني ټیم او د فراه د ولایتي بیا رغوني ټیم په همدې وخت کې چې سیګار د یوه ولایتي بیا رغوني ټیم (PRT) عمومي وړتیاوي ارزیابي کوي، د ولایتي بیا رغوني ټیم له خوا اداره شوي ځانګړو پروژو معاینې يې ترسره کړي. په کاپیسا کې، د مثال په توګه، سیګار هغه پینځه معاینې ترسره کړي چې په مخکینۍ برخه کې تر بحث لاندې ونیول شوي. د کاپیسا د ولایتي بیا رغوني ټیم د اداره او عملیاتو په اړه وروستی راپور به په راتلونکي دري میاشتي کې خپور شي. د فراه د ولایتي بیا رغوني ټیم د ارزوني سربیره، سیګار به د دوو ځانګړو پروژو په اړه د معاینې راپورونه خپاره کړي. د فراه د راډیو ټلویزیون د خپرونو سټوډیو او د تاج پل.

## د انفراسټرکچر د سترو پروژو معاینې

سیګار اوس مهال د انفراسټرکچر دري ستري پروژې معاینه کوي چې ۴۰۰ میلیونه ډالره ارزښت لري: دوه د ANSF مرکزونه چې د CSTC-A له خوا تمویل شوي او د کابل د بریښنا فابریکه، چې د USAID له خوا تمویل شوي ده. په هره قضیه کې به سیګار دا څرګنده کړي چې آیا

- قرارداد هغه مقررات او غوښتني چې د پروژې د جوړولو په جریان کې په نښه شوي وي، منعکس کوي
- د پروژې تطبیق کول د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او علاقمندو افغانانو سره منظم شوي دي
- کار د قرارداد له شرایطو سره سرته رسول کیږي
- د متحده ایالاتو دولت مناسب نظارت او د کیفیت ډاډینه وړاندې کوي
- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دا ظرفیت لري چې د پروژې له سپارلو وروسته د انفراسټرکچر ساتنه وکړي

# د سیګار ځانګړي شمیره

سیګار د ټیلیفون یوه ځانګړی شمیره لري چې فزیکي ځایونه یې په افغانستان او متحده ایالاتو کې دي تر څو د متحده ایالاتو او متحدینو نظامي او ملکي پرسونل، قراردادیان، افغان اوسیدونکو ته دا توان ورکړي چې د بیا رغوني د کوششونو اړوند د ضیاع، ټګي، او ناوړه استعمال په اړه خپل شکایات او ادعاووي ثبت کړي. د ځانګړي شمیرې شکایات کیدای شي د ټیلیفون، د سیګار ویب پاڼي (www.sigar.mil/fraud)، لیک، او یا هم مخامخ ثبت کړای شي. هر شکایت د مدیریت په ډیټابیس کې ثبت کیږي.

سیګار د ځانګړي شمیري د شکایاتو د بیاکتني کمیټه (HCRC) جوړه کړي ده، چې د ټولو شکایاتو په اړه د لومړي قضاوت کولو مسؤلیت په غاړه لري. HCRC هره اونۍ د شکایاتو کتنه ترسره کوی، او یو له لاندې ګامونو څخه عملي کوي:

- شکایت د سیګار یوه ډایرکټر ته سپاري چې اضافي معلومات را غونډ کړي
- شکایت یوي بلي اداري یا عمومي پلټونکي ته راجع کوي

انځور 2.1

ر د ځانګړي شميرې شکايتونه په دې درې مياشتو کې ترلاسه شوي




د سيګار د معاينو رياست، 2009\22\10

- شکايت تړل کيږي، ځکه چې يا خو د اعتماد وړ نه وي او يا هم ځکه چې سيګار نشي کولی د شکايت د ارزولو لپاره د اړتيا وړ لږ تر لږه معلومات راغونډ کړي.

د دې راپور د دورې په جريان کې، سيګار ۳۷ شکايتونه ترلاسه کړل. له دې شکايتونو څخه، ۱۶ يې د نورو تحقيقاتو لپاره د سيګار ډايرکټرانو ته ورکړ شوی دي، ۷ شکايتونه نورو اجنسيو يا عمومي پلټونکو ته راجع شوي دي، او يو يې لا اوس هم د معاينو د ډايرکټر تر کتنې لاندې دی، او ۱۳ نور يې تړل شوي دي. سيګار د ۱۶ شکايتونو څخه ۱۲ يې خپل د څېړنو او تحقيقاتو څانګې ته سپارلي دي چې د احتمالي جرمي فعاليت په اړه وکتل شي. پاتې څلور نور شکايتونه د سيګار نورو ډايرکټرانو ته سپارل شوي دي. په ادعاوو کې د ټاکنو درغلي، د قرارداد درغلي (په مزايده کې جعل کاري او د قيمت تثبيتول)، غلا، د تسليم شويو سامانونو او خدمتونو په مقابل کې د پيسو نه ورکول، بې انصافه تقرري، له خبر ورکوونکي څخه کسات اخيستل، او د متحده اياالاتو د ماليي ورکونو د پيسو ضايع کول شامل دي.

له هغه راهيسې چې د ۲۰۰۹ کال په مې کې ځانګړي شميره پيل کړه، سيګار ټولټال ۷۳ شکايتونه ترلاسه کړي دي. له دې شکاياتو نه، ۲۷ نورو ادارو ته راجع شوي دي، ۲۲ د لا زياتو څېړنو لپاره د سيګار دننه سپارل شوي دي، يو شکايت لا هم د څېړنو د ډايرکټر تر کتنې لاندې دی، او ۲۳ نور تړل شوي دي. انځور ۲.۱ ښکاروي چې شکايتونه څه ډول سپارل شوي وو.

# څېړنې

د څېړنو رياست په افغانستان کې د بيا رغونې د بوديج د استعمال اړوند د اداري فساد، دوکې، ضياع او ناوړه استعمال په اړه جرمي او ملکي څېړنې ترسره کوي. د سيګار څېړنې د عدليې د وزارت او قاضي ايډوکيټ جنرال د دفتر له لارې د اشخاصو د جرمي تعقيب او سزا ورکولو ملاتړ کوي. هغوی همدا رنګه د متحده اياالاتو د بيا رغونې د پانګو د ملکي بيرته لاس ته راوړلو آسانتيا د فدرال او پوځې عدالتونو لخوا په لاس کې ورکوي.

په دې دريو مياشتو کې، سيګار د څېړنو د يوه غښتلي ټيم جوړولو ته پاملرنه درلوده او د څېړنو له پاره يې يوه بشپړه ستراتيژي جوړه کړه چې له ټګۍ، ضايع او ناوړه استعمال سره مبارزه وکړي؛ اووه جرمي څېړنې يې پيل کړي؛ او د بدې اخيستلو په تور يې د دوو کسانو او يوې کمپنۍ له سزا ورکولو سره مرسته وکړه. سيګار اوسمهال د ۳۰ تر کار لاندې جرمي مسالو په څېړنو او همدا رنګه د ۵ نورو ادعاوو په ارزيابۍ بوخته ده.

## د څیرونکو کارکوونکو پراخیدنه

د هغو اضافي پیسو په مرسته چي په جون کي د مالي کال ۲۰۰۹ د اختصاصي بشپړونکي بودیجي په توګه د سیګار په اختیار کي ورکړ شوي، سیګار وکولای شول چي ۱۰ کسه مخکیني ځانګړي استازي مقرر کړي، چي په هغوی کي د فدرال د قانون نافذونکو او عمومي پلټونکي کمیټو څخه یو مرستیال عمومي پلټونکی هم دی تر څو د څیرنو ریاست تر نظر لاندې ولري. سیګار د څیرونکو یو داسي ټیم جوړوي چي د بیا رغوني اړوند د جرمي فعالیتونو د لټولو په اړه تجربه ولري. د سیګار څیرونکي په دولتي قراردادونو کي د ټګي، مالي فساد، مالي جرمونو، او پیسو لیږ رالیږد کي د ککړو کسانو په تعقیب او محاکمه کولو کي تخصص لري. هغوی د فدرال د قانون نافذولو او عمومي پلټونکو د کمیټو استازیتوب کوي، چي په هغوی کي د فدرال د تحقیقاتو اداره، د متحده ایالاتو د اردو د جرمي تحقیقاتو څانګه، د سمندري جرمونو د څیړنو خدمت، د داخلي عوایدو خدمت د جرمي تحقیقاتو څانګه، او د کورنیو چارو د بهرنیو چارو د وزارتونو د عمومي پلټونکو دفترونه شامل دي. سیګار اوس د اوو نورو ځانګړو استازو، دوو ځارنوالانو، دوه د عدلي استخباراتو تحلیل کوونکي، او یو د پروګرام د مدیر لپاره د کاندیدانو ارزیابي تر غور لاندې لري. انځور ۲.۲ ښکاروي چي د څیرنو ټیم څه ډول تنظیم او لیږل کیږي.

## د څیرني ستراتیژي

سیګار یوه څو اړخیزه ستراتیژي جوړه کړي چي دا ډاډ ترلاسه کړي چي د څیرني منابع په اغیزمنه او موثر توګه کارول کیږي. سیګار په نړیوالو قراردادونو کي د مالي فساد کاري ځواک (ICCTF) غړی دی، کوم چي په جنوب ختیځه آسیا کي د متحده ایالاتو د دولت د مصرف کولو اړوند قرار دادونو کي د ټګي او مالي فساد امکان وي د هغوی په خلاف د فدرالي قضیو د همغږي کولو لپاره اصلي ارګان دي.[8] د ICCTF د یوازیني غړي په توګه چي یوازیني دنده یي په افغانستان کي د متحده ایالاتو د بیا رغوني د بودیجو د استعمال اړوند د جرمي فعالیتونو څیړل او تحقیق

انځور 2.2

د څیرنو ریاست
سازماني جوړښت




سرچینه: د سیګار د څیرنو ریاست،2009\16\10.

کول دي، سيګار په ټول افغانستان کې په مهمو ځايونو کې مسلط حضور لري. د سيګار ځانګړي استازي ټولو ولاياتو ته استول کيږي چيرې د بيا رغوني د قراردادونو تر ټولو ډيره او د ارزښت وړ برخه سمبالول کيږي. ځانګړي استازي د بيا رغوني په کوششونو کې ککړ دولتي او شخصي موسساتو سره د نيغو اړيکو له لاري استخبارات او معلومات د څيړنو له پاره راغونډوي: د متحده ايالاتو دولتي چارواکي، قرارداديان، او افغان اوسيدونکي. د سيګار څيړونکي په تعرضي توګه ټول هغه معلومات چې د اداري د ځانګړي شميري له خوا ورته رسيږي، په کار اچوي. دوی همدا رنګه له دي تخصص څخه د سيګار د پلټني او معاينو په ځانګه کي کار اخلي تر څو د قرارداد بی نظمی او شکمن فعاليتونه تشخيص کړي. سيګار همدا رنګه له ICCTF سره خپل همغږی ته ادامه ورکوي تر څو استخبارات ترلاسه کړي، منابع سره شريک کړي، او ګډي څيړني ترسره کړي.

## د نړيوال قرارداد د مالي فسار کاري ځواک

ICCTF، چې په کابل، بګرام، او کندهار کي دفترونه لري، د دوسيو تحقيق ترسره کوي او د محاکمي او تعقيب لپاره يي د عدليي وزارت د دوکې د تعقيب ملي کاري ځواک نړيوالي جرګه کی ته راجع کوي. سيګار خپل ځانګړي استازي د ICCTF دغو دفترونه ته ليږلي دي چې په ټول افغانستان کې په ګډو تحقيقاتو کي د کاري ځواک له غړيو سره همکاري وکړي. د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر تر ۳۰مي نيټي پوري، ICCTF په فعاله توګه د ۳۸ جنايي قضيو تحقيق کاوه. سيګار د دي دوسيو په ۳۰ قضيو کي رهبري کوونکي اداره يا مشترک برخه لرونکي دی. په دي سربيره، سيګار د عراق د بيا رغوني لپاره ځانګړي پلټونکی (SIGIR) سره له نيژدي کار کوي تر څو د SIGIR د هدف وړ پلټنو او تحقيقاتو پيژندنه وکړي چې کيدای شي په افغانستان کي فعاليت کوي. د روانو دوسيو اوسنی حال په لاندي انځور کي ښودل شوی دی ۲.۳ انځور

## د څيړنو لاسته راوړنې

د راپور ورکولو په دي دوره کي، د ICCTF ګډې څيړني د دوو کسانو په محکوميت پای ته ورسيدي، په کومو چې د متحده ايالاتو مامورينو ته د بډي ورکولو د هڅي تور پري وه. په يوه بله دوسيه کي، د متحده ايالاتو دولت له دوو کسانو او يوې کمپنۍ سره موافقي ته ورسيد، کوم چې د بډي او دسيسي تور ورباندې وو.

د اګست په ۷مه نيټه، د افغان او متحده ايالاتو د دوه ګوني تابعيت درلودنکي کس په يوه جرم باندې اعتراف وکړ چې په افغانستان کي د متحده ايالاتو د اردو د قراردادونو چارواکي ته يي د ۱ ميليون ډالرو بډي ورکولو وړانديز کړي وه. د بډي ورکولو اتهام تر ۱۵ کلونو پوري د بند سزا او ۲۵۰،۰۰۰ ډالر او يا د بډي ورکولو د کچي دري برابره جريمي سزا لري. په نظر کي دي چې دا دوه کسان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۳مه نيټه محکوم شي.

د اګست په ۱۸مه او ۱۹مه نيټه، دوه کسان يوي موافقي ته ورسيدل چې په هغي سره د دفاع وزارت له لاسه تللي پيسي بيرته اعاده شي. د سپټمبر په ۲۴مه نيټه، هغي کمپنۍ چې دا دوه کسان يي مقرر کړي وه، هم د يوي موافقي منلو ته غاړه کيښوده. دي تورنو کسانو ومنله چې په ګډه سره تر ۶۰۰،۰۰۰ ډالرو پوري بيرته تاديه کړي او کيدای شي د محکمي لخوا تحميل شوي د جرمي جريمي وړ وګرځي چې ټولټال تر ۱ ميليون ډالرو ډيريږي. دا موافقي وروسته تر هغه وشوي چې د ۲۰۰۹کال په می کي جنايي تورونه ولګول شول چې تورن کسان يي په درغليو تورن کړل چې د پيسو غوښتنه زياته وښيي، او د عادلانه تعديلاتو د غوښتنو په توګه پيژندل کيږي، او دا چې د متحده ايالاتو د پوځ د انجينرانو قطعي چارواکو ته بډي ورکړي، کوم چې د پوځي قراردادونو او بيارغوني د خدماتو مسوليت په غاړه لري.

انځور 2.3

د سيګار څيړني د ترتيب په اساس

ټول: 30 دوسيې




يادونه: شميرې په ګردي کولو اغيزمني شوي دي.
سرچينه: سيګار، 10\15\2009.

# د سيګار بوديجه

کانګريس سيګار ته ۲۳.۲ ميليونه ډالره ورکړي دي چي په افغانستان کي د متحده ايالاتو د بيا رغوني د پراخيدونکو هڅو نظارت وکړي. په دي کي هغه ۷.۲ ميليونه ډالره هم شامل دي چي د ۲۰۰۹ مالي کال د بشپړونکي په توګه په جون ۲۰۰۹ کي منظور شوي وي. دا پيسي، چي د ۱۶ مياشتو د مودي لپاره ورکړ شوي وي، سيګار ته دا توان ورکړ چي اضافي پلټونکي، معاينه کوونکي، اوڅيرونکي وټاکي، او همدا رنګه په ۲۰۱۰ مالي کال کي سيمه ييز افغان کارکوونکي (ژباړن) مقرر کړي.

د ولسمشر لخوا د ۲۰۱۰ کال د بوديجي غوښتنه د سيګار لپاره د ۲۳ ميليونه اضافي ډالر څرګندوي. له ۷.۲ ميليونه ډالرو سره يو ځای چي لا له مخکي ځانګړي شوي دي، له دي سره به د سيګار ټوله بوديجه د ۲۰۱۰ مالي کال لپاره ۳۰.۲ ميليونه ډالره شي. دا بوديجي د سيګار لپاره اړيني دي چي وکولای شي د اړتيا وړ کارکوونکي په متحده ايالاتو او افغانستان کي مقرر کړي تر څو د ماليي ورکونو د ډالرو د ضياع، دوکي، او ناوړه استعمال کشف اومخنيوي وکړي. ۲.۱ جدول د بوديجو لنډيز ښکاروي.

2.1 جدول

| د سيګار د بوديجي لنډيز (په ميليونونو ډالر) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **اختصاصي** | **عمومي قانون** | **اختصاص شوي** | **موجود شوي** | **له وخته تيری** | **مبلغ** |
| د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره خانګړي بشپړونکي، HR2642 | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره خانګړي بشپړونکي، HR2642 | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| د غښتلي امنيت، د ناورين مرسته، او دوامداره اختصاصي لايحه، ۲۰۰۹ | P.L. 110329- | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د ۲۰۰۹مالي کال لپاره خانګړي بشپړونکي، HR2346 | P.L. 11132- | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| **ټول** | | | | | **$23.2** |

# د سیګار کارکوونکي

کانګرس ته د وروستي درې میاشتني راپور نه راهیسي، سیګار د فدرال کارکوونکو شمیر له ۴۴ نه ۵۷ ته لوړ کړی دی.[9] په دې کې ۵۳ هغه کارکوونکي دي چې د ۳۱۶۱ صلاحیت لاندې مقرر شوي دي، ۳ د دفاع محکمې د ټاکلې دندې لپاره، او یو کس له یوې بلې دولتي اداري څخه سیګار ته د ټاکلې دندې لپاره شامل دي. ۲.۲ جدول د کارکوونکو تفصیلات وړاندې کوي. د دې لپاره چې خپل د نظارت مشن بشپړ کړي، سیګار پلان لري چې خپل کارکوونکي په ۲۰۱۰ مالي کال کې ۱۱۸ کارکوونکو ته پراخ کړي.

سیګار په کابل کې د متحده ایالاتو له سفارت سره یوه موافقه لري چې تر ۳۲ پورې کارکوونکي په سفارت او درې په افغانستان کې په ګرځنده دفترونو کې ځای کړي. نیژدې نیمایي کارکوونکي په دایمي توګه په دې هیواد کې میشته دي. د دې لپاره چې د محدودې موجوده فضا څخه تر ټولو ښه استفاده وکړی شي، د اوسېدلو پاتې ځایونه د پلټونکو، معاینه کوونکو، او څېړنکو لپاره په نظر کې نیول شوي دي، کوم چې د مشخصو ماموریتونو د سرته رسولو لپاره په موقت ډول لیږل کیږي. کله چې د هغوی کار په افغانستان کې بشپړ شي، دا کسان د سیګار مرکزي دفتر ته راګرځي چې خپل لیکلي راپورنه پای ته ورسوي.

2.2 جدول

| د سیګار کارکوونکي | | | |
|---|---|---|---|
| دنده | اکتوبر 2008 | اوسنی | ۲۰۱۰ مالي کال (پلان شوي) |
| **د کارکوونکو سطحي، ټول** | | | |
| د استقبالیې دفتر | 2 | 3 | 6 |
| ځانګړي کارکوونکي | 0 | 6 | 6 |
| مخکیني ملاتړ | 2 | 4 | 4 |
| رییس | 3 | 7 | 16 |
| **ټول** | **7** | **20** | **32** |
| پلټنه | 0 | 16 | 28 |
| معاینه | 0 | 9 | 21 |
| څېړنه | 0 | 7 | 22 |
| د معلوماتو سمبالښت | 0 | 5 | 15 |
| **ټول** | **0** | **37** | **86** |
| **ټول** | **7** | **57** | |
| **د کارکوونکو سطحي، افغانستان*** | | | |
| مخکیني ملاتړ | 0 | 4 | |
| **ټول** | **0** | **4** | |
| پلټنه | 0 | 6 | |
| معاینه | 0 | 5 | |
| څېړنه | 0 | 3 | |
| **ټول** | **0** | **14** | |
| **ټول** | **0** | **18** | |

یادونه: *د دایمي TDY په ګډون.
سرچینه: سیګار، ۲۰۰۹/۱۳/۱۰.

**د ښځو رایې ورکول**

د راېې اچونې مرکز کارکوونکی د یوه رایې ورکوونکي ګوته په نه پاکیدونکي رنګ کې ډوبوي، چې وښیي دي ښځې خپله رایه اچولي ده. د رایې اچولو مرکزونه د جنسیت په اساس سره بیل شوي دي. (انځور په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت، ډان ویلکینسون)

# 3 د بيارغوني وروستي معلومات



"په عمومي ډول، [د افغانستان د دولت]
د لګښتونو ترجیحات د د افغانستان ملي
پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) سره سم
دي. خو د مرستندویانو مالي مرسته په
مناسب ډول [د افغانستان د دولت] د ترجیحاتو
سره سمون نه خوري."

-- د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) په
پلي کولو لومړنی کلنی راپور

# عمومي کتنه

۳مه برخه په افغانستان کې د بیا رغونې هڅو ته یوه بشپړه کتنه وړاندې کوي، په ګډون د ځمکني شرایطو ته د کتنې. د ملت د حالت دا کتنه د هغو لاسته راوړنو او ننګونو یوه پراخه زمینه وړاندې کوي چې د بیا رغونې پر مهال یې تجربې شوې دي.

دا برخه د افغانستان د بیا رغونې په هغو درېو ستنو تنظیم شوې ده چې د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ (ANDS) کې اېښودل شوې دي: امنیت، دولتداري، او اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا. د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه او جنسي برابري، دوه هغه مهمې ستنې چې دا درې ستنې اغېزمنې کوي، هم پکې بحث کېږي. د دې معلوماتو لپاره د ګرافونو کیلي پاڼه وګورئ چې چوکاټونه څرنګه د د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) د دې بحث د ښکاره کولو لپاره کارول کېږي.

## موضوعات

۳مه برخه دا څلور پراخ موضوعات بحث کوي: بودیجې، امنیت، دولتداري، او اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا. درې میاشتنۍ ښکاره کوونې – هغه لنډې برخې چې د بیا رغونې په یو واحد اړخ تمرکز کوي – د دې موضوعاتو دننه د اړونده مسلو په اړه معلومات یا ټرون ورزیاتوي.

د بودیجو حالت ضمني برخه هغو پیسو ته یوه جامع کتنه وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره یې ژمنه شوې او لګول شوې دي. دا د متحده ایالاتو د غټو بودیجو، نړیوالو مرستو، او د افغانستان د دولت د بودیجې په اړه مشخص معلومات ورکوي.

د امنیت ضمني برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو، په ګډون د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو، د فعالیتونو جزییات ورکوي. دا همداراز په افغانستان کې د امنیت د ښه کولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو په هڅو بحث کوي. دا برخه چېرته چې امکان لري، د امنیت لپاره په ټاکل شویو اهدافو کې د پرمختګ په اړه تازه حال وړاندې کوي.

د دولتدارۍ، د قانون د حاکمیت، او بشري حقونو ضمني برخه د ۲۰۰۹ د ټولټاکنو په اړه جزییات ورکوي، په ګډون د پایلو، د ټولټاکنو د امنیتي مسلو، او هغو نورو ننګونو چې تجربه یې شوې. دا برخه چېرته چې امکان لري، د قانون د حاکمیت، انصاف، او بشري حقونو په برخو کې د پرمختګ په اړه تازه حال وړاندې کوي. په دې کې همداراز دا دوه درې میاشتنۍ ښکاره کوونې شاملې دي: یوه د ۲۰۰۹ د پلټنې د پروسې په اړه او یوه د ۲۰۰٤ او ۲۰۰۹ د ټولټاکنو د تیاریو په اړه.

د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخه په هغو برخو کې د بیا رغونې د فعالیتونو په اړه بحث کوي چې د زراعت او ترانسپورت نه تر روغتیایي خدمتونو رسېږي. دا برخه چېرته چې امکان لري، په هغو مشخصو برخو کې چې بحث شوي د پرمختګ په اړه تازه حال ورکوي. په دې کې همداراز په افغانستان کې د مېرمنو په اړه یوه درې میاشتنۍ ښکاره کوونه شامله ده.

## اصولي طريقه

د ۳مي برخي بنسټ پر هغو معلوماتو دی چي د بهرنيو سرچينو لخوا برابر کړای شوي دي. مستثنی له هغو ځايونو چي د سيګار د پلټنو، معاينو، او يا څېړنو پکې په مشخص ډول حواله ورکړل شوې وي، د دې برخي هيڅ ډاټا هم د سيګار لخوا پلټل شوې، معاينه شوې، او يا څېړل شوې نده؛ او نه دا ډاټا د سيګار د نظرونو ځرګندونه کوي. دا معلومات د معلوماتو پوښتني ته د متحده اياالاتو د ادارې په ځواب کې او د پرانستي-سرچيني د تحقيق له لارې ترلاسه شوي دي. ټولي ډاټا ته په پايليکونو او چوکاټونو او انځورونو کې د هغو ادارو سرچينه ورکړل شوې ده د کومو لخوا چي راپور شوې ده. د سيګار د پلټنو، معاينو، او څېړنو لپاره وګورئ برخه ۲.

## د معلوماتو پوښتنه

د معلوماتو پوښتنه د پوښتنو يوه سلسله ده چي د متحده اياالاتو د ادارو نه شوې ده. د دې پوښتنو تمرکز د افغانستان د بيا رغونې په پروګرامونو او د افغانستان په ځمکنی وضعه دی. د متحده اياالاتو په هغو ادارو کې چي د دې درې مياشتني راپور د معلوماتو په پوښتنو کې يې برخه اخيستي دا شاملي دي:

- د بهرنيو چارو محکمه
- د دفاع محکمي د سکرتريت دفتر
- د دفاع محکمه
- د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده اياالاتو اداره (USAID)
- د متحده اياالاتو خزانه
- د سمندرپورې خصوصي پانګه اچونې کارپوريشن

ځواب ورکوونکيو ادارو ته د د راپور يوه ابتدايي مسوده له خپرېدو وړاندې ورکړای شوې وه څو دغه معلومات وګوري او يا يې تازه کړي.

## د پرانستي-سرچيني تحقيق

د پرانستي-سرچيني تحقيق د لاندې يو شمېر خپرو شويو راپورونو او ډاټا څخه تر ټولو وروستی، او په عامه کچ ترلاسه کېدونکي ډاټا ده:

- د متحده اياالاتو ټولې هغه ادارې چي د معلوماتو په پوښتنه کې استازيتوب ورکړل شوی
- ملګري ملتونه (او اړوند څانګې)
- نړيوال بانک
- د پيسو نړيوال صندوق
- د امنيت نړيوال مرستندويه ځواک (ايساف)
- د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کميسيون
- د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون
- د استخباراتو مرکزي اداره
- سپينه مانۍ

د پرانستي سرچيني زياته ډاټا په هغې ابتدايي مسوده کې شامله کړای شوې وه چي د متحده اياالاتو هغو ادارو ته له خپرېدو وړاندې د کتني لپاره لېږل شوې چي د پوښتنو په ځوابولو کې يې برخه اخيستی.

# په ګرافونو پوهېدنه

## د پټي چوکاټونه

دا راپور د یو شمېر هغو بودیجو او پروژو څخه د ډالرو پر ارزښت بحث کوي چې د ملیونونو څخه ملیاردونو ته رسېږي. د دې شمېرو د په ګرافونو کې د دقیق استازیتوب د ورانډې کولو لپاره، د ګرافونو ځینې پټې مات ښکاري (د یوې کرښې وروسته ګرېښې سره) چې د صفر او یوې جیګې شمېرې ترمنځ توپ ښيي.




## د ملیاردونو او ملیونونو جلا کول

لدې امله چې دا راپور د بودیجو جزییات په ملیاردونو او ملیونونو ډالرو کې ښيي، دا د پیمانې د دواړو یونټونو د جلا کولو لپاره یوه کتنیزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په ملیاردونو کې راپور شوي په ابي رنګ ورانډې کیږي، او هغه ډالر چې په ملیونونو کې راپور شوي په خړ رنګ کې انځورېږي.



پایي چوکاټ په ملیونونو کې



پایي چوکاټ په ملیونونو کې

## بودیجې ښودونکې

بودیجې ښودونکې هغه انفرادي بودیجې ښيي چې په متن کې بحث شوي وي. د دغې بودیجې د انتظام مسوولیت لرونکې اداره د بودیجې د نوم نه لاندې په خړ بکس لیست شوي وي. دا ښودونکې په حاشیه کې ښکاره کړای شوي دي.




## د ولایت نقشې

د ولایت نقشې هغه ځایونه ښيي چې په متن کې بحث شوي وي. حواله ورکړل شوي ولایتونه پکې ښکاره کړای شوي دي.



## د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) ګراف

دا ګراف د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) درې ستنې او هغه شپږ مهمې مسلې وړاندې کوي چې په هغو اغېز کوي. په دې تولګه برخه کې، هغه ستن یا مهمه مسله چې بحث کېږي په حاشیه کې ښکاره کړای شوي ده.



# د بوديجو حالت

تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د اسانۍ او بيا رغونې د هڅو لپاره تقريباً ۳۹.۳۳ مليارده ډالر اختصاص کړي دي. دا ټولې پيسې په لاندې توګه تاکل شوې دي: ۲۰.۱۸ مليارده ډالر د امنيت لپاره، ۱۱.۵۶ مليارده ډالر د دولتدارۍ او پرمختيا لپاره، ۳.۲۷ مليارده ډالر د مخدره موادو ضد هڅو لپاره، ۱.۹۲ مليارده ډالر د بشري مرستو لپاره، او ۲.۳۹ مليارده ډالر د نظارت او عملياتو لپاره، څرنګه چې په ضميمه ب کې پيژندل شوي.

د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، سره سم تولیزي اختصاصي بوديجي (۳۹.۳۳ مليارده ډالر) د مخکې راپور شوي توليزي بوديجي د جون ۳۰، ۲۰۰۹، سره سم (۳۸.۰۷ مليارده ډالر) څخه زياتي دي. دا بدلون د اداري د راپور شوي تازه ډاټا نتيجه وه، چې په جون ۲٤، ۲۰۰۹، د لاسليک شوي ضميمه يي اختصاصونو د قانون تازه حساب و، او ورسره د ترلو فعاليتي لګښتونو شاملول وو، په ګډون د افغانستان د بيا رغونې د نظارت لپاره د عمومي پلټونکي. انځور ۳.۱ د متحده ایالاتو د هغو غټو بوديجو يوه کتنه وړاندې کوي چې دې هڅو ته ورکړل شوي دي.

انځور 3.1

د افغانستان د بيا رغوني د هڅو د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو بوديجي (په مليارډونو ډالرو کې)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوې دي. الف DoJ, DoD, DoS، خزانه، USDA, USAID، او نوري اداري.

سرچيني: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمي ځوابونه، 10\9\2009، 10\14\2009، او 10\15\2009؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، 10\9\2009؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د بهرنيو چارو د محکمي ځوابونه 10\13\2009، او 10\16\2009؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د انصاف د محکمي\DEA ځواب، 7\8\2009؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USDA ځواب 4\7\2009؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د OMB ځوابونه 9\30\2008 او 7\16\2009.

**ASFF:** د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه

**CERP:** د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بوديجه

**DA:** پرمختيايي ملاتړ

**INCLE:** د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

**Other (نور):** نوري بوديجي

**د بیا رغونې د بودیجو ډلبندي په پنځو پراخو درجو د هڅوی د ابتدايي موخو پر بنسټ کېدلای شي.  خو، بودیجې د یو څخه زیاتو موخو ملاتړ کولی شي.**

## تولیز اختصاصونه

د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، سره سم د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره ټولیز اختصاصونه ۳۹.۳۳ ملیارده ډالر وو.  دا رقم د بیا رغونې په دې پنځو غټو درجو تقسیمېدلی شي:  امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو ضد مبارزه، بشري، او نظارت او فعالیتونه. انځور ۳.۲ د بودیجې د درجې له لارې د ټولیزو اختصاصونو یوه نقشه وړاندې کوي.  د متحده ایالاتو د اختصاصونو د یوې بشپړې نقشې لپاره، ضمیمه ب ته مراجعه وکړئ.

د مالي کال ۲۰۰۷ او مالي کال ۲۰۰۹ ترمنځ، ټولیز اختصاصونه ۷۱% زیات شول – په مالي کال ۲۰۰۷ کې د ۲۳.۰٤ ملیارده ډالرو څخه په مالي کال ۲۰۰۹ کې ۳۹.۳۳ ملیارده ډالرو ته. د مالي کال ۲۰۰۹ سره سم، د امنیت هڅو د ټولیزو اختصاصونو تر ټولو ستره برخه ترلاسه کړې.  د ASFF د بودیجو په ګډون، د امنیت اختصاصونه د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د مرستې تر ۵۱.۳% زیات (۲۰.۱۸ ملیارده ډالر) جوړوي. تر مالي کال ۲۰۰۷ پورې، دولتداری او پرمختیا د ټولیزو اختصاصونو تر ټولو زیات رقم اخیستلو؛ امنیت د ټولیزو اختصاصونو دویمه تر ټولو ستره برخه ترلاسه کوله.  خو په مالي کال ۲۰۰۷ کېASFF ته د ۷.٤۱ ملیارده ډالرو اختصاصونو امنیت تر نورو وړاندې کړ. د دې اختصاص په ګډون، د مالي کال ۲۰۰۷ پر مهال د امنیت لپاره ټولیزې بودیجې په همدغې موده کې د نورو ټولو درجو د شریک ټولیز رقم څخه واوښتې.

انځور 3.2

د سپتمبر 30، 2009، سره سم ټولیز اختصاصونه (په ملیاردونو ډالرو کې)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي

سرچینې: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځوابونه 10\9\2009، 10\14\2009، او 10\15\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10\9\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د محکمې ځواب، 10\13\2009 او 10\16\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د انصاف د محکمې\DEA ځواب، 7\8\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USDA ځواب 4\7\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د OMB ځوابونه 9\30\2008 او 7\16\2009.

## اختصاصونه په مالي کال

په مالي کال ۲۰۰۹ کې، د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لپاره ۱۰.۰۸ ملیارده ډالر اختصاص شول، چې په دې توګه یې دا د اختصاصونو د تر ټولو د ستر رقم کال کړ د دویمې درجې لوړ اختصاصونه ۱۰.۰۳ په مالي کال ۲۰۰۷ کې ورکړل شوي وو.

امنیت په مالي کال ۲۰۰۹ کې د مالي کال ۲۰۰۸ په کچه په بودیجو کې ۱۰۳% زیاتوالی ترلاسه کړ. د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د ټولو اختصاصونو څخه، د امنیت اقدامات ۵۵.٦% جوړوي، چې ورپسې د دولتداری او پرمختیا پروګرامونه د ۲۷.٤% سره دي. د مالي کال ۲۰۰٦ او مالي کال ۲۰۰۹ ترمنځ، د امنیت بودیجې د متحده ایالاتو د هغو اختصاصونو غټه برخه وه چې په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو لپاره یې ورکول.

انځور 3.3 د مالي کال ۲۰۰۲ او مالي کال ۲۰۰۹ ترمنځ کالیز اختصاصونه د بودیجو د درجو په واسطه ښیي. پټه د اختصاصونو اندازه په درجه ښیي، په داسې حال کې چې پایي چوکاټونه د هغې برخې استازیتوب کوي چې د هر یو لپاره اختصاص شوې ده.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

انځور 3.3

اختصاصونه په مالي کال، رقم، او سلنه (په ملیاردونو ډالرو کې)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي

سرچینې: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځوابونه 10\9\2009، 10\14\2009، او 10\15\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10\9\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د محکمې ځواب، 10\13\2009 او 10\16\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د انصاف د محکمې\DEA ځواب، 7\8\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USDA ځواب 4\7\2009؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د OMB ځوابونه 9\30\2008 او 7\16\2009.

# د بوديجو حالت




**د ASFF د بوديجو اصطلاحات**

د دفاع محكمې د ASFF بوديجې د موجودي، منل شوي، يا لګول شوي په توګه راپور كړي.

**موجودي:** د ژمنتياو لپاره موجودي تولې پيسې

**منل شوي:** د پيسو د وركولو ژمنتياوې**لګول شوي:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محكمې ځواب، ۲۰۰۹\۹\۱۰.

د امنيت د انتقال شريكه قومانده-افغانستان (CSTC-A) هغه اساسي سازمان دى چې د اى اين ايس ايف د جوړولو مسووليت پر غاړه لري.[10] CSTC-A د ASFF پيسې د دې لپاره كاروي چې ANSF ته تجهيزات، اكمالات، خدمتونه، روزنې، د ځايونو او انفراسټركچر ترميم، نوي كول، او بيا رغول برابر كړي.[11] د نړيوالې ټولنې پلان دى چې كرار كرار د دې هڅې لپاره نړيواله بوديجه كمه او پر ځاى يې، د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ANDS) سره سم، د ANSF توان زيات كړي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د عايداتو له لارې هبواد وساتي.[12]

## د بوديجو حالت

د مالي كال ۲۰۰۵ راهيسې، د ASFF لپاره نږدې ۱۸.۶۷ ملياره ډالر موجود كړاى شوي دي.[13] دا د افغانستان د بيا رغونې لپاره د متحده ايالاتو د ټولې مرستې تقريباً ۴۷.۵% جوړوي.

په دې رقم كې نږدې هغه ۳.۶۱ ملياره ډالر هم شامل دي چې په مالي كال ۲۰۰۹ كې د ضميمه يې اختصاصونو په قانون كې برابر كړاى شوي وو چې د متحده ايالاتو د ولسمشر لخوا په جون ۲۴، ۲۰۰۹ لاسليک شو.[14] د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، سره سم، تر ۱۷.۳۰ ملياره ډالر منل شوي، چې نږدې ۱۶.۵۸ ملياره د دغه رقم لګول شوي دي.[15] انځور 3.4 هغه رقمونه ښيي چې ASFF ته په مالي كال كې وركړل شوي وو.

د جون ۳۰ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، ترمنځ د دفاع محكمې د ANSF د اقداماتو د ملاتړ لپاره نږدې ۲.۴ ملياره ډالر منلي او تر ۱.۸۸ ملياردو ډالرو زيات يې لګولي دي.[16] انځور 3.5 د هغو رقمونو يوه توليزه پرتله وړاندې كوي چې د ASFF موجودي كړاى شوي، منل شوي او لګول شوي دي.

انځور 3.5

د افغان امنيتي ځواكونو ته موجودي كړاى شوي بوديجې په مالي كال (په ميليار دونو ډالرو)




يادونې: شمېرې په ګردي كولو اغېزمنې شوي. د ASFF د بوديجو اصطلاحات (موجودي شوي، منل شوي، لګول شوي) هماغسې راپور شوي چې د دفاع د محكمې لخوا وركړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محكمې ځوابونه 7\10\2009 او 10\9\2009.

انځور 3.4

د افغان امنيتي ځواكونو بوديجې، توليزه پرتله (په ملياردونو ډالرو)




يادونې: شمېرې په ګردي كولو اغېزمنې شوي. د ASFF د بوديجو اصطلاحات (موجودي شوي، منل شوي، لګول شوي) هماغسې راپور شوي چې د دفاع د محكمې لخوا وركړل شوي استثنا له هغې چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع محكمې ځواب، 10\9\2009.

## د ASFF د بوديجې فعاليتونه

د دفاع محکمه د ASFF دننه د بوديجې د فعاليت دي درېو ډلو ته ېيسې ټاکي: دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، يا ANA)، داخلي ځواکونه (افغان ملي پوليس، يا ANP)، او اړوند فعاليتونه، په کومو کې چې اساساً د بندي عمليات شامل دي. د هرې بوديجې د فعاليت ډلې ته پيسې د ضمني-فعاليت دي ډلو ته ټاکل کېږي: انفراسټرکچر، تجهيزات\ ترانسپورټ، روزني او عمليات، او دوامداري.[17]

### د بوديجې د فعاليت په ډله پيسې

د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، سره سم، ټول ۱٦.۵۸ مليارده ډالر لګول شوي دي. د دي رقم نه، ۱۰.۷۵ مليارده ډالر (٦٤.۸۵%) په ملي اردو، ۵.۷٦ مليارده ډالر (۳٤.۷۳%) په ملي پوليسو، او پاتې ۰.۰۷ مليارده ډالر (۰.٤۲%) په ورسره اړوندو فعاليتونو باندې تمرکز کې لګول شوي دي.

لکه چې په انځور 3.6، کې ښودل شوي، د ملي اردو لپاره د پيسو غټه برخه په تجهيزاتو او ترانسپورټ (٤.٤۳ مليارده) لګول شوې، ورپسې د دوامدارۍ په هڅو (۲.۸۱ مليارده ډالر). د ملي پوليسو لپاره د پيسو غټه برخه په انفراسټرکچر (۱.۵۹ مليارده) لګول شوې، ورپسې د دوامدارۍ په هڅو (۱.۵۵ مليارده)، څرنګه چې په انځور ۳.۷ کې ښودل شوي دي.

انځور 3.7

ملي پوليسو لپاره د ASFF مصرفونه
د ضمني-فعاليت په ډله، مالي کال -2005سپتمبر 2009 (په ملياردونو ډالرو)

ټول: 5.76 ډالر




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. شمېرې د سپتمبر 30، 2009 سره سمې دي. د ASFF د بوديجې اصطلاحات (موجودې، منل شوې، مصرف شوې) هماغسې دي چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي دي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 10\9\2009.

انځور 3.6

لي اردو لپاره د ASFF مصرفونه
. ضمني-فعاليت په ډله،
الي کال -2005سپتمبر 2009
په ملياردونو ډالرو)

ټول: 10.75 ډالر




ادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. شمېرې د سپتمبر 30، 2009 ره سمې دي. د ASFF د بوديجې اصطلاحات موجودې، منل شوې، مصرف شوې) هماغسې دي چې د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي دي استثنا له هغې چې مشخص شوي.

رچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 10\9\2009.

**د بوديجې د فعاليت ډلې:** د اختصاص يا بوديجې د هر حساب دننه هغه درجې چې د هغو فعاليتونو اهداف، پروژې او ډولونه پېژني چې د اختصاص يا بوديجې لخوا يې مالي ملاتړ کېږي.

**د ضمني-فعاليت ډلې:** هغه حسابي ډلې چې د قوماندې لګښتونه په فعاليتي برخو کې ماتوي.

سرچينه: د دفاع محکمه، "لارښود ۷۱۱۰۱-ايم د دفاع د محکمې د بوديجې د لارښودنې لارښوونې،" www.fas.org/man/docs/basic/man4. html، وکتل شو په ۹\۲۸\۲۰۰۹؛ د سمندري ځواک محکمه، "د طبي اسانتيا د منتظم کتابچه،"... BUMEDFacilityManagerHANDBOOK2002./ DOCwww.med.navy.mil/، وکتل شو په ۱۰\۲\۲۰۰۹، مخ ۵.

## د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

د CERP بودیجي په افغانستان کي د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چي د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چي د سیمییزي ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کي بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغوني غوښتنو ته ځواب وواېي. د دې پروګرام لاندي بودیجي د هغې وړې-کچې د پروژو لپاره په نیت کي نیول شوې چي هره یوه د ۵۰۰.۰۰۰ ډالرو څخه کمه وي. د هغو پروژو اجازه شته چي د ۲ ملیونه ډالرو نه زیات لګښت غواړي خو د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان (USCENTCOM) یا استازو څخه منظورول غواړي.[18]

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۰٤ راهیسي، یو ایس سینټکام CERP ته د نږدې ۱.٦٤ ملیارده ډالرو بودیجي ورکړي، چي دا د افغانستان په بیا رغونه کي د متحده ایالاتو د ټولي مرستي د حساب تقریباً ٤.۲% جوړوي. تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹، پورې له ۱.٦۱ ملیارده ډالر څخه زیات منل شوي او تقریباً ۰.۹٦ ملیارده ډالر مصرف شوي دي.[19] انځور 3.8 په مالي کال د CERP بودیجي ښیي.

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ راهیسي، د دفاع محکمې د CERP د بودیجو لپاره ۱٦۲.۳۸ ملیونه اضافي ډالر منلي او ۱٥۰.٦۷ ملیونه ډالر لګولي دي. انځور ۳.۹ د بودیجو د هغو پیسو یوه تولنیزه پرتله ښیي چي د CERP د پروژو لپاره اختصاص شوي، منل شوي او مصرف شوي دي.




**د CERP د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع محکمې د CERP بودیجي د موجودي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**بودیجي:**د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولي پیسي**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوي**لګول شوي:** هغه پیسي چي لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۱۴\۱۰.

انځور 3.9

د CERP بودیجي، تولیزه پرتله
(په ملیاردونو ډالرو)




یادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. د CERP د بودیجو اصطلاحات (بودیجه شوي، منل شوي، مصرف شوي) هماغسي راپور شوي چي د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چي مشخص شوي دي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمې ځوابونه 2009\13\7 او 2009\14\10.

انځور 3.8

د CERP بودیجي په مالي کال
(په ملیونونو ډالرو)




یادوني: په معلوماتو کي ښايي بین الاداري لیږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. د سي اي ار پي د بودیجو اصطلاحات (بودیجه شوي، منل شوي، مصرف شوي) هماغسي راپور شوي چي د دفاع د محکمې لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چي مشخص شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمې ځواب 2009\14\10.

## د CERP اندېښنې

د سيګار پلټونکو په افغانستان کې د CERP د پروژو په اړه ګڼ شمېر اندېښنې ښکاره کړې دي. په CERP د سيګار د پلټنې راپور د CERP لخوا بوديجې ورکړل شوې پروژو په نظارت او عملي کولو کې کمزورۍ په ګوته کړې دي.[20] هر څو که د CERP اصلي هدف د وړې-کچې داسې پروژو ته بوديجې ورکول دي چې د سيمييزې ابادۍ لخوا په دوام وساتل شي، خو سيګار په ګوته کړې چې د دې پروګرام لاندې د غټ-کچ د ۵۰۰.۰۰۰ ډالرو نه جيګو پروژو ته بوديجې ورکول مخ په زياتېدو دي، چې هغه سرچينې کموي کومې چې د واړه-کچ پروژو د عملي کولو لپاره موجودې وي. سيګار همداراز په ګوته کړې چې د غټ-کچ د پروژو برخه هر څو که لږ تر لږه (۳%) ده، خو هغوی د بوديجو لويه برخه (۶۷%) مصرفوي.[21] انځور 3.10 د پروژې په کچه د CERP د بوديجو استعمال ښيي.

امريکايي ځواکونو - افغانستان (USFOR-A)، کوم چې د CERP د سمبالښت مسووليت په مۍ ۲۰۰۹ کې ترلاسه کړ، د هغو کمزوريو د سمولو لپاره مشخص پروسيجرونه جوړ کړي دي چې په پلټنه کې ښکاره کړای شوي وې. د دې پروسيجرونو څخه په ځينو کې شامل دي د CERP اداري ټيم ته د پروژې د يو منتظم زياتول او په يو ورکړل شوي وخت کې د پروژو د سمبالښت شمېره ۱۰ ته کمول. يو ايس ايف او ار-ای دا هم ښودلې چې دا به يو د ريکارډ د ساتلو مرکزي معلوماتغونډ جوړوي، په مشخصو سيمييزو قوماندو کې به د پرانستو پروژو شمېره محدودوي، او د دې لپاره به د ګډ هدف ځواک ۱۰۱ د قوماندان او يو ايس ايف او ار-ای د مرستيال قوماندان د منظورۍ واک زياتوي چې د ۱ مليون ډالرو د لګښت څخه زياتې پروژې پکې شاملې کړي.[22]

انځور 3.10

د غټ-کچ پروژې، مالي کال -2005جون 2009 (فيصدي)
په برخو او ټاکنو




غټ-کچ د پروژو شمېر د هغو پروژو په توګه شوی چې 500.000 يا زيات ډالر لګښت پرې راځي. د ټولو منل شويو پيسو رقم د ګردي کولو او وختونو د توپيرونو له امله تر هغې توپير کوي چې د دفاع د محکمې لخوا راپور شوي.

سرچينه: سيګار، پلټنه5-09-، "په افغانستان کې د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام لپاره زياتې ښکاره کېدنې، نظارت او پلان ته اړتيا ده،" 2009\9\9، مخونه 14-4.




**د ESF د بودیجو اصطلاحات**

USAID د ESF بودیجې د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې تولې پیسې
**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**لګول شوي:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۹\۱۰.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د ESF پروګرامونه هڅه کوي چې د ثبات او اوږدمهاله رغونې، اقتصادي او امنیتي اړتیاو په تړلاسه کولو کې په مرسته کولو د متحده ایالاتو ګټې پر مخ بیایي. پروګرامونه یې د تروریزم پر وړاندې مبارزې څخه د ملي اقتصادیاتو تر بهترولو، او د لا شفاف او تر مسوولیت لاندې دولت لپاره د اغېزمنو، تړلاسه کېدونکو، خپلواکو حقوقي سیستمونو په جوړولو کې تر مرستې کولو رسیږي.[23]

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۰۲ راهیسې، کانګرس په افغانستان کې د ESF د پروګرامونو لپاره ۷.۷۰ ملیارده ډالر اختصاص کړي دي.[24] دا اختصاصونه په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې نږدې ۱۹.۶% جوړوي. تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، تر ۶.۹۷ ملیارده ډالرو زیات منل شوي او تر ٤.۵۹ ملیارده ډالرو زیات لګول شوي دي.[25] انځور ۳.۱۱ په مالي کال د ESF اختصاصونه ښیي.

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ څخه راهیسې، USAID د ESF د پروګرامونو د مرستې لپاره تر ۸۸۳.۹۰ ملیونه ډالرو زیات منلي او نږدې ٤۱۹.٦۱ ملیونه ډالر لګولي دي.[26] انځور 3.12 د ESF د اختصاص شویو، منل شوي، او لګول شویو بودیجو د پیسو یوه تولیزه پرتله وړاندې کوي.

انځور 3.12

منابع مالی صندوق حمایت اقتصادی،
مقایسه کلی (ملیارد دالر)




یادونې: په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدوني شاملي وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوې دي. د ESF د بودیجو اصطلاحات (اختصاص شوې، منل شوې، لګول شوې) هماغسې راپور شوي چې د USAID لخوا ورکړل شوې دي استثنا له هغې چې مشخص شوې دي.

منابع: اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده، پاسخ به درخواست معلومات سرمفتش خاص برای بازسازی افغانستان، 2/28/2009 و 7/10/2009

انځور 3.11

تخصیص منابع مالی صندوق حمایت اقتصادی
بر اساس سال مالی (ملیارد دالر)




یادونې: په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدوني شاملي وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوې دي. د ESF د بودیجو اصطلاحات (اختصاص شوې، منل شوې، لګول شوې) هماغسې راپور شوي چې د USAID لخوا ورکړل شوې دي استثنا له هغې چې مشخص شوې دي.

منبع: اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده، پاسخ به درخواست معلومات سرمفتش خاص برای بازسازی افغانستان، 7/9/2009.

## پرمختيايي ملاتړ

د پرمختيايي ملاتړ (DA) پروګرامونه، چې اصلاً د USAID لخوا سمبالېږي، د دې لپاره جوړ شوي چې په ورسته پاتې هېوادونو، په ګډون د افغانستان، کې دوامداره، پراخ بنسټه اقتصادي پرمختګ او تولنيز ثبات پر مخ يوسي.[27] د DA بوديجې د بشري مرستې، د برابرولو، د چاپېريال د ستونځو د حل، د دولتدارۍ د بهترولو، او تولنيزي-اقتصادي پرمختيا ته د ودې ورکولو لپاره اوږدمهاله بوديجو ته مالي بوديجې ورکوي.[28]

## د بوديجو حالت

د مالي کال ۲۰۰۲ راهيسې، کانګرس په افغانستان کې د DA د پروګرامونو لپاره ۸۹۱.۷۸ ميليونه ډالر اختصاص کړي دي.[29] دا اختصاصونه په افغانستان کې د بيا رغونې د هڅې لپاره د متحده اياالاتو د ټولې مرستې نږدې ۲.۳% جوړېږي. تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، اټکل ۸۸۴.۱۴ ميليونه ډالرو منل شوي او تر ۷۲۰.۰۱ ميليونه ډالرو زيات لګول شوي دي.[30] انځور 3.13 په مالي کال د DA اختصاصونه ښيي.

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ راهيسې، يو ايس ای ايي دي تقريباً ۱.۵۸ مليونه ډالر منلي، تقريباً ٤٦.۰۸ مليونه ډالر لګول شوي دي.[31] انځور 3.14 د DA د هغو بوديجو چې اختصاص شوي، منل شوي، او لګول شوي يوه توليزه پرتله وړاندې کوي.

انځور 3.14

د DA بوديجې، توليزه پرتله (په مليونونو ډالرو)




يادوني: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي دي. د DA د بوديجو اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، لګول شوي) هماغسې راپور شوي چې د USAID لخوا ورکړل شوي دي استثنا له هغې چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د يو ايس ای ايي دي ځوابونه 2009\10\7 او 2009\9\10.

انځور 3.13

په مالي کال د DA اختصاصونه (په مليونونو ډالرو)




يادوني: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي دي. د DA د بوديجو اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، لګول شوي) هماغسې راپور شوي چې د USAID لخوا ورکړل شوي دي استثنا له هغې چې مشخص شوي دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د يو ايس ای ايي دي ځواب 2009\9\10.




### د DA د بوديجو اصطلاحات

USAID د DA بوديجې د اختصاص شوي، منل شوي، يا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودي ټولې پيسې
**منل شوي:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې
**لګول شوي:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۹\۱۰.

## د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ (INCLE) بوديجه د نړيوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون نفاذ د چارو د دفتر (INL) د دې لپاره سمباليږي چې د قانون حاکميت مخ پر وړاندې بوځي او د مخدره موادو توليد او کاروبار پر وړاندې مبارزه وکړي. د INCLE بوديجې د INL د ګڼو پروګرام ډلو ملاتړ کوي، په ګډون د پوليسو، مخدره مواد ضد، د قانون حاکميت او عدليه.[32]

## د بوديجو حالت

د مالي کال ۲۰۰۲ راهيسې، د ايي اين سي ايل اي د اقداماتو لپاره تر ۲.۰۳ مليارده زيات ډالر ټاکل شوي دي.[33] دا رقم په افغانستان کې د بيا رغونې لپاره د متحده ايالاتو د ټولې مرستې تقريباً ۵.۲ % جوړيږي. تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، تر ۱.۹۲ مليارده زيات ډالر منل شوي او تر ۱.۵۵ مليارده زيات مصرف شوي دي.[34] انځور 3.15 په مالي کال د INCLE اختصاصونه ښيي.

د جون ۳۰، ۲۰۰۹ راهيسې، تر ۱۴۰.۵۰ مليونه زيات ډالر منل شوي او تر ۷۴.۴۰ مليونه زيات مصرف شوي دي.[35] انځور 3.16 د INCLE د ټاکل شويو، منل شويو، او مصرف شويو بوديجو د رقم يوه ټوليزه پرتله وړاندې کوي.




**د بوديجو اصطلاحات INL د**

د بوديجو راپور د INL او نورو INCLE د INL ټاکل شويو، منل شويو او مصرف شويو په توګه ورکړی.

**ټاکل شوې:** د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې**منل شوې:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې**مصرف شوې:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

.سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۱۰

انځور 3.16

د INCLE بوديجې، ټوليزه پرتله (په ملياردونو ډالرو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د INCLE د بوديجو اصطلاحات (ټاکل شوې، منل شوې، مصرف شوې) هماغسې راپور شوي چې د بهرنيو چارو د محکمې او INL لخوا ورکړل شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځوابونه 2009\10\7، او 2009\13\10.

انځور 3.15

په مالي کال کې د INCLE ټاکنې (په مليونونو ډالرو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د INCLE د بوديجو اصطلاحات (ټاکل شوې، منل شوې، مصرف شوې) هماغسې راپور شوي چې د بهرنيو چارو د محکمې او INL لخوا ورکړل شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب 2009\13\10.

انځور 3.17

د افغانستان د دولت بودیجه،
2009-2010 (په ملیاردونو ډالرو)

ټول: 7.5 ډالر




یادونه: شمېرې په کردي کولو اغېزمنې شوي
سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې خواب 2009\10\9.

## د افغانستان د دولت د بیا رغونې بودیجې

برسېره پر هغو نړیوالو مرستو چې د افغانستان دولت یې د بیا رغونې د هڅو لپاره ترلاسه کوي، د افغانستان دولت هم د دغه هدف لپاره بودیجې ورکوي. د افغانستان د دولت د مالیې وزارت (MoF) د دې بودیجې د سمبالښت او تطبیق مسوولیت پر غاړه لري، په کوم کې چې د بیا رغونې د هڅو لپاره افغاني بودیجې شاملې دي. د مالیې وزارت همداراز د نړیوالو بودیجو مسوولیت هغه وخت پر غاړه لري چې دغه د دولتي وزارتونو له لارې ورکول کېږي.[36]

## کورنۍ بودیجه

د متحده ایالاتو خزانه اټکل کوي چې د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د افغانستان د دولت بودیجه ۷.۵ ملیارده ډالره ده، چې دا په مالي کال ۲۰۰۸ تر ۲.۷% ورزیاته ده. دا بودیجه په دوو سترو کټګوریو ویشل شوې ده: ۲.۶ ملیارده ډالر اساسي بودیجه او ۴.۹ ملیارده ډالر بهرنۍ بودیجه.[37] انځور 3.17 په کټګورۍ د بودیجې د پیسو یوه نقشه ښیي.

### اساسي بودیجه

اساسي بودیجه په دوو ضمني-کټګوریو شامله ده: فعالیتي بودیجه، چې د ۱.۶ ملیارده ډالرو حساب لري، او پرمختیایي بودیجه، چې د پاتې ۱.۰ ملیارده ډالرو حساب لري.[38]

#### فعالیتي بودیجه

د مالي کال ۲۰۰۸ راهیسې، فعالیتي بودیجه د ۱.٤ ملیارده ډالرو څخه ۱.٦ ملیارده ډالرو ته ١٤% زیاته شوې ده. د خزانې له مخې، فعالیتي بودیجه اساساً د دوامداره لګښتونو څخه جوړه ده لکه حق الزحمه او معاشونه.[39] د افغانستان دولت د مالي کال ۲۰۰۹ په بودیجه کې د زیاتوالي لاندې لاملونه پېژندلي دي:[40]

- په ملي اردو کې د ۲۳۵۰۰ کسانو متوقع زیاتوالی، برسېره په دې چې د هر تن معاش ۱۰۰۰ افغانۍ (شاوخوا ۲۰.۱۵ ډالر) لوړ شوی
- د ۱۲۵۰۰ ښوونکیو متوقع زیاتوالی او ورسره د هر ښوونکي په معاش کې د ۱۳۰۰ افغانیو (شاوخوا ۲۶.۲۲ ډالرو) لوړوالی
- د پوهنتون د پروفیسورانو په معاش کې لوړوالی
- د قاضیانو په معاش کې لوړوالی

#### پرمختیایي بودیجه

د خزانې له مخې، د مالي کال ۲۰۰۹ پرمختیایي بودیجه د مالي کال ۲۰۰۸ د کچو سره په ۱.۰ ملیارده ډالرو کې برابر پاتې شوې دی. د دولتدارۍ، د قانون د حاکمیت، انفراسټرکچر، زده کړو، روغتیا، زراعت او کلیوالي پرمختیا، د ټولنیز تحفظ، او خصوصي سکټور د پرمختیا په برخو کې غټ لګښتونه پرمختیایي بودیجه جوړوي.[41]

### بهرنۍ بودیجه

د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د افغانستان د دولت بهرنۍ بودیجه شاوخوا ٤.۹ ملیارده ډالر وه. بهرنۍ بودیجه اساساً د امنیتي لګښتونو څخه جوړېږي، هر څو که ځینې پرمختیایي بودیجې پکې شاملې وي. د بهرنۍ بودیجې ټوله اتکاء پر نړیواله مرسته وي.[42]

## د اساسي بوديجې – فعاليتي لپاره نړيوالي ورکړې

برسېره پر هغو بوديجو چې د افغانستان دولت ورکړي، نړيوالي ټولني د اساسي بوديجي ملاتړ د ورکړو په بڼه کړی دی. د اساسي بوديجي ملاتړ د دې درېو غټو سرچينو څخه راځي:[43]

- د افغانستان د بيا ودانی د باور بوديجه – د دوامي لګښت کړکۍ (ARTF-RC)
- د قانون د حاکميت د باور بوديجه (LOTFA)
- CSTC-A

ARTF-RC د دولت د فعاليتي لګښتونو، او همداراز د انتظامي خرچو سره مالي مرسته کوي. تر دې دمه ۱.۷ مليارده ډالر د دې خبرې د باوري کولو لپاره لګول شوي دي چې دولت فعال وي او بنسټيز خدمتونه لکه تعليم او روغتيايي علاج رسولی شي.[44]

LOTFA د پوليسو د ځايونو په بيا جوړولو، معاشونو، روزنو او ظرفيت جوړونه، او د ناخطرناکو تجهيزاتو په دوامداری کې ملاتړ کوي. د LOTFA لپاره د بوديجو ورکړې ټمه کېږي چې ۲۰ مليارده افغانيو (شاوخوا ۴۰۳.۳۹ مليونه ډالرو) ته ورسېږي.[45]

د CSTC-A د بوديجو ورکړې د ملي اردو د معاشونو د لوړوالي د يوې سلسلې ملاتړ کوي. دا لوړوالي د ۲۰۰۸ راهيسي د يوې مياشتي ۲۰ ډالره ته رسېږي. د ملي اردو، نظامي لبسي د خوړو لپاره، او په داسي برخو لکه درمل او بيا په ليست کې نيولو لپاره هم مرسته ورکول کېږي.[46]

## د اساسي بوديجې – پرمختيايي لپاره نړيوالي ورکړې

د ARTF د پانګه اچوني کړکی د پرمختيايي بوديجي د ملاتړ لپاره د پام وړ رقم ورکوي. د دې ملاتړ د ښوونځيو د ودانيو د بيا جوړولو، او همداراز د نصاب د کتابونو او ښوونځي د اکمالاتو د برابرولو لپاره ورکول کېږي. د ARTF د پانګه اچوني د کړکی لاندې هغو پروګرامونو ته مالي مرسته ورکول کېږي چې د افغانستان دولت يې د تر ټولو ضروري په توګه ټاکنه کوي. د ۲۰۰۲ راهيسي د دې څخو لپاره ټولې ۱.۲ مليارده ډالر ورکړل شوي دي.[47]

**د دوامي لګښت کړکی:** يو د بوديجي ورکولو ميکانزم چې د ملکي مامورينو د معاشونو، او همداراز د فعاليتي او انتظامي لګښتونو د تېزو خرڅو لپاره ورکول کېږي.

سرچينه: نړيوال بانک، "د بحث يادونه: د ARTF د دوامي لګښت کړکی،" ۹، ۲۰۰۸، http://siteresources.worldbank.org/AFGHANISTANEXTN/resources/305984-1201489063036/4608353-1220998199117/RCWindowNote.pdf، وکتل شو په ۲۰\۱۰\۲۰۰۹.

**د پانګه اچوني کړکی:** يو د بوديجي ورکولو ميکانزم چې د ملي پرمختيا پروګرامونو ته غټې مالي مرستې ورکوي.

سرچينه: نړيوال بانک، "نړيوال بانک په افغانستان کې: د هيواد دري مياشتني وروستی حال،" ۱۰\۲۰۰۹.

# د افغانستان د بيا رغوني د باور بوديجې ته ورکړې

د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، نړيوال بانک راپور ورکړی چې ۳۰ نړيوالو مرستندويانو ARTF ته ټول ۳ مليارده ډالر ورکړي دي. د دې مرستندويانو څخه شاوخوا نيم په کلني بنسټ مرستې ورکوي.[48] د پيسو د تفصيلاتو لپاره انځور ۳.۱۸وګورئ چې د مرستندويه هېواد لخوا ورکړل شوي دي.

د افغانستان د بوديجې د فعاليتي او پرمختيايي دواړو لګښتونو لپاره ARTF تر ټولو ستر مرستې ورکوونکی دی.[49] د دې مرستې افغانستان د دولت د دوامي لګښت د کړکی له لارې ملاتړ کوي، کوم چې د بوديجې د داسي متوقع سرچيني په برابرولو سره د ماليې د وزارت د ظرفيت په جوړولو کې مرسته کوي چې د دولت له لارې اداره کېږي.[50] د بوديجو مرستې د پانګه اچوني د کړکی له لارې هم پرمختيايي هڅو ته ملاتړ برابروي، کوم چې د افغانستان د دولت سره د موجودو سرچينو د پرمختيايي پلان جوړوني سره په سمولو کې مرسته کوي.[51]

د نړيوال بانک له مخې، ای ار ټي ايف په افغانستان کې د ګنو-مرستندويانو د بوديجو د سر سرچينه ده.[52] مرستندويان په ۲۰۰۸ کې راضي شول چې بوديجه تر جون ۲۰۲۰ پورې وغځوي. برسېره پر دې، د ARTF د تحريک ورکولو د پروګرام بنسټ په دسمبر ۲۰۰۸ کې کېښودل شو. د دې پروګرام مقصد د "دوامي لګښت د کړکی څخه پراويز او متوقع وتون" برابرول دي.[53] د اګست ۲۲، ۲۰۰۹ سره سم، مرستندويانو د دې بوديجې لپاره د ۶۰۷ مليونه څخه زياتو ډالرو ژمنې کړې، د کومو څخه چې ۲۳۴ مليونه ډالر (۳۸.۶%) ورکړل شوي دي.[54]

## کورنی عايد

د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره، خزانې اټکل کړی چې د افغانستان د دولت عايد به شاوخوا ۹۸۰ مليونه ډالر وي. لکه چې په انځور ۳.۱۹ کې ښودل شوي، د ماليې عايد د کورني عايد نږدې ۷۸% جوړوي او فيسونه پاتې ۲۲%.[55]

د بهرنيو سرچينو څخه راغلی عايد د اساسي بوديجې ۶۰% بوديجه ورکوي. د بهرني عايد ستره برخه، ۵۳.٦%، د ګنو-مرستندويانو د باور د بوديجو لخوا راځي، ورپسې د نړيوالو مالي مرسته ورکوونکيو ادارو څخه په ۲۸.۱% سره. متحده ايالات او نورې مرستندويه سرچينې د پاتې ۱۸.٤% مسووليت په غاړه لري.[56]

انځور 3.19

د افغانستان د دولت کورنی عايد، 2009-2010 (په مليونونو ډالرو)

ټول: 980 ډالر




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 2009\30\9

## نړيوال سازمانونه چې په افغانستان کې کار کوي

د متحده ايالاتو پر مرسته برسېره، يو شمېر نړيوال سازمانونه د افغانستان د بيا ودانۍ هڅې ته مرستې ورکوي. مرستې د ګڼ شمېر سکټورونو سره کېږي په ګډون د امنيت، دولتدارۍ او پرمختيا، او بشري مرستې. . دا ضمني برخه هغه نړيوال سازمانونه په ګوته کوي چې د افغانستان لپاره مرستې برابروي.[57]

انځور 3.18

د 2009 لپاره د ARTF ورکړې، د اګست 22، 2009 سره سم (په مليونو ډالرو)

ټولې ورکړې\ژمنې: 607 ډالر

ټولې ادا شوې: 234 ډالر




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د اګست 22، 2009 سره سم د مالي حالت په اړه د اداري راپور،" مخ 1.

## په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي مشن

په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي د مشن (یوناما) چارواکیو ویلي چي د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره د دي مشن بودیجه ۱۶۸ ملیونه ډالر وه.[58] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، عمومي اسامبلي د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره د یوناما په بودیجه کي د ۷۰% زیاتوني منظوري ورکړي. د دي زیاتوني نسبت په کارکوونکیو کي د ۱۰۰۰ تنو (په ګډون د ۱۷۰ نړیوالو کارکوونکیو) زیاتولو او د ساحي د افسرانو د شمېر زیاتونو ته کېدای شي.[59]

د یوناما مسوولیت، چي په ۲۰۰۲ کي یي بنسټ اېښودل شوی او په مارچ ۲۳، ۲۰۰۹ نوی شوی، د دولتداری او د قانون د حاکمیت د بهترولو، او د فساد پر وړاندي مبارزې د دي سازمان هڅي ښکاره کوي.[60] یوناما ته د هغو ټولو بشري مرستو، د راجوړولو، او بیا رغولو د فعالیتونو مسوولیت ورکړل شوی چي د نړیوالي ټولني لخوا افغانستان ته ورکول کېږي.[61]

## UNDP/ELECT

د ټولټاکنو په اړه د سیګار د پلټني په یو راپور کي معلومه شوي چي نړیوالي ټولني د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام\اسبا لپاره د حقوقي او انتخابي ظرفیت د پراخولو (UNDP/ELECT) د پروژې د ملاتړ لپاره ۳۳۱.۲ ملیونه ډالر پانګه ورکړې. یوناما د UNDP/ELECT بنسټ د دي لپاره کېښود چي د افغانستان د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون سره تخنیکي مرسته وکړي او ظرفیت یي لوړ کړي څو هغه د ۲۰۰۹ ولسمشریزې او ولایتي ټولټاکني ترسره کړي.[62]

UNDP/ELECT د نړیوالي ټولني لخوا د مرستو د ورکړو د سمبالولو لپاره د شکور بودیجي په نامه – د مالي مرستي یو شریک میکانزم – جوړ کړ. متحده ایالاتو دې شکور بودیجي ته ۱۴۳.۱ ملیونه ډالر ورکړل. په نورو نړیوالو مرسته ورکوونکیو کي شامل دي استرالیا، کاناډا، ډنمارک، فرانسه، المان، ایتالیه جاپان، هالینډ، ناروی، هسپانیه، سویډن، سویزرلینډ، او برتانیه.[63]

## نړیوال بانک

د نړیوال بانک د اکتوبر ۲۰۰۹ په "د هېواد دري میاشتني وروستي حال" کي چارواکیو ویلي چي له ۲۰۰۲ راهیسي، افغانستان ته د بېړنی بیا رغوني او پرمختیایي پروژو او د بودیجي د ملاتړ عملیاتو ته تر ۱.۸۹ ملیارده زیات ډالر ورکړل شوي دي. نړیوال بانک دا مهال په هېواد کي ۲۶ فعالي پروژې لري. د بیا رغوني لپاره په ملاتړ کي شامل دي ۱.۴۵ ملیارده ډالر د بودیجو د ورکړې په بڼه او ۴۳۶.۴ ملیونه ډالر د بې سوده پورونو په بڼه، چي د "کریډټ" په نامه پېژندل کېږي. یو شمېر پروژې په بېلابېلو سکټورونو کي بشپړې کړای شوي دي په ګډون د تعلیم، بېړني عامه کارونو، انفراسټرکچر، او روغتیایي علاج.[64]

## اسیایي پرمختیایي بانک

ملیارده ډالر په ژمني کولو سره افغانستان سره خپله ژمنتیا پراخه کړه. د ۲۰۰۲ راهیسي، اسیایي پرمختیایي بانک په کنفرانسونو کي په تسلسل سره په افغانستان کي د بیا رغوني د هڅي لپاره د بودیجو ژمني کړي دي. په ۲۰۰۲ کي، دي په دوه نیمو کلونو کي د ۵۰۰ ملیونه ډالرو ژمنه وکړه. په ۲۰۰۴ کي دي د ۲۰۰۵ نه تر ۲۰۰۸ پوري د ۸۰۰ ملیونه ډالرو ژمنه وکړه. په ۲۰۰۶ کي، دي تر ۲۰۱۰ پوري د اضافي ۲۰۰ ملیونه ډالرو ژمنه وکړه. د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د ټولو مرستندویه ژمنو په مناسبت، اسیایي پرمختیایي بانک د متحده ایالاتو، برتانیې، او نړیوال بانک څخه وروسته د ټتو مرستندویانو په ډله کي په څلورم لمبر راځي.[65]

د اسیایي پرمختیایي بانک د مرستي تمرکز په یو شمېر سکټورونو دی، په ګډون د انرژۍ، سړک ترانسپورت، او زراعت او د طبعي سرچینو په سمبالښت. اسیایي پرمختیایي بانک همداراز د افغانستان د دولتداری، مالیي، او

خصوصي سکټورونو ته مرسته ورکوي.[66]

## د پيسو نړيوال صندوق

د پيسو د نړيوالو بوديجې (IMF) له مخې، افغانستان ته اوسنۍ مرسته (۱۲۰ مليونه ډالر) د غربت د کمولو او د اسانتيا د زياتولو د پور پروګرام لاندې ورکول کېږي. دا مرسته تاکل شوې چې په مارچ ۲۰۱۰ کې پاتې ته ورسېږي.[67] IMF د افغانستان د بيا رغونې د هڅې سره مرسته په ۲۰۰۲ کې پيل کړه، چې هدف يې د دې هېواد د مالي ظرفيت جوړول وو.[68] د دې لپاره چې دولتونه په دې وتوانوي چې د مواقعو څخه ګټه واخلي، ايي ايم ايف نړيوال رجحانات او کاري وړتيا معلوموي، غړي هېوادونه د مهمو ستونځو څخه خبروي، د ټګلارۍ د ديالوګ لپاره يو فوروم برابروي، او په دې اړه معلومات شريکوي چې اقتصادي مشکلات څرنګه سمبال کړای شي.[69]




# امنیت

د ملګرو ملتونو (م م) د عمومي منشي له مخې، "نا امني [خراب امنیت] د افغانستان د پرمختګ په لار کې لا هم یوائېنی تر ټولو ستر خنډ دی."[70] دا برخه د امنیت پر تړاو د افغانانو او نړیوالي ټولنې د هڅو په اړه معلومات وړاندې کوي. دا افغان ملي اردو (ANA)، افغان ملي پولیس (ANP)، او په افغانستان کې نړیوال ځواکونه تشریح کوي. دا همداراز د امنیت په سکټور کې د بیا رغونې هڅې بحث کوي، په ګډون د ناچاوډېدلو موادو د لیرې کولو، د غیر قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کولو، او د مخدره موادو ضد فعالیتونو د ترسره کولو.

## امنیتي اهداف

د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ (ANDS) د امنیت ستن امنیت سره د تړلي پرمختګ د پیمانه کولو معیارونه وړاندې کوي. د ANDS له پیل راهیسې د امنیت ځینې خاص معیارونه تازه شوي دي، لکه چې په جدول 3.1 کې ښودل شوي. د دې معیارونو تشریحات په ټولې هرې دې برخه کې ورکړل شوي دي.

## امنیتي پیښنې

د ګډ امنیتي انتقال قوماندې-افغانستان (CSTC-A) د افغان ملي امنیتي ځواکونو، ایتلافي ځواکونو، بهرنیانو او افغانانو تلفات راپور کړي دي. د جولای ۱ او سپتمبر ۲۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، ۱۵۰ ایتلافي ځواکونه په جګړه کې وژل شوي، او ۱۰۲۰ ایتلافي ځواکونه په جګړه کې ټپیان شوي دي.[71]

جدول 3.1

**د امنیت لپاره ستراتیژیک ترجیحات**

| د ANDS د امنیت ستن | د ANDS هدف | تازه شوی هدف | حالت | د ANDS د بشپړیدو نیټه |
|---|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | ۸۰،۰۰۰ سرتېري (جمع ٦،٦٠٠ په روزنه کې) | ۱۳٤،۰۰۰ سرتېري (تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې) | ۹۳،۹۸۰ سرتېري | د ۲۰۱۰ پای |
| افغان ملي پولیس | 82,180 مسلکي پولیس | ۱۰۹،۰۰۰ سرتېري (تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې) | ۸۱،۵۰۹ مسلکي پولیس | د ۲۰۱۰ پای |
| د غیر قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول | په ټولو ولایتونو کې ټولې غیر قانوني وسله والې ډلې بې وسلې شوي | | د ۱۱۹ هدف ولسوالیو څخه ۸٤ تصفیه اعلان شوي | مارچ ۲۰، ۲۰۱۰ |
| د ناچاودېدلو موادو لیرې کول | هغه ځمکنۍ منطقه چې پر ماینونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه ۷۰% کمه شوې | | د ANDS تازه حال ۲۵% هدف منطقه تصفیه شوې | د ۲۰۱۰ پای |
| | ۹۰% هغه منطقه چې ټوله پر ماینونو او یا د جګړې په چاودېدونکو پاتې شونو لړلې وه تصفیه شوې | | د دفاع محکمه: ۱.۷۰ ملیارده مربع میتره تصفیه شوې، ٦۹۰ ملیونه مربع میتره پاتې ده | 2012 |
| | ټول اېښودل شوي پرسونل ضد ماینونه تصفیه شوې | | | 2013 |
| دمخدره موادو پرضد مبارزه | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله نیمې راکمې کړای شوې | | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله ۳٦% کمې شوې | 2013 |

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې.

سرچینې: د افغانستان دولت، "د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي، عمومي لنډیز،" مخ ٦؛ ناټو، "د نړیوال سوله ساتي ځواک او افغان ملي اردو پیاوړتیا او کمزوري،" www.nato.int/isaf/docu/epub/pdf/placemat/pdf، وکتل شو په ۲۰۰۹|۳۰|۱۹؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، ۲۰۰۹|۲|۱۰؛ د دفاع محکمه، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور پرمختګ،" ۲۰۰۹|٦، مخ ۲۸؛ د افغانستان دولت، "د ای این ډي ایس لومړنی کلنی راپور ۱۳۸۷ (۲۰۰۸|۲۰۰۹)، برخه ۲- ضمیمې،" ۲۰۰۹|۱|۱۸، مخ ۳٦؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د محکمې ځواب، ۲۰۰۹|۲|۱۰؛ یو این او ډي سي، "د افغانستان د اپیمو سروې ۲۰۰۹: د لاس ته راغلو معلوماتو لنډیز،" ۲۰۰۹|۹، مخ ۲.

انځور 3.20

ملکي تلفات

په ولایت




په میاشت

ټول ټپیان شوي: 696
ټول وژل شوي: 453




یادونې: په ملکیانو کې افغانان او بهرنیان شامل دي.
د دایکندي نه د تلفاتو کوم معلومات ندي ورکړل شوي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

په همدغي موده کې، د افغاني تلفاتو شمېره ۱۱۰۳ تنه وه، چې په انځور 3.20 کې د ښودل شویو ټولو ۱۱٤۹ ملکي تلفاتو ته نږدې وررسېدله.[72] د ملکي تلفاتو ستره برخه د اګست په میاشت کې رامنځته شوې - تقریباً د هغې شمېرې دوه هومره چې د جولای په میاشت کې وژل شوي وو. د جولای ۱ او سپټمبر ۲۰ ترمنځ د بل هر ولایت دوه هومره تلفات د کندهار په ولایت کې رامنځته شوي، چې ۳۰۵ پېښې یې ثبت شوې دي. د تلفاتو ورپسې غټه شمېره په هلمند (۱٤۸) او کابل (۱٤٦) کې رامنځته شوې.[73]

## افغان ملي اردو

د CSTC-A له مخې، د سپټمبر ۲۰۱۰ پورې د افغان ملي اردو د سرتېرو د پیاوړتیا هدف ۱۳٤،۰۰۰ دی.[74] د ناټو له مخې، په سپټمبر ۲۰۰۹ کې د دې پیاوړتیا ۹۳،۹۸۰ تنه وه.[75] د ۲۰۰۹ لپاره، د امریکا د استخباراتو مرکزي اداري (CIA) اټکل کړی چې تقریباً ٤.۳۷ ملیونه افغان سړي د ۱٦ نه تر ٤۹ کاله عمر پورې د نظامي خدمت لپاره جوړ دي. هغوی دا اټکل هم کړی چې هر کال ۳۸۲،۷۰۰ تنه د دې خدمت لپاره موجودېږي.[76]

## د ملي اردو د روزنې حالت

د افغان ملي اردو فارغانو ته د ۱۲ نظامي ځانګړتیاو څخه په یوه کې روزنه ورکول کېږي، چې هره یوه یې د ملي اردو دننه یو ځانګړی فعالیت ترسره کوي. د هغو عسکرو تر ټولو ستر شمېر چې په پیاده کې فارغ شوي، لکه چې په انځور 3.21 کې ښودل شوی دی.[77]

انځور 3.21

د تخصص په اساس د ملي اردو د روزنې فارغان

ټول فارغان: 5,443




نور تخصصونه




سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

دا د ای اين ډي ايس هدف دی چې د ملي اردو دننه يو سيمييز او قومي توازن وساتي.[78] په ملي اردو کې د قومونو ويش تر ډېره حده د افغانستان د عمومي نفوس سره سمون خوري، پرته له دې چې په هغي مختلف ندی کوم چې په ټول هېواد کې دی، لکه چې په انځور 3.22, کې ښودل شوی، استثنا لدې چې په ملي اردو کې وړاندې قوم تاجک دی، او په هېواد کې وړاندې قوم پښتون دی.[79]

CSTC-A د ملي اردو د روزنو نظارت کوي. د جولای ۱ څخه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، د ملي اردو روزونکو سازمانونو ۱۳،۸۹۰ عسکر فارغ کړي دي.[80] اکثريت يې د کابل د نظامي روزنې د مرکز (KMTC) څخه فارغ شوي، لکه چې په انځور ۳.۲۳ کې ښودل شوي. د کابل د نظامي روزنې مرکز اساساً د کنډکونو او نظامي مشرانو د روزلو لپاره کارول کېږي. د کابل د نظامي روزنې په مرکز کې شامل دي بنسټيزه روزنه، د جګړې روزنه، نښه ويشتل، د جګړې مهارتونه، د جګړې مختلف حالتونه، او د ځمکنيو ماينونو جګړه. د کابل د نظامي روزنې مرکز د مشرتابه او ډلګي مشر کورسونه ورکوي کوم چې تاکتيکي مهارتونو او د مشرتابه ظرفيت ته وده ورکوي. د خاصو څانګړتياو د افسر د روزنې په کورسونو کې شامل دي پياده (درنې وسلې او اکتشاف)، د ميدان توپخانه، انجينيري، سګنالونه، ترانسپورت، او چاودېدونکي مواد. د جګړې پرمختللي کورسونه په لوژيستيکو، درنو وسلو، د ميدان توپخاني، اکتشاف، انتظام، انجينيری، ترانسپورت، طب، او سګنالونو کې مهارتونو ته وده ورکوي.[81]

د افغان ملي اردو د روزنې بل پروګرام د لوژيستيکو ښوونځی دی، کوم چې په انتظام، ترانسپورت، او د اکمالاتو په هغو مهارتونو کې اختصاصي روزنه ورکوي چې د يو افسر يا د يوې ډلې د مشر لپاره لازمي وي. د قوماندې او عمومي مامورينو پوهنځی (CGSC) د نظامي پرېکړې کولو په پروسه، تاکتيکي عملياتو، او د پرمختلليو نظامي مفکورو په تطبيق او په نظامي عملياتو کې د کارولو لپاره د ستونځو د حل کولو د نمونو په اړه مامورينو او افسرانو ته کورسونه وړاندې کوي. هغه زده کوونکي چې په CGSC کې د جيګې قوماندې او مامورينو کورس وايي د جغرافيوي منطقې دننه د بهرني پوځ، پوليسو او دولتي ادارو مطالعه کوي او هغه د خپلو ادارو سره پرتله کوي.[82]

انځور 3.22

قومي استازيتوب: د ملي اردو د روزنې فارغان د افغانستان د نفوس په پرتله (فيصدی)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. شمېرې د 9\30\2009 سره سم دي. د ملي اردو د فارغانو د "نور" په کټګورۍ کې شامل دي عرب، نورستاني، ترکمن، او نامشخص شوي قوميتونه. د نفوس لپاره د "نور" په کټګورۍ کې شامل دي ايماق، ترکمن، بلوچ، او نامشخص شوي قوميتونه.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د سي ايس ټي سي-ای ځواب، 10\2\2009؛ سي ايي ای، "د نړۍ د حقايقو کتاب افغانستان،" www.cia.gov/library/publications/the world-factbook/geos/af.html#top-، وکتل شو په 9\20\2009.

انځور 3.23

په پروګرام د ملي اردو فارغان




يادونه: د پیاوړي عسکری مرکز د روزنې پروګرام ندی. د نورو معلوماتو لپاره د ملي اردو د روزنې برخه وګورئ.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 10\2\2009.

انځور 3.24

د يونټ په ټاکنه د ملي اردو د روزنې فارغان




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

د ياغيتوب ضد روزنې مرکز – افغانستان په افغانستان کې د ياغيتوب ضد پرينسپونه او په عملياتو کې د هغوی تطبيق ښيي. د چاودېدونکو توکيو د شنډولو اداره د چاودېدونکو الاتو د جوړولو (IEDs) او موادو د سمبال او بې وسلې کولو روزنه ورکوي.[83]

د ملي اردو د روزنې لپاره دوه اضافي پروګرامونه هم کارول کېږي خو په دې موده کې يې فارغان نه لرل. د کابل منځنی نظامي ښوونځی (KMHS) او د افغانستان ملي نظامي اکادمي (NMAA) د ملي اردو لپاره ښوونځي دي. د کابل منځنی نظامي ښوونځی يو درې کلن اکاديميک پروګرام دی چې زده کوونکي د نورې روزنې او د افغانستان په ملي نظامي اکادمی يا يوه ملکي پوهنتون کې د درس ويلو لپاره يې چمتو کوي. د افغانستان په ملي نظامي اکادمی کې، زده کوونکي د دولسم سند ترلاسه کوي او د پرمختيا د دې څلورو ستنو سره سم روزنه او زده کړه ورکول کېږي: اکاديميک، نظامي، جسماني، او شخصي کرکټر. د درېو موضوعاتو وړانديز ورته کېږي: ملکي انجينيري، د کمپيوټر علم، او قانون.[84]

د پياوړې عسکرۍ مرکز (CFC)، هر څو که روزنيز کورس ندی، خو يو داسې ځای دی چېرته چې يونټونه ابتدايي اجتماعي روزنې د دې لپاره جوړوي، تجهيزوي او ترسره کوي چې اغېزمنه عسکري بهتره کړي او عام روزنيز معيار وساتي. په CFC کې، يونټونه د دې لپاره چمتووالی نيسي چې د عملياتو لپاره په خپلو ټاکلو سيمو کې ځای پر ځای شي.[85]

د ملي اردو ټول عسکر د ۲۱ يونټي ټاکنو څخه يو ته ورکول کېږي. د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، د عسکرو تر ټولو غټه ډله ۲۰۵م قول اردو ته ورکړل شوې، لکه چې په انځور ۳.۲۴ کې ښودل شوي دي. په دې يونټي ټاکنو کې ښايي هوايي ځواک، د کوماندو کنډک، او د مخدره موادو ضد پياده کنډک هم شامل وي.[86]

## د ملي اردو چمتووالی

CSTC-A د ای اين ايس ايف د درجو لپاره د وړتيا معيار (CM) کاروي څو د ځواکونو په وړتيا کې پرله پسې بهتري وښيي.[87] په دې درې مياشتنۍ کې څلورو نورو يونټونو ته درجه ورکړای شوې وه.[88] د سپتمبر ۱۳، ۲۰۰۹ سره سم، CSTC-A د ملي اردو ۴۴ يونټونه په CM1 کې راپور کړي، چې تقريباً د ۳۵% هغو يونټونو

انځور 3.25

د ملي اردو د یونټ د وړتیا د معیار درجې، د وخت نه تر وخت پرتله




یادونه: CM1 = ټول معیارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمیاتي پېمانې <85%، د رول په فعالیت کې کیفیاتي اندازه <85%.
CM2 = زیات معیارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمیاتي پېمانې <70-85%، په رول کې د فعالیت کیفیاتي اندازه <70-85%.
CM3 = یو څو معیارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمیاتي پېمانې 50-70%، د رول په فعالیت کې کیفیاتي اندازه <50-70%.
CM4 = هیڅ معیارونه په مناسب ډول ندي ترسره شوي، کمیاتي پېمانې <50%، په رول کې د فعالیت کیفیاتي اندازه <50%.
بنایي د اور ملاتړ، نږدې هوایي ملاتړ او MEDEVAC پکې شامل نه وي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې د OSD ځواب، 2009\8\7.

استازیتوب کوي چې د دې درې میاشتنۍ لپاره یې درجه بندي شوې ده.[89] په تېره درې میاشتنۍ کې، د ملي اردو تقریباً ۳۸% یونټونه په CM1 درجه بندي شوي وو.[90] لکه چې په انځور 3.25 کې ښودل شوی، د تېرې درې میاشتنۍ څخه د CM1 په درجه کې ٦% ټیټوالی راغلی و. د ملي اردو د CM درجو پر بنسټ، د اوسط CM درجې حساب د ملي اردو د هغو نهو قول اردو څخه د هر یو څخه شوی و چې په معلوماتو کې وړاندې شوي دي. په دغو کې درې قول اردو د CM1 په درجه راغلي وي، څلور د CM2 په درجه، او دوو ته د CM3 درجه ورکړل شوې وه. هیڅ قول اردو د CM4 په اوسط درجه نه و.[91]

په افغانستان کې امنیتي ځواکونه کاروانونه د تجهیزاتو او اکمالاتو د لېږد لپاره کاروي. په سپتمبر ۸، ۲۰۰۹ د یو خاص کاروان په عملیاتو کې، د امریکایي میرینو یو غونډ د ملي اردو د غړیو او د هغوی د امنیتي پالونکو سره په یوه کاروان کې چې د کمپ لیدرنیک څخه روانېده چې د دوایر مخ په وړاندې عملیاتو مرکز ته ساختماني اکمالات او تخنیکي برخې یوسي شریک شو. په دې کاروان کې تر ٤٠ زیاتې موټرې شاملې وې، چې د اوه ټنه ټرکونو چې د اوسپنې کنټینرونه یې بار کړي وو څخه تر وړو پک اپ ټرکونو رسېده.

سرچینه: د دفاع محکمه، "د دفاع مخ: سمندرې ځواکونه په افغانستان کې د کاروان رهبري کوي،" ۲۰۰۹\۱٤\۹.

## د ملي اردو د انفراسټرکچر حالت

د CSTC-A له مخې، د ملي اردو د انفراسټرکچر ۱۷٦.۹۸ ملیونه ډالرو د ارزښت ۱۸ پروژې د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ بشپړې شوې دي. د انفراسټرکچر په قراردادونو کې داسې پروژې شاملې دي لکه پوځي چاوني، روغتونونه، د عسکرو طبي کلینکونه، او د سرتېرو د روزنې ځایونه. د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، د ۲۳۹.۲۱ ملیونه ډالرو د لګښت د داسې ۲۷ پروژو قراردادونه ورکړل شوي دي.[92]

## د ملي اردو د تجهیزاتو حالت

د CSTC-A له مخې، ملي اردو د تجهیزاتو درجه بندي د سختو وسلو، موټرو، او د هغو تاکتیکي ارتباطي تجهیزاتو په توګه کوي چې تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې ۱۳٤،۰۰۰ ته د دې په لوړېدو کې د ملاتړ لپاره ضروري وي. د ملي اردو پرسونل په M16 A2 ټوپکو او M24 پټ ویشتونکو ټوپکو؛ M203A2 ګرینېډ لانچرو؛ او

انځور 3.26

د ملي اردو تجهیزات




سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 10\2\2009.

انځور 3.27

د ملي اردو تلفات

په ولایت




په میاشت

په جګړه کې ټول ټپیان شوي: 331
په جګړه کې ټول وژل شوي: 113




یادونه: د دایکندي څخه د تلفاتو کوم معلومات ندي ورکړل شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 10\2\2009.

M2، M240، او M249 ماشیندارو مجهز دي. د ترانسپورت لپاره، ملي اردو سپکي اوسط تاکتیکي موټرې (LTV او MTV)، زره بند د لوړ حرکت ډېر هدف د ټیرونو موټرې (HMMWV)، او امبولانسونه کاروي. د ارتباطاتو لپاره، ملي اردو د سټیشن بنیاد، وړل کېدونکي، په موټر لګېدونکي، او لاسي لرونکي راډیوګاني کاروي. د جولای ۱ او سپټمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، ملي اردو ۲،۰۴۰ وسلې، ۹۲۷ موټرې، او ۲،۱۴۷ راډیوګاني په کار اچولې، لکه چې په انځور ۳.۲۶ کې ښودل شوي دي.[93]

CSTC-A په افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) وسلې ویشي. د متحده ایالاتو د پوځ د امنیتي مرستې قومانده او د بحري پوځ د نړیوالو پروګرامونو دفتر د افغان ځواکونو لپاره وسلې ترلاسه کوي، او بیا د دفاع محکمه او د هغې قراردادیان دغه وسلې د هوا له لارې کابل ته انتقالوي. CSTC-A دغه وسلې د ساتلو په جلا جلا یونټونو کې د ملي اردو او ملي پولیسو لپاره ساتي او بیا یې دغو ځواکونو ته په ترتیب سره ورکوي.[94]

## د ملي اردو تلفات

د جولای ۱ او د سپتمبر ۲۰، ۲۰۰۹ ترمنځ، CSTC-A راپور ورکړی چې ۳۳۱ د ملي اردو عسکر په جګړه کې ټپیان شوي او ۱۱۳ په جګړه کې وژل شوي دي. د تلفاتو زیاته برخه په جنوبي او ختیځو سرحدي سیمو کې رامنځته شوي؛ تر ټولو زیات تلفات په هلمند کې رامنځته شوي، لکه چې په انځور ۳.۲۷ کې ښودل شوي دي.[95]

## د افغان ملي اردو هوایي ځواک

د افغان ملي اردو هوایي ځواک (ANAAC) د ملي اردو یوه مخ پر زیاتېدونکې څانګه ده.[96]

ANAAC ګڼ شمېر رولونه لري:

- د ولسمشرۍ د پورته کولو وړتیاوې برابرول
- د افغانستان د وسله والو ځواکونو او په افغانستان کې د نورو سازمانونو لوژیستیکي ملاتړ او ترانسپورت
- د یو ملي مصیبت په صورت کې د بشري هڅو ترانسپورت
- د جګړې په میدان کې پوځي ځواکونو هوایي ملاتړ او هوایي پوښښ
- د ANAAC د الوتکو لپاره امنیت[97]

ANAAC لخوا MI-17 او MI-35 هلیکوپټرې، AN-26 او AN-32 د ولاړو پرو الوتکې، او L-39 جیټ الوتکې کاروي.[98] د دوی سره دا مهال ټولې ۳۶ د ولاړو او تاوېدونکو پرو الوتکې موجودې دي؛ تمه کېږي چې دا تر ۲۰۱٦ پورې ۱۳۹ الوتکو ته ورسېږي.[99]

د سپتمبر ۱۳، ۲۰۰۹ سره سم، د ANAAC څلورو يونټونو ته د CM3 درجه ورکړای شوي وه. دا درجه بندي ښيي چې دا يونټونه د نړيوالو د مرستې سره د عملياتو د ترسره کولو يوه برخه وړتيا لري.[100]

## افغان ملي پوليس

د CSTC-A له مخې، تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې، د افغان ملي پوليسو د پرسونل د پياوړي کولو اخري هدف ۱۰۹،۰۰۰ تنه دی.[101] د دفاع د محکمې له مخې، د ملي پوليسو پرسونل د مئ ۲۰۰۹ سره سم ۸۱،۵۰۹ تنه و.[102] په افغان ملي پوليسو کې شامل دي افغان منظم پوليس، د افغان ملکي ترتيب پوليس، افغان سرحدي پوليس، د افغانستان د مخدره موادو ضد پوليس، او اضافي متخصص پوليس چې په مسووليتونو کې يې شامل دي جنايي تحقيق، تروريزم ضد عمليات، او د ګمرکاتو تنفيذ.[103]

د افغان ولس د ساتنې پروګرام (AP3)، د ملکي پوليسو يو پروګرام دی، چې په مارچ ۲۰۰۹ کې د يو روان پروګرام په توګه پيل شوی و څو په وردګ ولايت کې امنيتي هڅو ته کار وکړي. د AP3 پروګرام د کورنيو چارو د وزارت برخه ده او د ولسوالی د امنيه قوماندان لخوا کنټرولېږي. د AP3 پروګرام لپاره افغانان د کليو د شوراګانو لخوا غوره کېږي او بيا د درې اونيو د روزنيزې ناستې څخه تېرېږي. يو ځل چې دوی وروزل شي، نو د سرکونو او ښوونځيو او عامه ودانيو لپاره امنيت نيسي، او نور فعاليتونه ترسره کوي لکه د "ګاونډ څوکيداري." د اګست ۲۰، ۲۰۰۹ سره سم، د دفاع د سکرتر دفتر (OSD) راپور ورکړی چې د ای پي۳ ۵۴۸ تنه پرسونل روزل شوي او په ټولنو کې ځای پر ځای شوی دی. امريکايي ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) دا مهال دي پروګرام ته کتنه کوي او پرېکړه به کوي چې ايا دا په نورو سيمو کې تکرار کړي که نه.[104]

## د افغان ملي پوليسو د روزنې حالت

د CSTC-A له مخې، د جولای ۱ او سپتمبر ۲۰۰۹ ترمنځ، د افغان ملي پوليسو ۸،۲۷۰ تنه پرسونل د روزنيزو سازمانونو څخه فارغ شوي دي.[105] د تر ټولو زياتو فارغانو پروګرام د کابل د امنيت د تېزولو رفعت\10k لوړول و لکه چې په انځور 3.28 کې ښودل شوي. دا پروګرام بنسټيزه ۸ روزنه ورکوي، کوم چې يو د اته اونيو پروګرام دی چې د ملي پوليسو د لاربښودونکو لخوا د قراردادي د نظارت سره ښودل کېږي. زده کوونکي پکې د لومړي ځواب ورکوونکي مسووليتونه، تاکتيکي روزنه، د ايي اي ډي څخه خبرتيا، اکتشاف او د استخباراتي معلوماتو راغونډول، د جګړې د ميدان روزنه، ملکي ناکرارۍ او د ډزو د تخنيکونو په اړه زده کړه کوي. ملي پوليس د يو شمېر نورو پروګرامونو په واسطه هم روزل کېږي.[106]

د ولسوالی د پرمختيا د تمرکز په پروګرام کې شامل دي پرمختللي ۸ روزنه، د مشرتابه او سمبالښت د پرمختيا روزنه، او د افسر او نا کميشنه افسر (NCO) بنسټيز کورس. پرمختللي ۸ روزنه يو د اتو اونيو کورس دی چې د پوليسو پرمختللي تاکتيکونه او د شپې عمليات وروښيي، او د تروريستانو د تاکتيکي عملياتو يوه عمومي کتنه ورکوي. د مشرتابه او سمبالښت د پرمختيا پروګرام د ستونځو حل کول، پلان جوړول، هدف ټاکل، او د پېښو د سمبالښت مهارتونه ښيي. دا همدارنګ د مشرتابه وړتياو ته وده ورکوي او ښيي چې په څرنګه ښه طريقه هغه



**شورا:** د افغان مشرانو غونډه.

سرچينه: د دفاع محکمه، "زده کړه په ختيځ افغانستان کې مخ پر وړاندې ځي،" ۲۰۰۹\۲۳\٦.

انځور 3.28

د ملي پوليسو د روزنې فارغان په کورس




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

**د ميزان د ولسوالۍ ولسوال** د هغې شورا پر مهال د پوښتنو ځوابونه ورکوي چې د سيمييزو افغاني مشرانو سره د دې لپاره جوړه شوې وه چې د ملي پوليسو د مشر او امريکايي عسکرو سره امنيتي ستونځې بحث کړي (د متحده ايالاتو د پوځ انځور، ټولګی مشر کريس ايګلين)

فعالیتي او شخصي مسلي سمبال کړای شي چې د پولیسو مشران ورسره ښایي مخ شي. د افسر او این سي او کورس د پولیسو د ماموریت دفاع، د وسلو د اور او نښې، د مشرتابه، او تروریزم ضد تاکتیکونه ښیي.[107]

د پولیسو د اکاډمۍ د افسر د روزنې پروګرام یو د درېو کلونو پروګرام دی چې د افغان ملي پولیسو په اکاډمۍ کې ښودل کېږي، چېرته افسران د دولسم سند ترلاسه کوي. د ملي پولیسو د اکاډمۍ د نا کمیشنه افسر د روزنې پروګرام، کوم چې څلور نیمې میاشتې دوام لري، هم په دې اکاډمۍ کې ښودل کېږي.[108]

د افغان ملکي نظم د پولیسو په پروګرام کې د اته اونیو د ګزمه کوونکي لاربنودني او اتو اونیو پرمختللې روزنه شامله وي. دا پروګرام د ملي اردو د لاربنودونکو لخوا د قراردادي د نظارت سره ښودل کېږي.[109]

د سرحدي پرمختیا د تمرکز پروګرام یو د شپږو اونیو، د قراردادي په مشرۍ د سرحدي روزنې لاربنودنه د، چې دوه اونۍ یې په مېدان کې ښودنې ته ځانګړې شوې دي. د دې روزنې تمرکز د بقا او مخنیوي په مهارتونو دی. د نښې په ویشتلو او د ډزو په پرمختللیو مهارتونو او همداراز د کوچني یونټ په تاکتیکونو او د موټرو په فعالیتونو کې هم لاربنودني ورکول کېږي.[110]

CSTC-A راپور ورکړی چې د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ ۲،۶۱۱ د ملي پولیسو فارغان د ۱۱ ولایتونو په امنیه قوماندانیو کې ټاکل شوي دي. د دې فارغانو اکثریت جنوبي حوزې ته ورکړل شوي دي. تر ټولو غټه ډله یې د کندهار د پولیسو مرکزي قوماندانۍ ته ورکړل شوې ده، لکه چې په انځور ۳.۲۹ کې ښودل شوي.[111]

د روزنې په وړاندې ګڼ شمېر ننګونې شته. د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري خبر ورکړی چې د ۱۵ کالو نه بره ۵۰% افغان سړي بې سواده دي.[112] د دې مانا دا ده چې اندازتاً نیم د هغو سړیو نه چې د نظامي خدمت لپاره جوړ دي لیک لوست نشي کولی. د متحده ایالاتو د میرین ځواکونو د روزونکو له مخې، د روزنې په نورو ننګونو کې شامل دي د روزونکو او روزل کېدونکو ترمنځ د ژبې خنډ او د روزل کېدونکو افغانانو کم تعلیم.[113]

انځور 3.29

په ولایتي ټاکنه د ملي پولیسو د روزنې فارغان




سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 10\2\2009.

## د ملي پولیسو چمتووالی

د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، CSTC-A د ملي پولیسو د ۱۱ یونټونو لپاره د CM1 د درجه بندۍ راپور ورکړی، کوم چې د دې درې میاشتنۍ لپاره د درجه بندي شویو یونټونو د شاوخوا ۱۲% استازیتوب کوي.[114] لکه چې په تېره درې میاشتنۍ کې راپور شوي وو، د مئ ۲۳ سره سم ٤% یونټونه د سي ایم۱ په توګه درجه بندي شوي وو.[115] د دې درې میاشتنۍ لپاره درجه بندي شویو اکثرو یونټونو ته د سي ایم۲ او سي ایم۳ درجه ورکړل شوې، لکه چې په انځور ۳.۳۰ کې ښودل شوي.[116]

## د ملي پولیسو د انفراسټرکچر حالت

د CSTC-A له مخې، د ملي پولیسو د انفراسټرکچر تعریف د هغو ودانیو او مستقلو تجهیزاتو په توګه شوی چې د پولیسو د پرسونل د ملاتړ، بیا ځای پر ځای کولو، او عملیاتو لپاره ضروري دي. په دې کې داسې ودانۍ شاملې دي لکه بیرکونه، قوماندانۍ، د روزنې ودانۍ او سلسلې، اداري ځایونه، وسلې ځایونه او د ساتلو ودانۍ، او انتظامي اسانتیاوې. د انفراسټرکچر هغه قراردادونه چې د جولای ۱ څخه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې فعال وو، د داسې پروژو لپاره وو لکه د کنډک مرکزي قوماندانۍ، د ولسوالۍ قوماندانۍ، او ولایتي قوماندانۍ.[117]

CSTC-A د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم د ملي پولیسو د انفراسټرکچر د ۲۶۹ فعالو قراردادونو راپور ورکړی. د دغو نه ۳۲ قراردادونه، چې ټولیز ارزښت یې ۵۸.۸۳ ملیونه ډالر دی، د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ د بشپړېدو لپاره ترتیب شوي وو.[118] په همدې موده کې د انفراسټرکچر ۱٤ پروژې، چې ټولیز ارزښت یې ٤۰.۵۵ ملیونه ډالر و، ورکړل شوې وې.[119] د انفراسټرکچر د پروژو د ټولو نه غټه شمېره چې په دې موده کې یې د بشپړېدو تمه کېدله په بدخشان ولایت کې وې. د تر ټولو غټ ټولیز ارزښت لرونکې پروژې چې په دې موده کې یې د بشپړېدو تمه کېدله په سمنګان ولایت کې وې.[120] د ۲۳.۱۰ ملیونه ډالرو د ارزښت ۱۱

انځور 3.30

د ملي پوليسو د يونټ د وړتيا معيار درجه بندي

ټول يونټونه: 95




يادونه: CM1 = ټول معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پيمانې <85%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <85%.
CM2 = زيات معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پيمانې <70-85%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <70-85%.
CM3 = يو څو معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پيمانې 50-70%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <50-70%.
CM4 = هيڅ معيارونه په مناسب ډول ندي ترسره شوي، کمياتي پيمانې <50%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <50%.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

قراردادونه فسخ شوي وو.[121]

## د ملي پوليسو د تجهيزاتو حالت

د CSTC-A له مخې، ملي اردو د تجهيزاتو درجه بندي د سختو وسلو، موټرو، او د هغو تاکتيکي ارتباطي تجهيزاتو په توګه کوي چې تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې ۱۰۹،۰۰۰ تنو پرسونل ته د دې په لوړېدو کې د ملاتړ لپاره ضروري وي.[122] د جولای ۱ څخه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې ملي پوليسو ۶،۴۳۷ انفرادي او عملي ته تاکل شوي وسلې په کار اچولې.[123] CSTC-A ملي پوليسو ته د وسلو او تجهيزاتو اکمالات د هماغې پروسې په واسطه کوي چې ملي اردو ته يې کوي. د مرستو په پيسو او د متحده ايالاتو په بوديجو اخيستل شوي د وارسا تړون وسلې د ملي پوليسو د وسلو اکمالات جوړوي.[124] د ملي پوليسو پرسونل په 9mm تفنګچو؛ AK-47، PKM، او PRK ماشينګنو؛ او RPG، GP-25، او GP-30 راکټ لانچر وسلو مجهز دي.[125]

د جولای ۱ نه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، د CSTC-A له مخې، ملي پوليسو ۴۷۶ فورډ رينجر ترکونه، چې LTV ورته ويل کيږي،او څلور انټرنيشنل هارويسټرز، چې MTV ورته ويل کيږي، په کار اچولي دي.[126] ملي پوليس د هر-ځای موټرو (ATV) هم کاروي خو په دې موده کې يې د دې ډول کوم موټر په کار ندی اچولی. د سپتمبر ۳۰ سره سم، ملي پوليس په راتلونکې کې د ۵۷٤ اضافي موټرو پلان لري.[127] د CSTC-A له مخې، تمه کيږي چې ملي پوليسو ته د ۲۰۰۹ د منې په اخر کې د زره بند HMMWV موټرو اکمالات وشي. د افغان ملکي نظم پوليس او افغان سرحدي پوليس د امبولانسونو ترلاسه کول هم غواړي.[128]

د CSTC-A له مخې، د دې درې مياشتنې پر مهال ملي پوليسو ۲،٤۵۰ راډيوګان په کار اچولي. ملي پوليسو په دې موده کې ٤،۱٦۲ راډيوګاني ترلاسه کړي، لکه چې په انځور 3.31 کې ښودل شوي دي. د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، ملي پوليس د کومو اضافي راډيوګانو لپاره پلان نلري.[129]



**د ملي پوليسو افسران** د هلمند ولايت د ګرمسېر په ولسوالۍ کې د امريکايي سمندري ځواکونو سره د يوې ګزمې پر مهال امنيت ساتي. سمندري ځواکونه د دې لپاره ځای پر ځای شوي دي چې افغان ملي پوليس د تروريزم ضد عملياتو لپاره وروزي او سرپرستي يې وکړي. (د متحده ايالاتو د بحري ځواکونو انځور، ټولګۍ مشر پيټي تهيبوډو)

انځور 3.32

د ملي پوليسو تلفات
په ولايت




په مياشت

په جګړه کې ټول ټپيان شوي: 350
په جګړه کې ټول وژل شوي: 184




يادونه: د دايکندي څخه د تلفاتو کوم معلومات ندي ورکړل شوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

انځور 3.31

ـليسو تجهيزات




ماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10.

د دفاع د محکمې له مخې، CSTC-A د مخابراتو د يوې بلې هڅې په توګه د ملي پوليسو او افغان داخله وزارت لپاره يو د داخلي پروتوکول پر بنسټ نيټ ورک او يو بې سيمه راډيو نيټ ورک جوړوي. دا نيټ ورکونه به ټولې پنځه سيميزې قومانډې او په ټولو ۳٤ ولايتونو کې يونيټونه، او ځومره ولسوالۍ چې امکان لري مربوطې کړي. CSTC-A همداراز د فعاليتي همکارۍ په سيمييزو او ولايتي مرکزونو کې داسې نيټ ورکونه او راډيو سيستمونه نصبوي چې د کورنيو چارو د وزارت د ملي پوليسو د قومانډې مرکز او د دفاع د وزارت د ملي نظامي قومانډې مرکز به سره وتړي. CSTC-A پلان لري چې دا راډيو نيټ ورکونه تر ۲۰۱۲ پورې بشپړ کړي.[130]

## د ملي پوليسو تلفات

A راپور ورکړی چې د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ د ملي پوليسو ۳۵۰ پرسونل په جګړه کې ټپيان شوي او ۱۸٤ په جګړه کې وژل شوي دي. اکثريت د تلفاتو څخه په سرحدي سيمو کې رامنځته شوي، لکه چې په انځور 3.32 کې ښودل شوي دي. تر ټولو غټه شمېره په هلمند ولايت کې رامنځته شوې.[131]

## د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول

دا د ANDS هدف دی چې ټولې غير قانوني وسله والې ډلې به تر مارچ ۲۰، ۲۰۱۱ پورې بې وسلې کولی شي.[132] دا برخه په هېواد کې د غير قانوني وسله والو ډلو د حالت او د هغوی د بې وسلې کولو لپاره په روانو هڅو کې د پرمختګ په اړه معلومات وړاندې کوي.

د کانګرس د څېړنې د خدمت له مخې، غير قانوني وسله والې ډلې هغه "غير قانوني ملېشې دي چې د افغانستان د جګړې د کلونو پر مهال يې قوت موندلی دی."[133] د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له مخې دا ډلې د ملي امنيت لپاره نبغ په نبغه خطره ده. د افغان دولت له مخې، د ډېرو داسې ډلو قوماندانان د پوليسو سره نږدې اړيکې

لري او يا د سيمييزو حکومتونو غړي دي. دا په هېواد کې د اداري فساد مسلې ته لار ورکوي؛ دا همداراز د نشه يي توکيو د کاروبار په له منځه وړلو کې يو مهم خنډ ګڼل کېږي. د افغان دولت له مخې د غير قانوني وسله والو ډلو خطره به تر هغې موجوده وي تر څو چې حکومت د دې توان ونلري چې په هېواد کې مناسب امنيت برابر کړي.[134]

## حالت

په افغانستان کې د غير قانوني وسله والو ډلو د بې وسلې کولو د هڅې مشري د افغانستان د نويو پيلونو پروګرام (ANBP) کوي. ANBP د افغان دولت د غير قانوني وسله والو ډلو د منحل کولو (ډاياګ) د پروګرام ملاتړ کوي، کوم چې د بې وسلې کولو، بې حرکته کولو، او بيا ځايولو هڅو ته ادامه ورکوي.[135]

د بهرنيو چارو د محکمې له مخې، ANBP او ډاياګ د غير قانوني وسله والو ډلو د بې وسلې کولو لپاره ۱۱۹ ولسوالۍ په نښه کړې دي. د جولای ۱ څخه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، دې پروګرامونو داسې ٤٤ ډلې بې وسلې کړې دي.[136] په ټوله کې، دوی په نښه شويو ولسواليو کې د ۹۸۷ ډلو څخه ٦۸٥ ډلې بې وسلې کړې دي. اکثريت د دې بې وسلې کولو د هېواد په نيمه شمالي برخه کې ترسره شوې، لکه په انځور ۳.۳۳ کې چې ښودل شوي دي.[137] يو ځل چې بې وسلې شي، نو د دې ډلو د پخوانيو غړيو نګراني د ډاياګ د سيمييزو دفترونو لخوا کېږي څو دوی بيا غير قانوني وسله والې ډلې جوړې نکړي.[138] دا مهال د ۱۱۹ په نښه شويو ولسواليو څخه ۸٤ د ANBP او ډاياګ لخوا تابع اعلان شوې دي. د دې پروګرامونو له پيل راهيسې، ای اين بي پي او ډاياګ د غير قانوني وسله والو ډلو څخه ٤٥،٥٧٦ ميله وسلې راغونډې کړې دي.[139]

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) عمليات

د بهرنيو چارو د محکمې له مخې، افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس د ډاياګ په هڅو کې ګډون کوي خو د غير قانوني ډلو د بې وسلې کولو د بل کوم پروګرام مشري نه کوي.[140]

## ننګونې

ډاياګ خپلو هڅو ته په ادامه ورکولو کې د ګڼ شمېر ننګونو سره مخ دی. د UNDP له مخې، د دې فعاليتونه محدود دي څکه چې په ډېرو ولسواليو کې بې ثباته امنيتي وضعه د بې وسلې کولو د هڅو لپاره د دې لاسرسی مشکل کوي. د غير قانوني ډلو په اره د ډاياګ محدود معلومات او د وسلو پريمانه قاچاق چې په هېواد کې ترسره کوي دا ګرانوي چې دقيق ريکارډونه وساتل شي. د ولايت او ولسوالۍ په سطحه ضعيفي دولتداری، ډاياګ سره د بدلېدونکي سياسي ژمنتيا سره په ګډه، د پروګرام لپاره دا دې مشکله کړې چې کشش ترلاسه کړي.[141]

## د ناچاودېدلو موادو لېرې کول

د ناچاودېدلو موادو د لېرې کولو لپاره د ای اين ډي ايس اساسي هدف دا دی چې د ۲۰۱۰ د پای څخه وړاندې هغه ځمکه ۷۰% کمه کړي چې په ماينونو او ناچاودېدونکو موادو لړل شوې ده.[142] دا برخه د هغو سازمانونو پرمختګ تشريح کوي چې د ماينونو د پاکولو په هڅه کې بوخت دي.

انځور 3.33

د بې وسلې شويو غير قانوني وسله والو ډلو شمېر




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو د محکمې ځواب، 2009\2\10.

**د افغانستان د نويو پيلونو پروګرام:** د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) د لاندې په اپريل ۲۰۰۳ کې د دې لپاره جوړ شوی چې د افغانستان د دولت سره د افغانستان د نظامي ځواکونو په منحل کولو، بې حرکت حکولو، او بيا ځايولو کې مرسته وکړي.

سرچينه: UNDP "د افغانستان د نويو پيلونو پروګرام (ANBP)"، "www.undp.org.af/WhoWeAre/UNDPAfghanistan/Projects/psl/prj.anbp.htm، وکتل شو په ۲۰۰۹\۹\۱۰.

**د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول:** يو پروګرام چې د کورنيو چارو وزارت ته د تطبيق لپاره ظرفيت پيدا کوي. د کورنيو چارو د وزارت څخه تمه کېږي چې د داسې کولو بشپړې استعداد به تر مارچ ۲۰۱۰ پورې ولري. په اپريل ۲۰۰۹ کې، واليانو په خپلو منطقو کې د غير قانوني وسله والو ډلو نقشې جوړې کړې، او ډاياګ ته يې توان ورکړ چې د هغوی د ځايونو په اره معلومات ترلاسه کړي.

سرچينه: UNDP افغانستان، "د ډاياګ د دويمې درې مياشتنې د پروژې د پرمختګ راپور - ۲۰۰۹،" مخونه. 3, 6, 9.

په سپتمبر ۱۶، ۲۰۰۹، د کونړ د سرکاني ولسوالی یو اوسپدونکي د مانوګي د ولسوالی مرکز ته نهه ماینونه وسپارل. د متحده ایالاتو د خطري هدف خواک عسکر د ولسوالی مرکز ته ورغلل چې دغه ماینونه لیرې او شنډ کړي. هغه اوسپدونکي چې ماینونه یې سپارلي وو ته د کوچنیو جایزو د پروګرامونو له لارې جایزه ورکړای شوه، دا پروګرام هغو افغانانو ته معاوضې ورکوي چې وسلې او چاودېدونکي مواد سپاري او یا د یاغیانو د فعالیت په اړه معلومات او اشاري ورکوي.

سرچینه: د دفاع محکمه، "ملکیان، عسکر په افغانستان کې د بدلون لپاره ګډ کار کوي،" ۲۰۰۹/۱۲/۸.

د ملګرو ملتونو له مخې، افغانستان په نړۍ کې یو له هغو سیمو څخه دی چې ډېر زیات ماینونه پکې کرل شوي دي.[143] د دې ناچاودېدلو موادو د لیرې کولو په کار کې ستر ټولنیز کار بوخت پاتې شوی دی. د افغانستان دولت او سیمییزې او نړیوالې موسسې د جګړې د پاتې شونو چاودېدونکو موادو (ERW) د تصفیه کولو هدف ته ادامه ورکوي، د اي ار ډبلیو پېښو څخه د پاتې کېدونکیو پاملرنه کوي، او رابرسېره شوې مهمات له منځه وړي یا یې خوندي کوي چې په راتلونکي کې د یاغیانو لخوا د هغوی د استعمال مخه ونیسي.[144]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي له مخې، په ټولنیز بنیاد د ماینونو لیرې کول د هېواد په ډېرو نا امنه سیمو کې یوه اغېزمنه طریقه ده، په ځانګړې توګه په جنوب او ختیځ کې، ځکه چې دغلته نړیوال سازمانونه راوستل ګران کار دی. . په دې هڅه کې سیمییزو خلکو ته په کلیو کې د خطرناکو ناچاودېدلو موادو د لیرې کولو لپاره معاشونه ورکول کېږي.[145]

## حالت

د بهرنیو چارو د محکمې له مخې، په افغانستان کې د ماینونو د اقدام پروګرام (MAPA) هغه اساسي سازمان دی چې د ځمکني ماینونو او نورو ERW د لیرې کولو مسوولیت په غاړه لري. MAPA د افغانستان او نړیوالې ټولنې د ۲۰ څخه زیاتو بشري ګډونوالو لخوا جوړ شوی دی. د ملګرو ملتونو-په مرسته د افغانستان د ماینونو د اقدام د همکارۍ مرکز او د ماینونو د پاکولو لپاره د افغانستان ریاست د MAPA سره په ستراتیژۍ، پلان جوړولو او فعالیت کې د همکارۍ لپاره کار کوي.[146]

د "ای این ډي ایس د لومړني کلني راپور" له مخې، د هدف سیمې ۲۵% تصفیه کړای شوې ده.[147] د بهرنیو چارو د محکمې له مخې، MAPA په ۱۹۸۸ کې د دې پروګرام له جوړېدو راهیسې تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، په ټول افغانستان کې شاوخوا ۱.۷۰ ملیارده مربع میله خطرناکه سیمه تصفیه کړې ده. په ټوله کې، MAPA په ټولو ولایتونو کې ۱۲.۳۹ ملیونه ځمکني ماینونه او نورERW لیرې کړي دي.[148]

د بهرنیو چارو محکمه د ناچاودېدلو موادو په لیرې کولو کې د خپل دوديز وسلو د له منځه وړلو (CWD) د پروګرام له لارې کار کوي، کوم چې نبغ په نبغه پنځو افغان موسسو، درېو نړیوالو موسسو، او یو د متحده ایالاتو د حکومت قراردادي ته بودیجې ورکوي. د دې پروګرام له لارې دا ډلېERW تصفیه کوي او پرېښودل شوې یا له بل پلوه هغه په خطره کې مهمات او چاودېدونکي مواد له منځه وړي یا خوندي کوي چې د یاغیانو لخوا د سړک د غاړې ماینونو یا IED جوړولو کې کارول کېدای شي. د هغې منطقې څخه چې MAPA یې د پاکولو راپور ورکړی، یوه برخه یې د بهرنیو چارو د محکمې د بودیجه شویو سازمانونو لخوا تصفیه شوې. د ۱۹۹۳ څخه تر سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ پورې، د بهرنیو چارو د محکمې بودیجه شویو سازمانونو د ۱۶۰.۵۰ ملیونه مربع میتره څخه زیاته ځمکه پاکه کړې او شاوخوا ۳.۰۶ ملیونه ځمکني ماینونه او نورERW یې له منځه وړي دي. دې سازمانونو همداراز له ۱۱،۵۸۵ میټرک ټنه څخه زیات ساتل شوي، پرېښودل شوي، په خطره کې، یا بې کاره چاودېدونکي مواد او مهمات له منځه وړي او یا لیرې کړي دي.[149]

**میټرک ټن:** د ۱.۱ ټنو برابر، یا ۲،۲۰۵ پاونډه.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) عمليات

CSTC-A او امريکايي ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) د ملي اردو او پوليسو د هغو ځواکونو د روزنې او نګرانی مسوولیت پر غاړه لري چې د ماينونو او ERW په ليرې کولو کې بوخت دي. د روزنې او نګرانی فعاليتونه د ای اين ايس ايف د چاودېدونکو موادو د شنډولو (EOD) د چاودېدونکو مواد ضد اله (C-IED) د پروګرام او د ملي اردو د انجينير د پوهنځي لخوا ترسره کېږي.[150] لکه چې لدې مخکې د ملي اردو د روزنې په برخه کې تشريح شوي، د EOD C-IED پروګرام د جولای ۱ او سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ ترمنځ ۱۱۶ تنه د ANSF پرسونل روزلی دی. په دې پروګرام کې د چاودېدونکي الې د ماتې په نامه يو د اتو اوونيو کورس شامل دی. ANSF د ۱۲ اونيو په يو کورس کې د EOD د تخنيک کارانو په توګه روزل کېږي چې څرنګه د ماينونو او ناچاودېدلو موادو د ليرې کولو عمليات ترسره کړي. يو د پنځو ورځو کورس د ANSF غړي د C-IED د بېداری د لارښودونکو جوړولو لپاره روزي.[151]

## ننګوني

د بهرنيو چارو د محکمي له مخې، د ناچاودېدلو موادو سره په مياشت کې ۶۰ تلفات ترلي دي. ماشومان يې تر ټولو زيات قربانيان دي.[152] د "ANDS د لومړني کلني راپور" له مخې، د هدف سيمي ۷۵% برخه د پاکېدو لپاره پاتي پرته ده.[153] د بهرنيو چارو د محکمي له مخې، د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم، ۶۹۰ مليونه مربع ميتره ځمکه اوس هم خطرناکه ګڼل کېږي. دا سيمي ۲،۰۹۰ ټولنې په منفي ډول اغېزمني کوي.[154]

ملګري ملتونه د تحفظ په خاطر افغانانو ته د ناچاودېدلو موادو په اړه زده کړې ورکوي. دې په تېرو ۱۲ مياشتو کې تر ۷۵۰،۰۰۰ زياتو خلکو ته د ماينونو د خطر په اړه زده کړې برابرې کړې دي.[155]

## د مخدره موادو-ضد هڅې

دا برخه هغه ننګونې تشريح کوي چې د مخدره موادو کاروبار په هېواد کې پيدا کړې دي. دا د هغو هڅو خاکه وړاندې کوي چې د موجودو موادو د ليرې کولو او د فصل د سرچينې په له منځه وړلو سره په راتلونکې کې د دې کاروبار د لا پرمختيا د له منځه وړلو لپاره شوې دي. دا همدارز هغه پرمختګ ښيي چې په دې هڅو کې شوی دی.

## حالت

د ای اين ډي ايس هدف د کوکنارو د ړولو لپاره تر ۲۰۱۳ پورې د ۲۰۰۷ د کچې څخه ۵۰% کموالی دی.[156] بنسټ پر هغو شمارو چې د نشو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر (UNODC) لخوا ورکړل شوي، دا د ۹۶،۵۰۰ هيکتاره سره مساوي دي. د جنوري څخه تر جولای ۲۰۰۹ پورې، شاوخوا ۵٤۰۰۰ هکتاره کوکنار ړول شوي، چې د ۲۰۰۷ د کچې څخه يې تر دې نيټې د کوکنارو ټوله کچه ۳٦% کمه کړې ده. د کوکنارو د ړولو لپاره د افغان دولت ملي ځواک، د کوکنارو د ړولو ځواک، د دې راپور شويو ړول شويو کوکنارو څخه نيم ړولي دي. نور نيم د والي په مشرۍ د ړولو په پروګرام کې ړول شوي دي.[157] د کوکنارو د ړولو ځواک ته کارکوونکي او لارښودنې د کورنيو چارو وزارت ورکوي. د والي په مشرۍ د ړولو د پروګرام ملاتړ د مخدره موادو د ضد مشاورتي ټيم لخوا کېږي چې په هغو مهمو ولايتونو کې کوکنار واړوي چېرته چې تر ټولو زيات کرل کېږي.[158]

د کونړ پروژه يوه پر ټولنه بنسټ لرونکی اقدام دی چې هغه ځمکني ماينونه او ناچاودېدلي بمونه ليرې کړي چې په ولايت کې سيمييزو خلکو ته خطره وړاندې کوي. دا پروژه د ماينونو د اقدام او د افغانانو د اصلاح د سازمان لخوا سمبالېږي چې مرکز يې په کابل کې دی.

سرچينه: "د ټولنې پر بنسټ د ماينونو د ليرې کولو د ترونونو پرمختيا او په افغانستان کې د تروريزم پر وړاندې مبارزه،" ۲۰۰۹\۲۳\٦.



د جنوري او جولای ترمنځ شاوخوا ۸۰% د کوکنارو اړولو په جنوبي او لویدیځو سیمو کې صورت نیولی، چېرته چې په ۲۰۰۹ کې ۹۹% کوکنار کرل شوي وو.[159] په دې موده کې، تر ټولو زیاته منطقه - ۴،۱۱۹ هیکتاره – په هلمند ولایت کې اړول شوي، لکه چې په انځور 3.34 کې ښودل شوي.[160] د ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۰۹ پورې د کوکنارو کر ۲۲% کم شوی. په دغه موده کې د بې کوکنارو ولایتونو شمېر د ۱۸ څخه ۲۰ ته لوړ شو.[161]

انځور 3.34

د کوکنارو اړول په ولایت،
جنوري-جولای 2009 (په هیکتارونو)




سرچینه: UNODC، "د افغانستان د افیونو سروی 2009: د موندنو لنډیز،" 9\2009، مخ 2.

## د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) عملیات

د دفاع د محکمې له مخې، افغان ملي امنیتي ځواکونه د مخدره موادو په وړاندې د خپلو هڅو په ترڅ کې د مخدره موادو د تولید ځایونه او قاچاق وړونکي په نښه کوي.[162] سږکال، د ملي اردو د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې پیاده کنډک د افغان دولت د کوکنارو د اړولو هڅو ته تحفظ ورکړی دی.[163] د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیس د ملي پولیسو هغه جزو دی چې د مخدره موادو پر ضد هڅو مسوولیت په غاړه لري.[164]

د UNODC له مخې، د جنوري څخه تر جولای ۲۰۰۹ پورې، د ANSF او ایساف ګډو ځواکونو په اوو ولایتونو (بدخشان، فراه، هلمند، هرات، کندهار، ننګرهار، او ارزګان) د مخدره موادو ضد عملیات ترسره کړي، چې غټ تمرکز یې په هلمند او ننګرهار و. په دې عملیاتو کې، دې ځواکونو ۴۵۹ ټنه د کوکنارو تخم او ۵۰ ټنه اپیم نیولي، چې زیاته برخه یې د هلمند څخه راغلې. دوی د مخدره موادو تولیدوونکي مواد هم نیولي په ګډون د ۵،۴۸۰ مایع ټنه acetic anhydride (یو ډول کیمیکل چې د مخدره موادو په تولید کې کارول کیږي)، او ۹۴ ټنه نور د مخدره موادو توکي او کیمیکل. دوی همدارز ۲۷ د مخدره موادو فابریکې له منځه وړي، چې ۱۰ یې په هلمند، ۸ په ننګرهار، ۱ په فراه، او ۱ په کندهار کې وه.[165]

## ننګوني

د UNODC له مخې، مجرمین، یاغیان، او په اداري فساد ککړ چارواکي د کوکنارو او افیون په تجارت او کرنه کې ککړ دي.[166] د ۲۰۰۹ کال له جنوري تر جولای پورې، له مخدره موادو سره د مبارزې اړوند ۳۴ امنیتي پېښې رامینځ ته شوي چې په هغوی کې حملې، ورانول او د ماینونو چادول شامل دي. تر ټول ډیر شمیر په هلمند کې

"د غیر قانوني نشه یي او مخدره توکیو قاچاق لا هم د افغانستان د خلکو او په مجموع کې د هېواد لپاره یوه خطره ده."

—ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فیلډز

سرچینه: سیګار، "د عمومي پلټونکي د پلټنې د راپور هدف دی چې باوري کړي چې د مخدره موادو ضد عدالت مرکز هماغسې کارول شوی څنګه چې یې اراده وه،" ۲۰۰۹\۱\۱۰.



**د متحده ایالاتو سمندري ځواکونه** په هلمند کې په بازار د یوې چاپې څخه وروسته د کوکنارو په تخم تېل اچوي. (د ایساف انځور)

پيښې شوي، لکه چې په انځور ۳،۳۵ کې ښودل شوي دی، چيرې چېUNODC راپور ورکړ چې د دي پيښو په نتيجه کې ۵۲ کسه ژوبل او ۲۱ ووژل شول.[167]

## د امنيت نړيوال مرستندويه ځواک (ايساف)

ايساف، چې د ملګرو ملتونو لخوا دنده ورکړل شوي او د د شمالي اتلانيتک د تړون (ناټو) تر قوماندې لاندې دی، په افغانستان کې د نړيوالي ټولنې د برخه لرلو يوه کليدې برخه ده.[168] دا په ټول هيواد کې د ۶۷،۷۰۰ امنيتي ځواکونو قومانده په غاړه لري.[169] د ناټو له مخې، د ايساف په پوځي ځواکونو کې ۴۲ هيوادونه برخه لري. د امريکا متحده ايالات د ۳۰ سپټمبر ۲۰۰۹ پوري د ۳۱،۸۸۵ سرتيرو په درلودلو سره تر ټولو لوي برخه لرونکی هيواد دی. وروسته ستر برخه اخيستونکي هيوادونه بريتانيا، آلمان، فرانسه، کاناډا، ايتاليا، او هالند دي.[170]

په هيواد کې د نړيوالو هڅو پرمخ بيولو کې، د ناټو اصلي دنده دا ده چې د افغانستان د بيا رغوني په فعاليتونو کې مرسته وکړي او د اغيزمني دولتداري لپاره په ټول هيواد کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت صلاحيت او نفوذ پراخ کړي. ناټو دا دنده د ايساف له لارې پرمخ بيايي.[171] ايساف له داسي ابتکارونو سره مرسته کوي چې په هغوی کې د غيرقانوني وسلوالو ډلو بې وسلې کول او له مخدره موادو په خلاف د مبارزي هڅي شاملې دي. دا د مخدره موادو پر خلاف مبارزه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د استخباراتو شريکولو او د عامه معلوماتو د کمپاين چلولو له لاري ملاتړ کوي. دوی همدا رنګه له ANSF سره په عملياتو کې ملاتړ کوي، چې د ايساف ټول عملياتو ۹۰ په سلو کې برخه د ملي اردو سره په ګډه عملي کيږي.[172]

## ننګوني

د OSD له مخې، سيمه ييزي قوماندي-جنوب کې د مخ پر زياتيدونکي تاوتريخوالي کچه (آر سي-جنوب؛ وګورئ انځور 3.36) د امريکا سمندري ځواکونه دي ته اړ کړل چې خپل ځواکونه وليږي او په هغه سيمه کې چې په عنعنوي توګه د طالبانو سيمه ګڼل کيږي، د "پاکولو او ساتلو" عمليات ترسره کړي. د ۲۰۰۹ په جولای کې په هلمند کې، د متحده ايالاتو د سمندري ځواکونو ۴،۰۰۰ ځواکونو د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) سره په ګډه د خنجر عمليات ("د توري ګوذار") ترسره کړل. د OSD له مخې، د دې عملياتو موخه دا وه چې سيمه له ياغيانو پاکه کړي او خلک له هغوی څخه خوندي کړي، او له جګړو او تهديدونو يي وساتي. د پاکولو له عملياتو وروسته، د متحده ايالاتو ځواکونه په سيمه کې پاته شول تر څو د عملياتو د پاتې کيدلو مرحله ترسره کړي، چې په هغې کې امنيت ساتل او وروسته د امنيت مسؤليتونه ANSF ته سپارل شامل دي. دا د بيارغوني او پرمختګ فعاليتونو ته فرصت په لاس ورکوي. د OSD له مخې، افغان ملي پوليس د امنيت ساتلو لپاره په ځانګړي توګه اړين دي.[173]

انځور 3.35

د کوکنارو د اړولو په جريان کې امنيتي پيښې، جنوري-جولای 2009




يادونې: په راپور ورکړل شويو پيښو کې بريدونه، تخريبول، او د ماين چادويدل شامل دي. د هر ولايت لپاره د معلوماتو راپور نه دی ورکړ شوی.

سرچينه: UNODC، "د افغانستان د افيونو سروی 2009: د موندنو لنډيز،" 2009\9، مخ 22.

انځور 3.36

د ايساف سيميزي قوماندې




سرچينه: ناټو، "د امنيت نړيوال مرستندوی ځواک او افغان ملي اردو پياړوتيا و نيمګړتيا "www.nato.int/isaf/docu/epub/pdf/placemat.pdf کتل شول 2009\30\9.




# دولتداري، د قانون حکومت، او بشري حقوق

دا برخه په افغانستان کې د دولتداري، د قانون حکومت، او بشري حقوقو په اړه وروستی پراختیاوي څېړي.

د ۲۰۰۹ کال د اګست په شلمه نیټه، افغانستان د لومړی ځل لپاره د افغانانو لخوا په لاره اچول شویو د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټولټاکني ترسره کړي. د رایو ورکوونکو د ټیټ شمیر په اړه د نړیوالو اندیښنو سره سره، لومړنی پایلي ښیي چې نیژدي په سلو کې ۳۸ افغانانو رایه ورکوونکو د ټاکنو په پروسه کې برخه واخیسته. د ټاکنیزو درغلیو په اړه د ادعاوو پلټنو د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو اعلانول ځنډول.[174]

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) چې د مشروع، آزاد، او بې پرې ټاکنو مسولیت په غاړه لري، او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC)، چې د ټاکنیزو بې نظمیو په اړه د ادعاوو د پلټنو مسؤولیت په غاړه لري، د پلټني او بیا شمیرلو یوه داسې پروسه جوړه کړه چې د قانوني رایوو د سمې شمیرنې د یقیني کولو په موخه ډیزاین شوې وه.[175] د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په شمله نیټه، IEC د ټاکنو پایلې اعلان کړي، چې د ولسمشرۍ د دوو مخکښو کاندیدانو تر منځ د دویم پړاو ټاکنو غوښتنه کوي. د دوهم پړاو ټاکني به د مهال ویش سره سم د نومبر په ۷ مه نیټه ترسره شي.[176]

## ټاکني

د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS)، د افغانستان ترون د قواعدو په منلو سره، د افغانستان د ټاکنو په اړه دوه مشخص سیستمونه راپیژني.[177] جدول 3.2 د دغو موخو په اړه وروستي معلومات، د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر تر ۳۰مي نیټي سره سم، وړاندي کوي. له دي امله چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ټاکني وځنډولي تر څو په ټاکنو کې د ډیرو شمیر رایه اچونکو برخه اخیستلو ته لاره هواره کړي، د ولسمشري او ولایتي شوراګانو د ټاکنو حقیقي نیټه له هغي نیټي څخه وروسته وه کومه چې په نظر کې نیول شوي وه.[178]

د ملګرو ملتونو (UN) د سرمنشي له وینا سره سم، دي ټاکنو په افغانستان باندې مثبتي او منفني اغیزي دواړه درلودلې. له مثبتو اغیزو څخه یې ځیني په لاندې ډول دي:[179]

- په ټاکنو کې د عامه خلکو برخه اخیسته له لومړنیو توقعاتو څخه ډیره لوړه وه.

جدول 3.2

| د ټاکنو لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه | | |
|---|---|---|
| **د افغانستان ترون موخې** | **حالت** | **د بشپړیدلو لپاره ټاکل شوي نیټه** |
| د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون به لوړ سیېڅلتوب، ورتیا او منابع په اختیار کې ولري چې وکولای شي ټاکني په مالي لحاظ شوني توګه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په همکاری تر هغه بریده ترسره کړي چې راتلونکي ټاکنو مصارف له خپلو منابعو پوره کړي. | د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکني د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۲۰مه نیټه ترسره شوي | مارچ ۲۰۰۹ |
| د رایي ورکوونکو یو دایمي او ملکي راجستر به له یوې ملي پېژندپاڼي سره تاسیس کړی شي | نوی راپور نشته | مارچ 2010 |

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د افغانستان ترون، ۳۱۱۱ - ۲۰۰۱۱۱۲، مخ ۷.



اوسنی ولسمشر حامد کرزی. (د AP انځور)



ډاکټر عبدالله عبدالله. (د AP انځور)

- له لوژیستیکي او امنیتي ننګونو سره سره، د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټول هیواد کې د رایې اچولو مرکزونه په کامیابي سره پرانیستل، چمتو کړل او په زرګونو کارکوونکي یې مقرر کړل.

د ټاکنو په منفي اغیزو کې دا لاندې شامل دي:[180]

- د «ویروني کمپاین» چې د طالبانو لخوا په لاره اچول شوی وه د دې سبب شو چې په ټاکنو کې، په ځانګړې توګه په جنوبي ولایاتو کې، لږ شمیر خلک برخه واخلي.
- درایې ورکولو په جریان کې «بي نظمي» (احتمالي درغلۍ) د افغانستان دننه د سیاسي ناکرارۍ سبب شوي.

## د ولسمشرۍ ټاکنې

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا، د ولسمشرۍ د ټاکنو د رایه اچولو په پاڼه درج شویو ۴۱ کاندیدانو څخه یوازې ۳۲ هغو یې رایې ترلاسه کړې.[181] د دغو کاندیدانو له ډلې نه، یوازې ولسمشر حامد کرزي او ډاکټر عبدالله عبدالله د رایو د پام وړ سلیزه ترلاسه کړې. هر یوه د برې ادعا وکړه.[182] د ټاکنو لومړنۍ پایلې څرګندوي چې ولسمشر کرزي له په سلو کې له ۵۰ څخه زیاتې رایې ترلاسه کړې وې.

د پایلو وروستی اعلان وځنډول شو تر څو د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د درغلیو د ادعاوو په اړه پلټنه وکړي. د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۱۸مه نیټه، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پایلو د اعلان په اړه درې بیلې پریکړې خپرې کړې.[183] له دغو پریکړو څخه یوې هغې یې د هر کاندید له پاره په لومړنیو پایلو کې د ورکړ شویو رایو باندې اغیزه وکړه. دې پریکړې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته لارښوونه وکړه چې په پلټنه کې د لاس ته راغلیو معلوماتو په اساس د هر کاندید مشخصې رایې بې اعتباره کړي.[184]

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پلټنې په نتیجه کې لاس ته راغلیو معلوماتو د ولسمشر کرزي ټولې ترلاسه کړې رایې تر ۵۰ فیصده راټیټې کړې، کومې چې د هغه د کامیابي لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ورته اړتیا درلودله وګورۍ انځور 3.37.[185] د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۲۰مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې د افغانستان د اساسي قانون له ۶۲ مادې سره سم، د ولسمشر کرزي او ډاکټر عبدالله تر مینځ د دوهم پړاو ټاکنې د نومبر ۷ مې نیټې لپاره په پام کې نیول شوې دي.[186]

### د رایه ورکوونکو شمیر

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په لومړۍ کې دا آټکل کړې وه چې د نیژدې ۱۵.۳ میلیونه د راې ورکولو وړ افغانانو

انځور 3.37

د ولسمشرۍ ټاکنې: وروستۍ پایلې

د 2 مخکښو او 30 نورو کاندیدانو لپاره




یادونې: فیصدې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا په 21 اکتوبر، 2009 اعلان شوې دي.

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، مطبوعاتي اعلامیه، "د 2009 کال د ولسمشرۍ د ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان په اړه" 9\16\2009؛ د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "د افغانستان د 2009کال ټاکنې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې"، www.iec.org.af/results/leadingCandidate.html وکتل شو 10\22\2009.

**د ټاکل شوي ولسمشر لپاره، کاندید باید د معتبرو اچول شویو رایو اکثریت-په سلو کې ۵۰ او یوه رایه یا ډیرې، ترلاسه کړي. که هیڅ یو کاندید هم دا اندازه ترلاسه نه کړي، د ټاکنو دوهم پړاو باید ترسره شي چې باید د لومړي دور نه د شپږو اونیو په موده کې عملي شي. یوازې دوه تنه هغه کاندیدان چې په لومړي دور کې یې تر ټولو ډیرې رایې ترلاسه کړې دي کولای شي په دوهم دور کې سیالي وکړي. په دوهم دور کې هر کاندید چې تر ټولو ډیرې رایې ترلاسه کړي د ولسمشر په توګه اعلان کیږي.**

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون د معلوماتو پاڼه، "ولسمشریزې ټاکنې،" www.iec.org.af/assets/PDF/FactSheet/eng/fs4E.pdf وکتل شو ۱۰\۱۹\۲۰۰۹.

له جملې څخه ۳۸.۷ فیصده خلکو د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۲۰مه نیټه رایې ورکړې.[187] د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو د رایې ورکوونکو اکثریت نارینه ول وګورئ انځور 3.38.[188] د اکتوبر په ۲۱مه د ټاکنو خپلواک کمیسیون راپور ورکړ چې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې ۴،۵۹۷،۷۲۷ د اعتبار وړ رایې اچول شوې وې.[189] دا ثابتوي چې د کارول شوی رایو له جملې څخه ۲۲۵.۳۶۳ (۴.۷ فیصده) هغه يې باطله وې.[190]

## د ولسمشرۍ په ټاکنو کې درغلۍ

له رایو څخه د بکسونو ډکولو او د رایې ورکولو اړوند نورو بې نظمیو په اړه شکایتونه د ټاکنو په ورځ پیل شول.[191] د ټاکنو په اړه د شکایتونو مسولیت د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC) په غاړه دی، چې یو خپلواک هییت دي او پینځه تنه غړي لري او د ټاکنو د درغلیو د ادعاوو په اړه پلټنې کوي. ۳.۳۹ انځور د ټاکنو د خپلواک کمیسیون یوه لنډه کتنه وړاندې کوي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنو په مهال او د رایو د شمېرلو په مهال په ټاکنو کې د درغلیو په اړه تر ۳۰۰۰ زیات شکایتونه ترلاسه کړل. تقریبا ۲۹ فیصده (۸۹۳) د هغوی »د الف لومړیتوب« (لوړ لومړیتوب) په توګه طبقه بندل شول، کوم چې که چیرې ثابته شي چې رښتیا دي، په وروستیو پایلو باندې به مهمې اغیزې ولري.[192]

د درغلیو په ادعاوو کې دا لاندې شامل دي:[193]

- د رایې اچولو د بکسونو ډکول
- تر وخت مخکې د مرکزونو تړل
- له صلاحیت پرته د مرکزونو پرانیستل
- د نابالغو کسانو رایې اچول
- څو ځله رایه ورکول
- د بل کس په نیابت سره رایه ورکول
- د رایې ورکولو د مرکزونو دننه د کاندیدانو د استازیو لخوا کمپاین کول
- د رایې ورکولو له جریان څخه د کاندیدانو د استازیو منع کول

د دې شکایتونو په ځواب کې، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د رایې ورکولو په یو شمېر مرکزونو کې پلټنې او څېړنې ترسره کړې، او دا نتیجه يې واخیستله چې له ټګیو او درغلیو ډکو فعالیتونو په اړه کافي شواهد شته دی چې د پایلو په اړه د پلټنې او شمېرلو غوښتنه کوي.[194] د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۵ نیټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون

انځور 3.38

د برخه اخیستونکو او جنسیت په اساس قانوني رایې ورکوونکي




یادونه: برخه اخیستونکو رایې ورکوونکو په ډله کې، پاتې ٪2.8 د کوچیانو استازیتوب کوي. د کوچیانو لپاره معلومات د جنسیت په اساس په لاس کې نشته
سرچینه: UNDP/ELECT, ELECT اووه ورځنۍ،9\8 9-\21\2009، مخ 10.

انځور 3.39

جوړښت (ECC) د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون




AIHRC او د افغانستان سترې محکمې هر یو یې یو ملي غړی ټاکي.
د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی درې نړیوال غړي ټاکي.

سرچینه: د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، "کمیشنران" /www.ecc.org.af/en &index.php?option=com_content&view=article&id=46 Itemid=61، مراجعه در تاریخ 10/17/2009.

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون خپلواک صلاحیت لري چې د ټاکنیزو جرمونو په اړه د شکایتونو په اړه فیصله وکړي. د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د کار موده د ټاکنو د پایلو د تصویب څخه ۳۰ ورځې وروسته پای ته رسیږي. څو له بله اړخه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د پروسې مدیریت او سمبالښت په غاړه لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون پریکړو ته غاړه کیږدي.**

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د ټاکنو قانون،" ۷ او ۵۲ مادې، ۲۰۰۴\۳۱\۵.

او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون خپله پلټنه او د رایي ورکولو تر پوښتنې لاندې ۳۴۹۸ بکسونو د رایو دوباره شمېرل پیل کړل.[195]

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پلټنو لپاره د کتنې یو لست جوړ کړ چې د هر بکس د کتنې کار آسانه کړي.[196] د پلټنې ټیم اړ وه چې د پارټۍ د اعتباري استازیو او د ټاکنیزو کتونکو په موجودیت کې د رایو هر بکس د فزیکي بې تنظیمو د تصدیق په موخه په خپلو سترګو معاینه کړي. تر هري معاینې وروسته، د بکسونو محتوي بیرته په هغوی کې ځای په ځای کړی شوه، بکسونه بند کړای شول، او د سیریل نوې شمیره ورته اختصاص ورکړی شوه او ثبت کړی شوه.[197] د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پلټنې پروسه د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۸ مه نیټه بشپړه کړه او ترلاسه شوي معلومات یې د اکتوبر په ۱۹مه نیټه اعلان کړل.[198]



**ارل ډبلیو ایکینبري**، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر، ښي خوا ته، له ریچارډ سي هالبورک، د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی استازی، په منځ کې، په کابل کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له دفتر څخه د خپلې کتنې په جریان کې د رایي ورکوونکو لیست ته ګوري. (د AP انځور)

## د درغلیو په اړه نړیوالې کتنې

د نړیوالې ټولنې استازي د ټاکنو د پروسې د شفافیت د کتونکو په توګه حاضر وو. د کتونکو په ډله کې نړیوال سازمانونه لکه نړیواله ډیموکراسي، ملي دیموکراتیک انستیټیوت، د اروپایي ټولنې د ټاکنو د کتونکو مشن، په اروپا کې د امنیت او همکارۍ لپاره سازمان (OSCE)، د ټاکنو د ملاتړ ټیم، او د افغانستان د آزاد او منصفانه ټاکنو موسسه (FEFA) شامل دي.[199]

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د پایلو د راغونډولو لپاره، د شمیرنې ملي مرکز په کابل کې تاسیس کړ. د ټاکنو تر ورځ مخکې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې مرکز دوره وکړه او لیدونکو ته یې لنډ معلومات ورکړل. UNDP/ELECT اټکل کوي چې د ټاکنو تر ورځ مخکې څو اوونیو کې، هره ورځ نیژدې ۴۰ برخه لرونکو-او همدا رنګه له ۵ تر ۱۰ کسه د ټاکنو د کتونکي یا د کاندیدانو استازي چې د رایو د شمیرلو د پروسې د کتلو او څارنې لپاره به حاضر وی- له دې مرکز څخه لیدنه کوله.[200] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د کتونکو په اړه ورکړ شوي راپور کې د کورنیو کتونکو ۲۱ ډلې، د نړیوالو کتونکو ۳۰ ارګانونه، د ملي رسنیو ۵۱ ارګانونه، ۱۴۹ د رسنیو نړیوالې اداري، او ۳۱ سیاسي ډلې شامل دي.[201] د OSCE د ټاکنو د ملاتړ ټیم استازي، او د ولسمشرۍ څلور مخکښ کاندیدان هم اکثر وختونه له مرکز څخه لیدنې کولې.[202]

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت، چې د یوه کتونکي په توګه یې د ټاکنو پروسه له نیژدې څخه څارله، دا خبره درک کړه چې "ډیر شمیر د درغلیو په خلاف میکانیزمونه چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له لوري او UNDP په ملاتړ تر کار لاندې نیول شوي وه، له نړیوالو معیارونو سره سم غښتلي او قوي وه،" خو دا هم واضح شوه چې د دې میکانیزمونو ډیر یې د ټاکنو په ورځ په شدیده توګه محدود کړي شوي وه. د دې محدودیتونو څخه ځیني یې په لاندې توګه دي:[203]

- کمزوری امنیت
- د ښځینه کارکوونکو لږوالی
- پراخه بې سوادي
- د رایه ورکوونکو تهدیدول

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو محکمه (DoS) د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لخوا د هغوی د درغلیو د تحقیقاتو په وړتیا باندې خپل اعتماد او باور څرګند کړ او دا چې هغوی به د رایو له وروستي شمیرنې څخه د درغلیو پاتې شوي لرې کړي.[204]

## د ښځو ګډون

د ولسمشرۍ لپاره د ۴۱ کاندیدانو له ډلې څخه، یوازې دوه ښځې وې. ډاکټر فنا فروزان او ښاغلې شهلا عطا.[205] یوې هم انتخابي مقام نه درلود او نه هم له کومې ډلې سره تړلې وې؛ دواړه خپلواکې کاندیدانې وې. ډاکټر فروزان، د افغانستان د هورانوردي د پخواني وزیر عبدالرحمان کونډه، د بلخ ولایت څخه ده او جراحه ده.[206] شهلا عطا د

کندهار ده او د مشرانو په جرګه کې څوکۍ لري.[207]

د UNDP/ELECT د څرګندونو مطابق، ښځینه کاندیدانو راپور ورکړ چې هغوی په کافي اندازه د رسنیو پاملرنه له ځانه سره نه درلوده او د مهمو کاندیدانو په توګه نه شمیرل کیدلې.[208] د ملګرو ملتونو د جنسیت څانګې او د عامه خلکو ته د پیغام رسولو ریاست (د جنسیت څانګې) هم راپور ورکړ چې ښځینه ژورنالیستانې د رایې ورکولو له مرکزونو څخه منع شوې وې، په داسې حال کې چې نارینه ژورنالیستانو ته همدې مرکزونو ته د ننوتلو اجازه ورکړ شوې وه.[209]

که څه هم د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د جنسیت څانګې د ښځو لپاره د رایې ورکوونکو د زده کړې سیمینارونه جوړ کړي وه، د ښځینه رایې ورکوونکو ګډون کمزوری وه. د جنسیت د څانګې د څرګندونو په اساس، ډیر شمیر ښځو رایې ورکوونکو له خپلو کورنیو او یا هغو خلکو څخه چې د رایې ورکولو په مرکزونو کې حاضر وو لارښووني ترلاسه کړي چې څه ډول خپلې رایې واچوي.[210]

د جولای په میاشت کې، د UNDP/ELECT مطابق، د جنسیت څانګې او د ټاکنو خپلواک کمیسیون کمیشنران د یوې جلسې کوربه ول چې داسې ستراتیژۍ جوړه کړي چې ښځې د بدني تلاشي کوونکو په توګه او یا د رایې ورکولو د کارکوونکو په نورو موقتي ځایو کې د ټاکنو لپاره کار وکړي. په برخه اخیستونکو کې د ښځو چارو د وزارت، د کلیو د پراختیا وزارت او د کورنیو چارو د وزرات استازي، د ملګرو ملتونو لخوا د ښځو د پرمختګ پانګه، د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره (USAID)، د ښځو سیمییزې ډلې، او نړیوالې اداري شاملې وې.[211]

د ملګرو ملتونو د جنسیت څانګې هغه ننګونې په ګوته کړې چې باید په هغوی بریالي شي تر څو په راتلونکو ټاکنو کې د ښځینه ګډون کوونکو ونډه ښه کړای شي:[212]

- ښځې د سیاسي پروسې په اړه لا پراخ پوهاوي ته اړتیا لري. ډیرو نالوستو ښځو د نارینه وو په نظریو او د رایې ورکولو په مرکزونو کې د نورو په مشوره باور کاوه.
- د ښځینه کاندیدانو د امنیت لپاره د لا ښپړ پلان جوړولو اړتیا لیدل کیږي. پلان جوړونه باید تر مخکې ترسره شي، نوره زده کړه باید ورکړی شي، او نور ساتونکې باید وټاکل شي.
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د رایې اچونې د ښځینه کارکوونکو غړیو لپاره د امنیت اړوند د وخت له مخکې خطر سیستم د جوړولو اړتیا لیدل کیږي.
- د رایې ورکوونکو د ثبت کولو کارتونه باید د ښځو انځورونه ولري، تر څو د ټګۍ مخنیوی وشي.
- د رایې ورکوونکو د تفصیلاتو په اساس د معلوماتو ټولونه نور ښه کولو ته اړتیا لري، او دا کیدای شي دې خبرې ته اړ باسي چې دا معلومات څنګه کیدای شي په لا ښپړه توګه راغونډ کړی شي.
- له مهمو وزارتونو سره چې ښځې مقرروي (د ښځو چارې، روغتیا، او ښوونې او روزنې وزارتونه) د ترون د یوه برخه باید ولیکل شي چې د هغوی ښځینه کارکوونکو ته دا لاره اسانه کړي چې د رایې ورکولو په ورځ د رایې ورکولو په مرکزونو کې کار وکړي.

## د ټاکنو امنیت

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټاکنو کې د امنیت نشتوالې د یوې مهمې اندیښنې په توګه پیژنې.[213] د دفاع محکمې راپور ورکړ چې د طالبانو لخوا چې د ټاکنو پروسه د افغان رایه ورکونکو د ویرولو او تهدیدولو له لارې ګډوډه کړي، د رایې ورکوونکو په شمیر باندې ډیره ناوړه اغیزه کړې وه.[214] د امنیت ستونزمن چاپیریال ټاکنې له څو اړخونو اغیزمنې کړې:

- د ټاکنو خپلواک کمیسیون یې اړ کړ چې د رایې ورکولو د ځایونو هغه شمیر چې کولای شوای پرانیستل شي، را کم کړي.[215]
- رایه ورکوونکې یې په کورونو کې ایسار کړل.[216]

هیڅ ښځینه کاندیدې هم تر ۱ فیصد ډیرې اعتباري رایې ترلاسه نه کړې- ډاکټر فروزان فنا نیږدې ۲۱۵۱۲ رایې ترلاسه کړې (۰.۵ فیصده)، او آغلې شهلا عطا نیږدې ۱۰۶۸۷ رایې ترلاسه کړې (۰.۲ فیصده)

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون"د افغانستان د ۲۰۰۹ کال ټاکنې، د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې،" www.iec.org.af/results/leadingCandidate.html وکتل شو ۲۰۰۹\۱۴\۱۰.



**نه پاک کیدونکي رنګ** د یوې افغانۍ ښځې ګوته رنګ کړې ده، وروسته له هغه چې هغې خپله رایه د رایې اچونې په مرکې کې واچوله. (د یوناما انځور، جواد جلالي)

- د کانديدانو د دي وړتيا مخنيوی بي وکړ چي په ټاکنو کي ودريږي او په آزادانه توګه کمپاين وکړي.[217]
- د ټولنو او سوله اييزو غونډو خپلواکي يي محدوده کړه، هغه ننګوني يي څو ځله ستري کړل چي ښځي د ټاکنو په پروسه کي د ګډون لپاره ورسره مخ دي.[218]

د ټاکنو خپلواک کميسيون، د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) او نړيوالو ځواکونو سره په نيژدي همکاری سره دنده ترسره کړه چي رايي ورکوونکي، د ټاکنو خپلواک کميسيون کارکوونکي، کتوونکي، او د کانديدانو استازي په امنيت سره د رايي ورکولو مرکزونو ته لاسرسي لري.[219] د افغانستان ملي پوليس (ANP)، او په ځينو حالاتو کي، د سيمي خلکو، د رايي ورکوونکو لپاره اضافي امنيت برابر کړ.[220] د دفاع وزارت له وينا سره سم، له ۱۶۰.۰۰۰ څخه ډيرو پوليسو او سرتيريو د رايي ورکولو د مرکزونو د ساتنی، او د سفري لارو د ګزمي له لاري د افغان رايه ورکوونکو لپاره امنيت تامين کړ.[221] د مشترک امنيت انتقالي قوماندي - افغانستان (CSTC-A) تر ټاکنو مخکي افغان ملي پوليسو ته د څو اضافی اوونيو لپاره زده کړه ورکړه.[222] د دفاع وزارت له وينا سره سم، نړيوال امنيتي مرستندوی ځواک (ايساف) او د متحده ايالاتو پوځونه-افغانستان (USFOR-A) دا ټاکني خپلي اصلي مشن وګرځاوه او له خپل افغان ملګرو سره يي له نيژدي دنده ترسره کړه.[223]

نړيوالي ټولني همدا رنګه هغه امنيتي ننګوني په ګوته کړي چي ټاکنو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته متوجه کړي. د بيلګي په توګه، د دفاع محکمي راپور ورکړ چي بريتانيا ۷۰۰ اضافي سرتيري وليږل تر څو په ټاکنو کي مرسته وکړي، هنګري ۴۰ نور سرتيري ورکړل، او يونان دوه اضافي ۲۰ کسيزه روغتيايي ټيمونه زيات کړل.[224]

### امنيتي پيښې

د UNDP/ELECT په وينا، د ټاکنو په ورځ تر ۱۰۰ ډيري خونړۍ پيښي واقع شوي.[225] د افغان ملي پوليسو اتلس غري ووژل شول او ۲۷ نور ژوبل شول. ديرش ملکي کسان ووژل شول او ۳۱ ژوبل شول.[226] د پيښنو ډير شمير يي د راکټ او بمونو حملي وي او افغان رايه ورکوونکي يي نيغ په نيغه نه په نښه کول.[227]

UNDP/ELECT راپور ورکړ چي د ټاکنو د ورځي د تاتريخوالي لوړه شوي سطحي جغرافيايي ويش په کندز، کندهار، خوست، کونړ او ننګرهار کي د تاوتريخوالي مخکنيو کتنو سره يو شان وه، لکه چي په انځور 3.40 کي ښودل شوی دی. له ټاکنو سره اړوند پيښي د ټاکنو له ورځي وروسته هم دوام درلود، او د رايي ورکولو په مرکزونو او د موټرو په کاروانونو د يو شمير بريدونو راپور ورکړ شو، تر څو د رايو بکسونه له مينځه يوړل شي يا د ټاکنو د خپلواک کميسيون کارکوونکو څخه غچ واخلي.[228]

د UNDP/ELECT د وينا مطابق، د داسي پيښنو ادعاوي چي ملکي خلک په نښه کوي-د ترهتولو، وژلو او تهديدلو په شمول- په ټول هيواد کي پيښي شوي. د ګوتو د پري کولو اخطارونه چي په نه پاکيدونکي رنګ سره نښه شوي وي-چي دا ښکاروي چي دي کس رايه ورکړي ده- راپور ورکړ شو، او همدا رنګه د ويرولو په موخه د ډيرو نورو تخيلي پيښنو راپور ورکړ شو.[229]

په ځينو ولاياتو (لکه فارياب، نورستان، ارزګان، او وردک) کي د رايي بکسونو د ولاياتو مرکز ته انتقالول يو ډير ستونزمن کار وه، UNDP/ELECT راپور ورکوي. ځيني د ليږدولو موټرونه تر بريد لاندي راغلل او د رايي بکسونه له مينځه يوړل شول.[230]

انځور 3.40

د ټاکنو په ورځ د جغرافيايي تاوتريخوالي ويشنه




يادونه: په ټاکل شويو ولاياتو کې تاوتريخوالی روښانه کوي، خو د هغه ټول راپور ورکړل شوي پيښي او بريدونه چې د ټاکنو په ورځ رامنځ ته شول، شامل نه دي.

سرچينه: ملګري ملتونه، د سرمنشي راپور، "د افغانستان وضعيت او په نړيواله سوله او امنيت د هغې اغيزي" 9\22\2009. مخ 8.

## د ولايتي شوراګانو ټاکني

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په ۲۶مه نيټه، د ټاکنو خپلواک کميسيون د افغانستان له ۳۴ ولاياتو څخه د ۳۰ ولاياتو د ولايتي شوراګانو د ټاکنو لومړني پايلي اعلان کړي.[231] ۳۳۳۹ کانديدان او ۴۲۰ څوکی وي؛ ۲۵۱ سړيو او ۱۰۶ ښځو څوکی وګټلي.[232] د پاته ولاياتو - پکتيکا، ننګرهار، کندهار، او غزني- کي د ټاکنو پايلي د ۲۰۰۹ کال د

اکتوبر تر ۲۱ مي نېټې پورې نه وي اعلان شوي. د دفاع وزارت د وينا په اساس، د ولايتي شوراګانو د ټاکنو په پروسه کې له مهمو ننګونو څخه يو يې د کانديدانو ډېر زيات شمير وه چې د هرې څوکۍ لپاره يې مقابله کوله، چې په بې ساري توګه لويې د رايې ورکولو پاڼې منځ ته راوستلې کومې چې احتمالاً د رايې ورکوونکو لپاره په هغوی باندې پوهېدل سخت وه.[233]

## د چوکيو ويش

په ولايتي شورا کې د چوکيو شمير د هر ولايت د نفوسو په اساس ټاکل کيږي.[234] د افغانانو د نفوس د غونډيدلو تر ټول ستر ښار کابل دی، او وروسته بلخ، غزني، هرات، او ننګرهار دي. انځور 3.41 د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د ولايتي شوراګانو د چوکيو ويش ښکاروي.

انځور 3.41

د ولايتي شوراګانو لپاره د چوکيو ويش




يادونه: د ولاياتو د نفوس لړۍ د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د راپور ورکړ شويو معلوماتو له مخې دي.

سرچينه: د ټاکنو خپلواک کميسيون، "د ولايتي شوراګانو لپاره د چوکيو ويش" www.iec.org.af/SubContent.asp?sect=4&Page=seatallocation, وکتل شو 2009\14\10.

انځور 3.42

د ولايتي شورا د رايي وركولو په پاڼه باندې كانديدان




يادونه: په غزني، كندهار، ننګرهار او پکتيکا د ولايتي شوراګانو د ټاکنو په اړه د معلوماتو راپور نه دی ورکړل شوی.
سرچينه: د ټاکنو خپلواک کميسيون، "د ولايتي شوراګانو وروستۍ نا تصديق شوي پايلې"www.iec.org.af/results/Provincial/resultsVoteOrder.html, وکتل شو 10\14\2009

۳.۴۲ انځور  د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د رايي ورکولو په پاڼه کې د کانديدانو شمير په ګوته کوي. هره شورا د ۹ او ۲۹ ترمينځ چوکۍ لري.[235] په هره شورا کې، د چوکيو ۲۵ په سلو کې برخه د ښځينه کانديدانو لپاره ځانګړې شوي ده. سړي او ښځې يو له بل سره سيالي کوي، خو که چيرې په کافي اندازه ښځې په هر ولايت کې ځانګړي شوي چوکۍ و نه ګټي، دا چوکۍ ښځينه کانديدانو ته ورکول کيږي تر څو دا ډاډ ترلاسه شي چې په قانون کې د هغوی له پاره ځانګړې شوي چوکۍ د ښځو لخوا نيول کيږي.[236] د ارزګان او کندهار په استثنا، په ټولو ولاياتو کې په کافي اندازه ښځينه کانديداني وي چې د ښځو لپاره ځانګړې شوي چوکۍ ډکې کړي.[237]

### د ولايتي شوراګانو په ټاکنو درغلۍ

د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې، د رايي ورکوونکو د درغليو ادعاووي لکه د بکسونو ډکول او بدي ورکول وشوي، خو کتونکو ونشواى کړاى چي کره شواهد د داسي ادعاوو په ملاتړ کي پيدا کړي. د ولاياتو د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون (PCC) د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون (ECC) د الحاقي استازي په توګه دنده ترسره کوي چي په هر ولايت کي د ټاکنيزو درغليو ادعاوو ته ځواب ووايي.[238] هر هغه څوک چي قانوني علاقه لري او هغه ادعا کوي چي د ټاکنو قانون تر پښو لاندې شوي دی، کولاى شي له ECC او PCC سره خپل شکايت ثبت کړي.[239]

## د رايي ورکوونکي زده کړه

تر ټاکنو مخکي، ملکي روزونکو د ټاکنو د کړنلارې په اړه د رايي ورکوونکي د پوهاوي په اړه کار وکړ. د افغاني رسنيو مرکزونو په ټول هيواد کي کمپاينونه او د ټاکنو خبرونه تر پوښښ لاندې راوستل.

### کمپاين چلول

د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو له پاره د کمپاين چلولو وروستى رسمي ورځ د ۲۰۰۹ کال د اګست ۱۷مه وه.[240] د رايي ورکولو لپاره د افغانانو د هڅولو لپاره، د ټاکنو د خپلواک کميسيون تر ۱۶۰۰ زيات ملکي روزونکو تر ټاکنو مخکي ټول هيواد ته سفرونه وکړل، معلومات يي توزيع کړل، چي په هغوى کي د رايي ورکولو د مرکزونو ځايونه هم شامل دي. د صحني ګرځنده ټيمونو په دوو ژبو (پښتو او دري) له ۳۴ ولاياتو نه په 24 ولاياتو کي روزنيز پروګرامونه ترسره کړل، لکه چي په انځور 3.43 کي ښودل شوي دي.[241]

انځور 3.43

دني روزنه: د صحني ګرځنده ټيمونه




سرچينه: د UNDP/ELECT, ELECT اووه ورځنی، 9\1 – 9\7\2009، مخ 3.

# د ټاکنو تیاریاني او ننګونې

د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راپور په اساس، په داسي یوه هیواد کې د ټاکنو سرته رسول چې په شخړو کې ښکیل وي، او ضعیفه اداره، ضعیف انفراستر کچر، د نالوستي لوړ نرخ، او د ولسمشرۍ ۴۱ کاندیدان ولري، له ډیرو اړخونو یو له ننګونو او ستونزو ډک کار دی.[242] دا دري میاشتني راپور هغه آمادګي او ننګوني تر بحث لاندي نیسي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۲۰۰۴/۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په تیاري کې ورسره مخ وه. په دي ننګونو کې د رایي ورکوونکو ثبت کول او رایي اچول، امنیت او درغلی شامل دي.

## ثبت شوي او اچول شوي رایي

په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال د رایي ورکوونکو د ثبت کولو فعالیتونو ونښو کړای چې رایي ورکوونکي یوه ځانګړي ولسوالي یا د رایي ورکولو مرکز ته راجع کړي او په دي توګه د رایي ورکوونکو شمیر د وړاندوینې وړ نه وه.[243]

### د ۲۰۰۴/۲۰۰۵ کال د ټاکنو تیاري

د ۲۰۰۴/۲۰۰۵ کال ټاکنو لپاره، د رایي ورکوونکو ثبتول په دوو مرحلو کي بشپړ شو او نتیجه یي د اټکل ۱۰.۶ میلیونو ثبت شوي رایي ورکوونکو وه.[244] د دي لپاره چي احتمالي رايي ورکونکوي د ثبت کولو او د ټاکنو د پروسي په اړه وروزل شي، د ټاکنو د سمبالښت مشترک هییت (JEMB) عامه خلکو ته د پیغام رسولو دفتر پرانیست.[245] عامه خلکو د پیغام رسولو دفتر د عامه معلوماتو څانګه هم درلودله، چي د رایي ورکوونکو د ثبت او د ټاکنو د پروسي په اړه یي معلومات خپرول. عامه خلکو ته د پیغام رسولو هڅي داسي ابتکارونه په کار راوستل لکه تنظیم شوي مارشونه او د رسنیو لپاره پروګرامونه تر څو په ټاکنو کي د ښځو د ګډون په ارزښت خلک پوي کړي.[246]

### د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو تیاري

د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لپاره، د رایي ورکوونکو ثبتول په څلور مرحلو کي ترسره شو چي نتیجه یي د اټکل ۴.۴ میلیونو نوي ثبتونو وه. د ۲۰۰۹ کال د رایي ورکوونکو د ثبت کولو معلومات نوي ثبت شوي کسان څانګړو ولایتي مرکزونو سره وصل کړل، چي په دي توګه د رایي ورکوونکو د شمیر په اړه ښه وړاندوینه کیدای شي.[247] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له راپور سره سم، تر ۱۶۰۰ زیات ملکي روزونکو د هیواد ګوټ ګوټ ته سفرونه وکړل او معلومات یي توزیع کړل، چي په دي کي د رایي ورکولو د مرکزونو د ځایونو په اړه معلومات هم وه.[248]

### د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو نتیجه

که څه هم نوي رایي ورکوونکي په څانګړو ولایتونو پوري تړل شوي وه، نرمو کرنلارو له دي سره مرسته وکړه چي په څو ځایونو کي ثبت شي او غیرقانوني رایي ورکوونکي ثبت شي. تر قانوني رایي ورکوونکو د زیاتو رایي ورکوونکو ثبت کول د ټاکنو په اعتبار او باوري کیدلو باندي ناوړه اغیزي درلودي.[249] د ښځینه ثبت شویو رایي ورکوونکو یو غیر معمولي لوړ شمیر راپور ورکړ شو او هغه په نا امنه او په فرهنګي توګه وروسته پاتي ولایاتو کي. د ټاکنو چارواکو د ښځینه ثبت شویو رایي ورکوونکو دا لوړ شمیر د "نیابت رایي ورکول" په توګه تعبیر کړل، کوم چي د درغلی یوه طریقه ده چیري چي سړي په دوديزه سمیو کي د خپلو کورنیو د ښځو په ځای رایي ورکړي.[250]

### امنیت

د افغانستان امنیتي چاپیریال له ۲۰۰۴/۲۰۰۵کال ټاکنو راهیسي د پام وړ خراب شوي دی، چي احتمالاً د ټاکنو په پروسه باندي ناوړه اغیزي ولري.[251]

### د ۲۰۰۴/۲۰۰۵ کال د ټاکنو تیاري

د ۲۰۰۴/۲۰۰۵ کال ټاکنو لپاره، د امنیت عمومي موخي د ټاکنو د کارکوونکو ساتنه، د JEMB د ځایونو امنیت، او د ترانسپورت او د حساسو رایو د شمیرلو لپاره د امنیت تامینول وو.[252] متحده ایالاتو په سلګونو اضافي سرتیري سیمو ته ولیږل تر څو په افغانستان کي ځای شوي ۱۸۰۰۰ سرتیري تقویه کړي. اروپایي هیوادونو لکه اسپانیا او ایتالیا ۲۵۰۰ نور اضافي سرتیري د نړیوال د امنیت مرستندویه ځواک (ایساف) له لاري ورکړل.[253] د متحده ایالاتو لخوا روزل شوی د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس ځواکونو هم د ټاکنو د امنیت په مشن کي ټاکونکي رول درلود.

### د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو تیاري

د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لپاره، د مخ په خرابیدونکي امنیتي چاپیریال په ځواب کي ډیر نوي امنیتي اقدامات عملي کړی شول. په افغانستان کي د اروپایي ټولني د پولیسو مشن د افغانستان ملي پولیسو ته د ټاکنو په وخت کي د امنیت ساتلو په اړه، چي د بشر په حقوقو یي ځانګړي تاکید کاوه، روزنه ورکړه. د امنیتي هڅو په ادامه، مشترک امنیتي پلان جوړولو ګروپ تاسیس کړی

شو تر څو د هغو ادارو تر مينځ چې د ټاکنو په جريان کې د امنيت تامينولو مسوليت په غاړه درلود، د مشترکي او همغږي امنيتي پلان جوړولو امکانات برابر کړي.[254]

## د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو نتيجه

د ټاکنو د مرکزونو د خونديتوب لپاره د ټاکنو د خپلواك کمېسيون د هڅو سره سره د ټاکنو په ورځ امنيت يو لوی ګواښ و. د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لپاره ننګوني، تبنتوني او د ټاکنو د کمېسيون د چارواکو، څارونکو او کارکوونکو وژني ستر ګواښونه وو.[255]

## د درغليو مخنيوی

د ورتيا نه درلودل، محدود امنيتي تدابير، د ټاکنو په پروسي کم پوهاوی د ټاکنو په اعتبار منفي تاثير کوي.[256]

## د ۲۰۰۵/۲۰۰۴ کال د ټاکنو تياري

د ۲۰۰۴ - ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې د ټاکنو ګډ کمېسيون د درغليو دمخنيوي لپاره يو لړ اقامات کړي وو، چې په کې دنه ورانېدونکي رنګ کارول او د رايي په کارت کې سوری کول، رايه ورکوونکي رايه ورکونه جوته ول.[257]

## د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو تياري

د ۲۰۰۹ کال ټاکني د درغليو نه د ژغورني لپاره يو لړ شرايط لکه د ټاکنو د شکايتونو د کمېسيون جوړول او د سياسي حقوقو د څار ادارو ته دکار ورکولو اجازه ورکول وو. د شکايتونو کمېسيون د کانديدانو د قانونمندی سره د ترلو ټولو ننګونو او ټاکنيزي پروسي مسؤوليت په غاړه درلود.[258]

د افغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون د يوناما په ملتيا د امنيتي ستونزو له کبله په ټلو راتلو محدوديتونه او دښځو ستونزې ثبت کړي.[259]

## د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو نتيجه

د ټاکنيز چاپيريال د خونديي کولو په موخه د ملګرو ملتونو سرمنشي د راپور له مخي د ټاکنو د شکايتونو کمېسيون ته د غلطو راپيانو او نورو درغليو د ټاکنو د پروسي سره اړوند چې په کې د ټاکنو د ورځي درغلی هم په کي شاملي دي، دارابنيي.[260]

## لاسته راغلي پايلي

د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو وروسته ټولي هغه هڅي چې د ټاکنو د کمېسيون اړتياوي په سختی سره پوره کړل شوي.[261] اګر چې دنړيو ټاکنو پر مهال اړتياوي په نخښه شوي، ليکين د ټاکنو لپاره ډېري محدودي تياريانې وشوي. ډېر مسايل لکه د امنيتي اړتياوو جاج اخيستل، د سرشمېرنې سرته رسول او د رايه ورکوونکو ثبتولو ته پام ونشو.[262]

د ټاکنو په اړه د سيګار د يو راپورله مخي د نړيوالو مشاورينو د هڅو سره سره د شکايتونو کمېسيون د کارکوونکو د کاري وړتيا د لوړولو او نورو اړينو اقداماتو د کولو لپاره هيڅ پروګرام جوړ نه کړو.[263] په خپلو پېښو باندي دودرېدو په لار کې د ټاکنو کمېسيون د يو لړ مهمو ستونزو سره مخ دی. د سيګار پلټنه راپور د تخنيکي چارو د ښهٔ پرمخ بيولو او په راتلونکي کي په نړيوالو د انحصار د کمولو لپاره د ټاکنوخپلواك کمېسيون ته دکارکوونکو د وړتيا د لوړولو وړانديز کړی.[264]




سرچيني: د ټاکنو خپلواک کميسيون, "مرحلي او ګرځنده تازه مهالوني," www.iec.org.af/subContent.asp?sect=4&page=phases, وکتل شو 10\20\2009 ; د ټاکنو خپلواک کميسون, "مهمي نيټي," www.iec.org.af/subContent.asp?sect=4&page=keydates, وکتل شو 10\20\2009; د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون, "احصايي," www.ecc.org.af/en/index.php?option=com_content&view=article&id=50&Itemid=65, وکتل شو 10\20\2009; UNDP/Elect, "پس منظر," www.afghanelections.org/index.php?page=en_Background, وکتل شو 10\19\2009.

## د رسنيو پوښښ

د افغانستان رسنيو د ولسمشرۍ د کمپاين چلولو په جريان کي د بحث له پاره مسالي وړاندي کړي، او افغانانو ته يي د کانديدانو په اړه معلومات ورکړل.[265] د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د رسنيو کميسيون (EMC) جوړ کړ چي په رسنيو کي په انصاف سره راپور ورکول او د ټولو کانديدانو لپاره د کمپاين په جريان کي د رسنيو لخوا پوښښ ورکول تر څارني لاندي ونيسي.[266] EMC همدا رنګه د ولسمشرۍ ګردی ميزونه او بحثونه تنظيم کړل، له ټاکنو مخکي او وروسته يي مطبوعاتي کنفرانسونه په لاره واچول تر څو د ټاکنو د فعاليتونو په اړه اوسمهالوني وړاندي کړي.[267] انځور 3.44 د ټاکنو په اړه د EMC د مسؤليتونو په اړه معلومات وړاندي کوي.

## د ټاکنو تر ورځ وړاندي پوښښ

د ۲۰۰۹ کال د جولای له ۱۶مي نيټي څخه، EMC د هر سياسي کانديد د پوښښ د فيصدي په اړه راپور ورکول پيل کړل. د ټاکنو خپلواک کميسيون غوښتنه لرله چي رسنۍ له EMC سره همکاري وکړي او د لاندي مسالو په اړه د خلکو په پوهاوي کي مرسته وکړي:[268]

- د رايي ورکولو اهميت
- د کانديدانو کړنلارې
- د کمپاين اصلي مسالي
- په ټاکنو کي څه ډول برخه واخلو

د UNDP/ELECT له وينا سره سم، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د کورنيو او بهرنيو چارو د وزاتونو له لاري، تر ټاکنو مخکي د هر ډول تاوتريخوالي په رسنيو کي خپرول منع کړل.[269] تر ټاکنو ۴۸ ساعته مخکي او د رايي ورکولو د ورځي په جريان کي، د قانون له مخي رسنۍ د هر ډول سياسي فعاليت په اړه د راپور ورکولو څخه منع دي. په دي مخنيوي کي د نظرياتو د سروي د نتايجو خپرول يا چاپول، يا لومړنۍ رايي شميرل شامل دي.[270] EMC د رسنيو د خاموشي په دوره کي د اګست په ۱۸مه او ۱۹ مه نيټه د رسنيو فعاليتونه تر څارني لاندي ونيول، او همدا رنګه د ټاکنو په ورځ د سهار له ۷ بجو څخه د ماښام تر ۸ بجو پوري.[271]

## دټاکنو د ورځي د پيښو منعکس کول

د UNDP/ELECT د راپور له مخي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سياسي دفتر وړانديز کړی وه چي د افغانستان دولت د ټاکنو د ټولو اړخونو د منعکسولو لپاره رسنيو ته اجازه ورکړي. د ټاکنو د خپلواك كمېسيون د نړيوالو او ملي رسنيو استازو ته په کابل کي د رسنيو د پرانيستي او د ټاکنو د ورځي پرمهال د افغانانو د انځورونو خپرولو اجازه ورکړل شي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي دفتر د ملګرو ملتونو د سرمنشي له رارسيدلو سره سم د رسنيو د ليدنو پروګرام برابر کړ.[272]

د ټاکنو په ورځ، دټاکنو خپلواك كمېسيون نړيوالي ټولني ته د ورځي د پيښو په اړه د معلوماتو ورکولو لپاره ورځني مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ کړل، په دغو معلوماتو کي د رايي ورکولو د پرانيستو مرکزونو تعداد، د امنيتي پيښو شمېرې او د غلطو رايو کاروني راپورنه شامل دي. د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي دفتر د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راتللو سره سم د سيمي د رسنيو ليدنه همغږې کړه.[273] د ټاکنو د خپلواك كمېسيون د ټاکنو له ورځي وروسته په دوامداره توګه هره ورځ خلکو ته د تازه معلوماتو په خاطر مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ کړل او د رايو د بکسونو د راټولولو په اړه معلومات ورکړل. په مطبوعاتي کنفرانسونو کي د اچول شويو رايو شمېرې، د کانديدانو د بري دعوې، د پايلو د اعلان د وخت او پلټنو په اړه هم معلومات نشرېدل. د۱۰۰ او ۱۵۰ ترمنځ د

انځور 3.44

د EMC مسؤليتونه




- د عامه رسنيو له خوا پوښښ څارل
- د عامه رسنيو د سرغړونو ته لارښوونه کول اداري قوانين
- د مرسته شويو اعلاناتو د پروګرام نظارت
- تر رايي اچولو 48 ساعته مخکي د رسنيو لخوا چوپه خوله پاتي کيدلو تصديق کول

سرچينه: د ټاکنو خپلواک کميسيون، "د ټاکنيزو رسنيو کميسيون،" www.iec.org.af/Content.asp?sect=2&page=electoralmedia, وکتل شو 2009\13\10.

رسنيو او د نړيوالې ټولنې مبصرينو په هر مطبوعاتي کنفرانس کې ګډون کولو.[274]

### دټاکنو وړتيا

د ټاکنو او باوري ټاکنو د کوربه توب په اړه د سيګار د پلټنې راپور له مخې د باوري ټاکنو کوربه توب د پروسې په يووالي او د ټاکنيزو وړتياوو د لوړولو لپاره دراتلونکې افغان حکومت په امنيت پورې اړه لري. د افغانستان د خپلواک کمېسيون اوږد مهالې ټاکنيزه وړتيا او په افغانستان کې د يو دايمي او قانونمند ټاکل شوي حکومت موجوديت د سيګار پلټنه په دغه راپور کې راغلي، چې "د ټاکنو خپلواک کمېسيون د نړيوال ملاتړ نه د خلاصېدو او په خپلو پښو د ودرېدو لپاره له سترو ننګونو سره مخ دی." د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد خپل وړ کارکوونکي ولري، ترڅو چې وخت پر وخت ټاکنې سر ته ورسوي. يو ځل چې اداري وړتياوې رامنځته شي، دغه ډول وړتياوو ته د شکايتونو په کمېسيون کې هم اړتيا ليدل کيږي که چېرته د شکايتونو کمېسيون په يو دايمي کمېسيون بدلېدل وغوښتل شي.[275]

## د حکومتي وړتياوو لوړول

د ملګرو ملتونو وندې اخيستنې او د نړيوالو بسپنه ورکوونکو او د افغانستان د دولت تر منځ په همغږۍ سره تړاو لري. د USAID د راپور له مخې د يو قوي حکومت د جوړولو لپاره د حکومت په هره کچه د مرکزي او سيمه ييزو اداري جوړښتونو وړتيا لوړول او قوي کول ډېر ضروري دي.[276] د کال په دغو دريو مياشتو کې د ټاکنو په پروسې تر نور هرڅه زيات تمرکز موجود و.[276] جدول 3.3 د اداري سمونونو د موخو نېټې ښيي.[278]

د USAID راپور ښيي، چې د يو حکومتي ارګان په ډول د افغانستان د دولت قانونمندي د ملکي خدمتونو، چې دغه ارګان يې وړاندې کوي په مؤثريت ولاړه ده. يو بيا په پښو ودرېدونکي هېواد، لکه افغانستان کې د حکومت د وړتيا لوړول د ملت جوړونې لپاره اساسي عنصر دی. د USAID د راپور له مخې وړتيا لرونکي ملکي اداره په هېواد کې د ثبات، قانونمندۍ، د سمونونو د رامنځته کولو او خلکو ته د خدماتو د وړاندې کولو لپاره تر هرڅه اړينه ده.[279]

جدول 3.3

| دملکي اداري د سمونو لپاره اوليتونه | | |
|---|---|---|
| **د افغانستان تړون موخې** | **حالت** | **د بشپړيدلو لپاره ټاکل شوي نېټه** |
| په ټولو دولتي ادارو کې (د يو شمير وزارتونو په شمول) به د ثبات لپاره سمونونه راوستل شي. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| په ملي کچه به په شپږو مياشتو کې ټولو لوړو دولتي پوستونو هم په مرکزي حکومت کې، په عدليه کې، د واليانو، امنيه قوماندانانو، ولسوالانو او نورو لپاره جوړ او په ۱۲مياشتو کې به يې په عملي کېدو کار پيل او په ۲۴مياشتو کې به په بشپړ ډول عملي شي. | نوی راپور نشته | جون ۲۰۰۹ - جون ۲۰۱۰ |
| د اداري واحدونو د شمېرې جاج اخيستل او د اقتصاديثبات لپاره د هغوی حدود ټاکل | نوی راپور نشته | مارچ 2007 |
| د لياقت پر اساس مقررياني او له دندو ګوښه کېدل، په هره کچه د ټولو ملکي دندو، چې مرکزي دولت، عدليه او پوليس په کې شامل دي جاج اخيستل او د بنې کارکردګی لپاره د وړتيا د لوړولو لپاره د مرستو غوښتل. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د افغانستان تړون، ۳۱\۱ - ۲۰۰۱\۱۲، مخ ۷.

# د ټاکنو د پایلو پلټنه

د کال د دغو درې میاشتو د فعالیتونو د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د شکایتونو د کمېسیون له خوا د بیا شمېر او پلټنې پروسه تشریح کوي. د دوی فعالیتونه د افغانستان په لومړنیو دیموکراتیکو ټاکنو کې د درغلیو روښانه ثبوتونو ته ځواب ویل وو.

## د درغلیو تورونه

د ملګرو ملتونو د سرمنشي د وینا له مخې، په رایو پانو کې د درغلیو او نور ټاکنیزو بې قاعده ګیو د شکایتونو کمېسیون اړویست چې د درغلیو په اړه پلټنې وکړي.[280] د UNDP/ELECT د راپور له مخې د ټاکنو خپلواک کمېسیون یو لړ ځانګړي ټاکنیز مرکزونه قرنطین او د هغو په اړه يې ټول اړین معلومات د شکایتونو کمېسیون ته ولېږدول. په دغو مرکزونو کې هغه مراکز شامل وو، چې د نتایجو فورمي په کې ورکې او یا غلطې وې.[281]

د ډېرو ټاکنیزو مرکزونو د نتایجو له ارزیابی وروسته، د ټاکنو کمېسیون دې نتیجې ته ورسېد چې په مرکزونو کې راي پانو په پرتله د کارول شویو راپاڼو شمېر او یا د یو کاندید لپاره د غیر معمولي شمېر رایو کارونه او یا دواړه او د دې په خبر نورې ټاکنیزې درغلې په دغو مرکزونو کې د درغلیو ښکاره ثبوت و. د ټاکنو د شکایتونو کمېسیون په ځینو ځانګړو ټاکنیزو مرکزونو کې رایې باطلې وګرځولې. چېرته چې د توقع څخه زیاتې رایې کارول شوې وې او له دغو مرکزونو راغلي راپورونه په حقایقو ولاړ وو.[282]

د لومړنیو څېړنو وروسته د شکایتونو کمېسیون د ټاکنو کمېسیون ته تر پوښتنې لاندې ۳۴۹۸ بکسونو د رای پانو بیا شمېرل او پلټنې دنده وسپارله تر څو ټاکنیزو درغلیو ته ځواب وویل شي.[283]

## د پلټنې پروسه

ځنګه چې دا کار ناشونی وه چې د درغلیو ټول تورونه په مناسبه موده کې وپلټل شي، دې دوو کمیسیونونو موافقه وکړه چې د رایې ورکولو د مرکزونو د نمونو په اساس، چېرې چې د ټاکنیزو سرغړونو جدي نښې موجودې وي، د پلټنې او بیا شمیرلو پروسه ترسره کړي.[284] دا کار مناسب وخت په لاس ورکړي تر څو که دویم پړاو ټاکنو ته اړتیا ولیدل شي، هغه ترسره کړي.[285] دا نمونه اټکل په سلو کې ۱۰ د هغو اټکل شویو رایې پانو شمیر دی چې په ۳۴۹۸ بکسونو کې موجودې وي.[286]

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر پر نولسمه د شکایتونو کمېسیون اعلان وکړ، چې کاندیدانو ته غورځول شوې یوه خاصه فیصدي رایې به مسترد کړي. په نتیجه کې هیڅ یو کاندید ۵۰ جمع یو فیصدي رایې تر لاسه نشوې کړای، چې ګټونکی اعلان شي، نو ځکه د هغو دواړو کاندیدانو، چې د نورو په پرتله یې زیاتې رایې اخیستې وې، ترمنځ د دوهم ځل ټاکنو پرېکړه وشوه.[287]

د درغلیو څېړنه: د پلټنو کټګوریوي




سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "د ټاکنیزو شکایتونو د 8 سپتمبر 2009 نیټې د حکم په ځواب د پلټنې د پروسې په اړه حقایق پاڼه"
www.iec.org.af/assets/pdf/factsheet/eng/fs14E.pdf وکتل شو 10\14\2009؛ د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "د لومړیو دریو کټګوریو د رایې اچونې د مرکزونو نړۍ"
www.iec.org.af/assets/pdf/audited/random_¬rst_sample_audit.pdf وکتل شو 10\14\2009؛
د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "د لومړیو دریو کټګوریو د رایې اچونې د مرکزونو نړۍ"
www.iec.org.af/assets/pdf/audited/random_¬rst_sample_audit.pdf وکتل شو 10\14\2009؛

## حکومتي اداره

د ملګروملتونو د سرمنشي په وینا په افغانستان کی محدود سازمان شوي اداري جوړښت په اداري پوستونو کي د وړ لیډر شپ کمی راکموي. په اداري د خلکو د باور کموالي د افغانستان د دولت واك او قانونمندي راکموي "چې له امله یې روانه جګړه رامنځته کیږي." [288]

د USAID د یو راپور له مخې د افغانستان فعلي ملکي اداري د وړتیا د وسایلو د کموالي سره مخ ده، چې د وړ او مسلکي مامورینو د اړینو سمونونو رامنځته کولو او ولس ته د عامه خدماتو دورکولو وړتیا لري، له کمي سره مخ ده، په قانوني، سازماندهي او اداري چاروکي پراخه کمزوریاني د اداري سمونونو مؤثریت ته ګواښ پیښوي. ملکي دولتي مامورین لا هم د هغوی د ملاتړ په بنیاد مقرر کیږي او یا په خپل مقام پاته کیږي.[289]

USAID په اداري چارو کي د اصلاحاتو له پاره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له ابتکار څخه ملاتړ کوي. USAID د ملکي خدماتو د مرستي لپاره مالي سرچیني برابروي، چې په دغه کي مسلکي مامورینو ته د پوهاوي او د هغوی د وړتیا لوړولو له لارې د حکومتي اداري تقویه کول شامل دي.[290]

دUNDP دوړتیا دلوړولو دپروګرامونو له لارې په ادري سمونونو کې مرسته کوي.[291] دUSAID دراپور له مخې دوړتیا لوړولو ددغه پروګرام موخه دافغانانو دمشرۍ لاندې دوزارتونو مؤثریت زیاتول دي. چې دغه پروګرام په خانګړې ډول لاندي موخې لري:[292]

- د افغان مسلکي مامورینو وړتیا زیاتول ترڅو د جګړو د کلونو، طالبانو د واکمنی نه راپیدا شوي ستونزي او اداري فساد له منځه یوسي
- د وزارتونو ترمنځ همغږي رامنځته کول، وزارتونه عصري کول او د هغوی اداري جوړښت سمول
- د افغانستان په دولت کي د بدلون، راوبښېدو او د مامورینو وړتیا ته وده ورکول

د بهرنیو چارو د وزرات د راپور له مخي، دمخدره موادو او د قانون دتنفیذ نړیواله (INL) څانګه ۳۵ مشاورین لري، چي د مخدره موادو پر ضد د مشاوریت ډلي له پروګرام او د مخدره موادو د لمنځه وړلو لپاره د کولمبو د عامه پوهاوي پروګرام سره په ګډه د مخدره موادو وزارت (MCN) لوړتیا د پورته وړلو له لارې په مرکز او ولایاتو کي د مخدره موادو د لمنځه وړلو پروګرام تقویه کوي. دا مشاورین د MCN د وړتیاوو د لوړولو مسؤولیت په غاړه لري چي په مرکز او ولایاتو کی د مخدره موادو په خلاف د پرواګرمونو ملاتړ وکړي.[293]




## ننګوني

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د هیواد په کچه د امنیت نشتوالی او اداري فساد د اداري سمونونو په پروسه منفي اغیز کوي. د امریکا متحده ایالاتو او نړیوالي ټولني د افغانستان د حکومتي ظرفیتونو د لوړاوي لپاره ډیرې هڅې کړي دي، خو په دغه اړه ډېر کم پرمختګ شوی دی. د ملګرو ملتونو سرمنشي د یو باثباته افغان دولت په لار کي یو شمېر موجودي ننګوني په ګوته کړي دي:[294]

- د وړ او مسلکي افغانانو کمی
- د فساد موجودیت او د قیادت نشتوالی
- د اداري کلتور کمی
- د زړو دښمنیو پرېښودلو او د دولت په اړتیاوو د تمرکز کولو لپاره د افغان سیاستوالو کم میلان

د ورځ په ورځ خرابېدونکي امنیتي چاپیریال کوم چي پر قانون د ولاړو ادارو پرمختګ ته ګواښ پیدا کوي، مسلکي افغانان د ترفیع د زوړ سیستم او د کمو معاشونو له امله په دولتي ادارو کي دندي کولو ته علاقه نه ښیي. همدا لامل دی، چي د مسلکي ادارو د سمونونو پروګرام، د حکومتي مامورینو د معاشونو په زیاتولو، د فعلي مامورینو د وړتیاوو جاج اخیستلو او د لیاقت پر اساس په ترفیع کولو متمرکز دي.[295]

## د قانون حکومت

لکه چي په جدول 3.4 کې ښودل شوي دي، دافغانستان د ترون له مخي د ANDS د قانونمندی موخو لاسته راوړلو لپاره مارچ ۲۰۱۱ نېټه ټاکل شوې ده.[296] د دغي موخي د لاسته راوړلو په لار کي د پرمختګ هيڅ راپور نه دی ورکړل شوی.

## په قضايي برخه کې سمونونه

د افغانستان د ملي عدلي سکتور تګلاره په قضايي سيستم کي د سمونونو د راوستلو لپاره لار نقشه ده. دغه د ملي قضايي سيستم له لارې پياده کيږي.[297] د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راپور له مخي د ملي قضايي پروګرام مؤثريت په دې سره اړه لري، چي څومره د څارنوالی دفترونو ته اړتيا ده، د مامورينو د مقررولو لپاره د اولیتونو ټاکل دي.[298]

د INL د راپور له مخي د څېړنو فدرالي اداره، د مخدره موادو اداري، د عدليي وزارت، USAID او USTC-A د افغانستان د وزارتونو لپاره د لارښود حيثيت لري تر څو چي د افغانستان د دولت د تقويي له لارې د افغانستان د جرمونو قانون پلی کړي.[299]

## دقانون جوړوني په اړه تازه معلومات

لکه څرنګه چي په جدول 3.5 کې ښودل شوي، په ۲۰۰۴ کال کي د افغانستان د اساسي قانون له پاس کېدو وروسته له ۱۵ زيات د جنايي جرمونو سره تړلي قوانين تصويب شوي دي.[300]

هغه قوانين چي تازه پاس شوي، د تروريزم سره د مبارزې، د اختطاف او د انساني قاچاق قوانين دي، چي دواړه په ۲۰۰۸ کال کي پاس شوي دي. د محکمو لپاره منځمهالي اصول په ۲۰۰۴ کال کي وضع شول خو د بهرنيو چارو د وزارت د راپور له مخي جنايي اصول لا تراوسه په رسمي توګه نه دي خپاره شوي.[301]

د INL د راپور له مخي دوی اوس هم د افغانستان دولت ته د وضع شوو قوانينو د درست عملي کولو لپاره مشاورين ورکوي. ځکه چي د افغانستان د جنايي جرمونو اصول په بېلابېلو بنو سره خپل کړل شوي دي. د INL مشاورين د افغانستان د دولت سره د نويو قانون جوړوني عملي کېدل يقيني کول او د نيولو او محاکمه کولو لپاره موجود قوانين د وضع شويو قوانينو سره سم په عملي کولو کي مرسته کول شامل دي.[302]

جدول 3.4

**د قانون د حاکميت لپاره ستراتيژيک لومړيتوبونه**

| د افغانستان ترون موخي | حالت | د بشپړيدلو لپاره ټاکل شوي نيټه |
|---|---|---|
| د اساسي قانون سره سم به د ټولو مسلکي او اقتصادي قوانينو لپاره يو چوکاټ جوړ شي، کوم چي به ټولو قضايي او د قانون جوړوني ادارو په واك کي ورکړل شي. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| د قضاء د برخي ټولي اداري به د افغانستان په ټولو ولايتونو کي په کار پيل وکړي او ددعوو د فيصله کولو متوسط وخت به، چي څومره کېدای شي نوی راکم کړل شي. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| د فساد له قانون نه د غلطي استفادې او د بشپړې پروسي کموالي سره تړلي دنظارت پروسه به زر پيل شي. | نوی راپور نشته | مارچ 2007 |
| د فساد له قانون نه د غلطي استفادې او د بشپړې پروسي کموالي سره تړلي د نظارت پروسه به پياده شي. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| د قضايي سيستم د مسلکي توب، باور او د کليدي ادارو د تقويې لپاره سمونونه رامنځته کول (د عدليي وزارت، قضا، د لوی څارنوال دفتر، د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست). | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي: دولتداري، د قانون حاکميت، او بشري حقوق،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf؛ مخ ۶۵. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ترون،" ۱۳۸۱ - ۲۰۰۶/۱/۱۲، مخ ۸.

د بېلګي په ډول د INL د قضا د سکتور د حمايي پروګرام وخت په وخت خپل نصاب د افغانستان د وروستي پاس شوي قانون سره سر ورکوي، ځانګړي تربيوي کورسونه جوړوي، ترڅو چي ښارنوالان او د جنايي جرمونو پلټونکي پوليسو معلومات تازه کړي.[303] د قضا سکتور د حمايي پروګرام مشاورين د نويو وضع شويو قوانينو او زړو قوانينو، چي لوی ښارنوالی يې د نه عملي کېدو شکايت کړی وي په اړه ځانګړي کورسونه دايروي.[304]

د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی، چي د راپور ورکوني په دغه دوره کي به د عدليي وزارت تفتيش هر موجود قانون چي (دموجود اساسی قانون نه مخکي موجود و) ارزيابي کوي. له دي علاوه به د تقنين د اړتيا سره سم نوي قوانين ارزيابي کوي.[305]

د جنايي جرمونو د سمونونو کاري ګروپ، JSSP او د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرمونو اداری د جنايي پروسيځ د اصولو يو دوباره د نظره تېره شوي مسوده تقنين ته وړاندي کړه، ليکن مسوده پارلمان ته نه ده وړاندي شوي. د INL د راپور له مخي دغه مسوده څو سوه پاڼي اوږدوالی لري او په دواړو دري او انګرېزي ژبو ليکل شوي. دا تعديل شوي مسوده همدا رنګه په کابل کي د متحده ايالاتو سفارت او INL ته ورکړ شوي ده.[306] د INL په وينا، تقنين له JSSP او UNODC سره د اړتيا سره د CPC د تعديل شوي مسودي د محتوى اوموخي په اړه همکاري کوي. تقنين دا مسوليت لري چي پريکړه وکړي کوم وړاندي کړی شوي تعديلات بايد ومنل شي.[307]

ځيني هغه ننګوني چي INL د CPC د مسودي ليکلو پرمهال ورسره مخامخ شو په لاندي ډول دي:[308]

- د زړو او نويو قوانينو مجموعه، د CPC له ارزيابی مخکي يوي پراخي ارزيابي او تحليل ته اړتيا لري
- د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون سره ورته والی، دهغو حقوقو په ګډون، چي د افغانستان په محاکمو کي نه دي وړاندي شوي
- محدود تحليلي قانوني سابقه د وضاحت لپاره د افغانستان د عدلي سکتور د ملګرو وضاحت ته اړتيا لري

**تقنين:** د عدليي وزارت د قانون د مسودو برابرولو څانګه، د INL په اساس. دا څانګه په ۱۳۴۱ (۱۹۶۲) هجري کال کي تاسيس شوه چي د هغه وخت د لومړي وزير له دفتر سره د ټولو ملي قوانينو په مسوده او کتنه کي مرسته وکړي، اساساْ دا چي له اساسي قانون، اسلامي قانون، او نړيوال قانوني معيارونو سره اړخ لګوي او دا د ټکر مخه ونيسي.

سرچينه: د عدليي وزارت، www.moj.gov.af، وکتل شو ۲۰۰۹|۱۹|۱۰.

جدول 3.5

| د افغانستان د جنايي جرمونو سره اړوند تصويب شوي قوانين، ۲۰۰۹-۲۰۰۴ | |
|---|---|
| **د قانون عنوان** | **د وضع کېدو کال** |
| د پيسو مينځلو پرخلاف قانون | 2004 |
| د مخدره موادو پرضد د مبارزي قانون | ۲۰۰۳ په ۲۰۰۶ کي تعديل شو |
| تروريزم ته د پيسو ورکولو سره د مبارزي قانون | 2005 |
| د پيسو مينځلو او د هغوی څخه ترلاسه شوي ګټو په خلاف د کمپاين قانون | 2004 |
| د محاکمو لپاره منځمهالي اصول | 2004 |
| د اداري فساد او رشوت پر خلاف د مبارزي قانون | 2004 |
| د زندانونو او توقيف خانو په اړه قانون | 2005 |
| د پوليسو قانون | 2005 |
| د ناريه وسلو، مهماتو او چاودېدونکو موادو قانون | 2005 |
| د پوځي محکمو د سمون قانون | 2005 |
| د پوځي محکمو قانون | 2005 |
| د پوځي جرمونو د پروسي قانون | 2006 |
| د پوځي ديوانونو اصول | 2006 |
| د تروريزم پر خلاف قانون | 2008 |
| د اختطاف او انساني قاچاق پر خلاف قانون | 2008 |

سرچينه: INL، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹|۵|۱۰.

- په څو ژبو مسوده لیکل په ځانګړي توګه په دري او انګلیسي ژبو تر څو چې د افغانستان د عدلي سکتور استازي او نړیوال قانوني مشاورین، په مجوزه قانون جوړوني په بشپړ ډول پوهه شي
- د تخنیکي قانوني اصطلاحاتو، اصولو او نظریاتو درسته او پر وخت ژباره کول
- پر اړوندو اسلامي اصولو پوهېدل او پر دوی د نړیوالو کنوانسیونونو، کوم چې افغانستان امضاء کړي دي پر تاثیر پوهېدل

## بشری حقوق

لکه څرنګه چې د افغانستان په تړون کې ذکر شوي دي، دافغانستان دولت غواړي، چې د بشر د حقونو خپل ریکارډ ښه کړي  په دې اړه د هیڅ ډول پرمختګ راپور نه دی ورکړل شوی. په جدول 3.6کې د افغانستان د بشر حقونو په اړه د دولت ټاکل شوې موخې په ګوته شوي دي.[309]

په دې څو کلونو کې د شیعیه د ښځو د اصولو د قانون په پاس کولو سره نړیوالو د افغانستان د ښځو حالت ته پام وراړولو. د اوسني حقونو د قدم په قدم د لمنځه تللو د قانون په اړه د الهام سره مخې ته راغلل  په ۱۹ جولای ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان ولسمشر د ښځو په وړاندې دتاو تریخوالي د کمولو په خاطر یو قانون لاسلیک کړ. د ملګرو ملتونو د سازمان د سرمنشي په وینا دغه قانون جنسي تیري، لکه زنا بالجبر، په زوره واده، په کم عمرۍ کې واده، په زور کار او د پیسو په بدل کې زنا کول ناقانونه ګرځوي.[310]

په عام ژوند کې پر ښځو او جینکو جنسي زور زیاتی د ښځو او سړو د مساوي حیثیت په رامنځته کولو کې تر ټولو ستر خنډ دی. د ملګرو ملتونو د سر منشي د راپور له مخې پر ښځو او جینکو د تیري کوونکو پر وړاندي کلتوري زغم چې رواجونه، د خلکو رویې او نور دودونه یې قوي کوي د ښځو په وړاندې د زور زیاتیو منل قوي کوي، چې له دغه امله ښځې په ټولنه کې د کمزوري رول درلودو ته اړ کیږي.[311] په افغانستان کې د ښځو په اړه د نورو معلوماتو په اړه، د اقتصادي او ټولنیز پراختیا په برخه کې د دریو میاشتو مهمي لاس ته راوړني وګورئ.

جدول 3.6

**د بشري حقوقو لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه**

| د افغانستان تړون موخې | حالت | د بشپړیدلو لپاره ټاکل شوي نیټه |
|---|---|---|
| د دولت وړتیا د بشر د حقوقو د قانون سره سم چلند وکړي او خپل مسؤلیتونه سرته ورسوي | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| د دولت امنیتي ځواکونه به یو لړ اقدامات کوي، چې په کې مسلکي اصولو ته د درناوي له لارې په نا قانونه توګه د خلکو نیونه، توقیف، شکنجه کول او د خلکو د ملکیتونو د عفت مخه نیول | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |
| د بشر حقونه به د دولت او همدارنګه د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون له خوا په خپل واکه توګه ارزیابي کیږي. | نوی راپور نشته | مارچ 2011 |

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د افغانستان تړون، ۳۱۱۱ - ۲۰۰۱۱۱۲، مخ ۷.

# دولتداري




د راپور ورکولو په دي دوره کې، ملګرو ملتونو د عدليې وزارت سره د بشر د حقونو د ملاتړ د یوې څانګې په جوړولو کې مرسته وکړه. د دغې څانګې موخه د افغانستان حکومت سره د هغو تګلارو او پالیسو په عملي کولو کې مرسته کول دي، چې د نړیوالو تړونونو له امله افغانستان دهغو موادو په منلو او عملي کولو مجبور دی.  د بېلګې په ډول ملګرو ملتونو په کابل او خواوشا سیمو کې د توقیف مرکزونه وکتل، تر څو چې د دوی حالت وګوري او د بندیانو د خپلو خپلوانو سره اړیکې نیول او قانوني اسانتیاوې او ځان ته د دفاع د حق حاصلول یقیني کړي. ملګري ملتونه دافغانستان د عدلي ادارو ملاتړ کوي، تر څو چې د دوی وړتیا هغه حد ته ورسیږي، چې دوی وکولای شي، چې د بشر د حقونو د نړیوالو معیارونو سره سم چلند وکړي.[312]



**فرهنګي او قانوني** خنډونه په افغاني ټولنه کې د ښځو د بشپړې برخه اخیستې مخه نیسي. (د متحده ایالاتو د هوايي ځواک انځور، ډګرمن ستاسي ان شافران)

# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي (ANDS) پر اقتصادي وده ټينګار کوي او دغه د بيا رغوني له ودې له درې پايو يوه پايه ګڼي.[313] د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ کوم عناصر چې په دغه برخه کې د څېړنې لاندې نيول شوي، په کې اقتصادي وده، ضروري خدمات، صنعت، د مخدره موادو پرخلاف مبارزه او د افغانستان ښځې په کې شاملې دي.

## اقتصادي وده

د اقتصادي ودې لپاره ستراتيژي په خصوصي سکتور د زيات انحصار وړاندوينه کوي.[314] د يو باثباته اقتصادي چاپيريال د رامنځته کولو او ممد مالياتي سيستم لپاره ANDS د اقتصاد د پرمختګ لپاره يو لړ ځانګړي اولويتونه، چې په کې د انفلاسيون کنترول او د قوانينو سمونه، چې د افغانستان د دولت مسؤليت دی، په ګوته کړي.[315]

### د افغانستان پيسه

د امريکا د ماليې وزارت د راپور له مخې په ۲۰۰۲ کال کې له رواجېدو وروسته افغانۍ د ډالر په مقابل کې يو څه ثبات لري ليکن په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کې د انفلاسيون شرح د دوه رقمي عدد په اندازه پورته لاړه او د دغه کار اصلي لامل په نړيواله کچه د سون د موادو د نرخونو پورته کېدل او وچکالي وه، چې د حبوباتو د فصلونو په حاصل يې منفي تاثير وکړ.[316] انځور 3.45 ښکاروي چې د ځينو اجناسو قيمتونو انفلاسيون څومره د ۲۰۰۲ کال او ۲۰۰۹ ترمنځ توپير درلود.




**افغانۍ په ټول افغانستان کې منل کيږي؛ په سرحدونو کې، ايراني ريال او پاکستانۍ روپۍ په لويه کچه کارول کيږي، د ماليې وزارت راپور ورکوی.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، ۲۰۰۹\۳۰\۱۹.

انځور 3.45

مصرفي نرخ انفلاسيون (فيصدي)




ګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 9\30\2009.

**په افغانستان کې د بهرنيانو ملکيت بانکونو مرکزي دفترونه د نړي په هيوادونو کې دي: هند (د هند د پنجاب نيشنل بانک)، ايران (آريان)، پاکستان (برک، حبيب، د پاکستان نيشنل بانک)، متحده عربي امارات (الفلاح)، او بريتانيا (ستندرد چارترد).**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د خزاني خواب، ۲۰۰۹/۳۰/۱۹.

## بانکداري

د امريکا د مالیي وزارت د راپور له مخي وروسته له هغي چي د افغانستان پارلمان په ۲۰۰۴ کال کي د بانکونو قانون پاس کړو، بانکونه په تېزي سره وده کوي، په افغانستان کي دوه دولتي بانکونه، اووه د خارجيانو بانکونه او اته د افغانانو بانکونه شتون لري.[317]

بانکي سيستم د افغانستان بانك له خوا، چي د افغانستان مرکزی بانک دی، اداره کيږي. د افغانستان بانك د هېواد د اقتصادي سکټور د ثبات او تندرستي مسؤليت په غاړه لري.[318] په ۲۰۰۹ کال کي دافغانستان بانك د پنځه و ستونو ستراتيژيك پلان چي له ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۴پوري په بر کي نيسي نشر کړ.[319] جدول 3.7 د پنځه ستونو د پلان سره تړلي کارونه تشريح کوي.

د مالیي وزارت د راپور له مخي د افغانستان بانکونو رئيسان وايي، چي امنيت د بانکدارئ لپاره اوس هم تر ټولو ستره ننګونه ده. د ناقانونه پيسو د کاروني لپاره زاړه قوانين او د بانکونو د کاروني د ترهګرو سازمانونو مخنيوی، له بانکدارئ سره اړوند نور مسايل دي.[320]

په رواجي ډول افغانستان د "بانکدارئ کلتور" نه درلود، چي له دي سره داوړد مهال لپاره په بانك کي دپيسو د ايښودلو وېره، د بانك د قرضو په اړه ناکافي معلومات او باندينيو پيسو ته د نه لاس رسي، هغه عوامل دي، چي د دغه سکتور لپاره يي ستونزي پيدا کړي دي.[321] د بانکونو رئيسان د مرکزي بانك په حيث دافغانستان بانك سره تړلي يو لړ ستونزو لکه د دغه بانك په څارنه کي کمزوريانو ته اشاره کوي او وايي، چي دغه کمزورياني ستونزو ته لار هواروي. له دي حقيقت سره سره چي شخصي بانکونه عيسوي تاريخ کاروي، د افغانستان بانك د شمسي تاريخ کارولو ته لا هم دوام ورکوي.[322]

## کورنی ناخالص تولید

د۲۰۰۹ - ۲۰۱۰پر مهال په افغانستان کي د کورني ناخالص تولید وده ۸.۳% اټکل شوې په داسي کال کي چي دغه وده په ۲۰۰۸ - ۲۰۰۹ کي ۳.۴% وه.[323] دمالیي وزارت د راپور له مخي په ۲۰۰۸ - ۲۰۰۹ کال په کورني عوايدو کي تر ټولو لويه ونډه د خدماتو صنعت و، په تېره بيا د اقتصادي خدماتو او مخابراتو، خو همدا رنګه د مرستندويانو ادارو لپاره د ترانسپورتي خدماتو او دترجمو له درکه. دويمه ستره ونډه د کرني د سکتور او په

جدول 3.7

**د DAB د پنځو-ستنو ستراتيژي**

| د ستني شمير | د ستني عنوان | فعاليتونه |
|---|---|---|
| 1 ستن | د مالي پاليسي اغيزمنتوب ته وده ورکول | له مالي وسايلو څخه کار اخيستل، چي په هغوی کي د خلاص مارکيټ عملياتونه، د ذخيري غوښتني، او د پور ورکولو اسانتياوي دي |
| 2 ستن | د مالي منځګړيتوب ژورول | مالي سکتور ته د بيلابيلو رنګونو ورکولو او مالي توليداتو او خدمتونو له لاري غوړول؛ په کوچنيو او منځنيو شرکتونو تمرکز کول، د منځنی او اوږدي مودي د پور ورکولو ميکانيزمونو په کار اچول |
| 3 ستن | د ظرفيت جوړولو ګړندی کول | د سازمانونو کفايت د يوه موثر سازماني تشکيل جوړولو او د کيفي او کمي منابعو او موخو په تامين سره ښه کړئ |
| 4 ستن | د معلوماتو اداره لوړول | معلومات په موثره توګه راټولول او په وخت سره د لندو فيصلو کول |
| ۵ ستن | د ښه شرکتي پرمخ بيولو ته اهميت ورکول | له لوړي شورئ او دولت سره په اړيکو کي تر ټولو غوره لاري په کار واچوي |

سرچينه: DAB، "د ۲۰۱۴-۲۰۰۹ لپاره ستراتيژيک پلان: د نرخونو ثبات ته وده ورکول او د يوه غښتلي مالي سيستم جوړول،" ۲۰۰۹/۲۲/۲.

ځانګړي ډول د غنمو له حاصله لاس ته راغله. صنعت (تر ډېره حده توليدات) په کورني عايد کې دريمه ستره ونډه درلوده.[324] انځور ۳.۴۶ په کورني ناخالص توليد کې د دې ګروپونو تخميني ونډه ښيي.

انځور 3.46

د افغانستان د ناخالص کورنۍ توليداتو جوړښت، 2008-2009




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. شميرې اټکل دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 2009\30\9.

## کارموندنه

اګر چې په دې اړه پوره جزئيات نشته، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) د يو راپور له مخې د افغانستان ۲۵ميليونه نفوس ۴۰ په سلو کې کار نه لري. USAID په دې باور ده چې وزګارتيا د زياتېدونکې بې ثباتۍ يو ستر لامل دی.[325]

د افغانستان په وزارتونو کې د وړتيا د کمي او د ملي سرشمېرني سره د تړليو مسائلو له امله د بې روزګارۍ کره فيصدي معلومول ستونزمن دي. نه خو نړيوال بانك او نه هم نړيوال وجهي صندوق په افغانستان کې په باقاعده ډول دکار موندنې احصايه اخلي.[326]

## اړين خدمتونه

اړين خدمتونه د ANDS د سختو انفراسټرکچر عناصرو (لکه انرژي، ټرانسپورټيشن او اوبه)، سره د نرم انفراسټرکچر کوم چې انساني او اداري وړتياوې تشريح کوي (د تعليم او روغتيايي خدمتونو په شمول) ته ويل کيږي. ANDS په دې باور دی، چې د تلپاتې اقتصادي پرمختګ لپاره په دغو ساحو کې موجودې ستونزې حلول اړين دي.[327]

## انرژي

هيڅوک نه پوهيږي، چې څومره افغانان برېښنا ته لاس رسی لري، افغان دولت وايي، چې دغه يو ستونزه ده. اټکلونه ښيي، چې له ۱۵نه تر ۱۷ فيصدو پورې افغانان د غير منظمو برېښنا جوړوونکو مرکزونو څخه راغلې برېښنا ته لاس رسی لري.[328]

ANDS په دې باور دی، چې د برېښنا په سکتور کې پرمختګ "د اقتصادي ودې لپاره تر بل هرڅه زيات اړين" دی.[329] جدول 3.8 دمختلفو فکتورونو تشريح کوي، د کومو له لارې چې ANDS په دغه سکتور کې پرمختګ اندازه کوي.

جدول 3.8

| د انرژي سکتور د ودې لپاره ستراتيژيک اوليتونه | | |
|---|---|---|
| **د ANDS موخې** | **حالت** | **د ANDS د بشپړيدو نيټه** |
| برېښنا به لږ تر لږه ۶۵ په سلو کې د ښاري سيمو کورنو او ۹۰ په سلو کې ښاري مرکزونو ته، چې خلك په کې استوګن نه وي ورسيږي. | اټکل ۱۵ نه تر ۱۷ فيصده کورنۍ دغيرمنظمو برېښنايي مرکزونو له لارې برېښنا ته لاس رسی لري. | مارچ 2010 |
| برېښنا به په کليوالو سيمو کې ۲۵ فيصده کورنيو ته ورسيږي | لږ تر لږه له ۵،۵ نه تر ۶ فيصده افغانان په ليرې پرتو ولايتونو کې د غير منظمو برېښنايي مرکزونو له لارې برېښنا ته لاس رسی لري. | مارچ 2010 |

يادونه: USAID "کليوال ولايتونه" د "هغه ولايتونه چې هلته تر ۲۵ فيصد لږ خلک د مارکيټونو په مرکزونو کې اوسيږي" په توګه تعريف کوي.

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf, مخ ۸۰-۷۹؛ د سيګار پلټنه، د انرژي په اړه پوښتنو ته ځوابونه، ۲۰۰۹\۱۶\۹. ځيني ډيټا له USAID څخه اخيستل شوي.

جدول 3.9

| د زده کړې د مواقعو د پیاوړي کولو لپاره ستراتیژیک اولیتونه | | |
|---|---|---|
| **د ANDS موخې** | **حالت** | **د ANDS د بشپړیدو نیټه** |
| لږ تر لږه ۱.۸ میلیونه افغانانو ته د باسوداي پرواګرامونو ته د لاس رسي اجازه ورکوي، چې په هغوی کې په سلو کې ۶۰ ښځي، اقلیتونه، کوچیان، او معیوب کسان شامل دي. | نیژدي په سلو کې ۱۸ بالغاني ښځي سواد لري؛ د بالغو سړیو شمیر ۵۰ په سلو کې دی. | مارچ 2010 |
| د پرمختایي لپاره حداقل موخې: ټول افغان ماشومان به د لومړیو زده کړو بشپړ کورس ته لاس رسي ولري. | په ۲۰۰۹ کې نیژدي ۵۳.۵ په سلو افغان ماشومان ښوونځي ته ځي. | 2020 |

سرچیني: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20 National%20Development%20Strategy_eng.pdf، مخ ۸۰-۷۹؛ د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۲\۱۰. USAID دا شمیري د افغانستان د ښووني او روزني وزارت د پلان جوړولو ریاست په اختیار کې ورکوي.

## ښوونه او روزنه

په دغه سکتور کې د ANDS موخه داده، چې هر افغان ښووني او روزني ته يو شان لاس رسی ولري. لکه څرنګه چې ANDS بيان کړی "داسي ښوونيز سکتور چې داسي اشخاص ټولني ته وړاندې کړي، چې اړوند مهارتونه او علم ولري د اوږده مهال اقتصادي ودې لپاره اړين دي."[330] جدول 3.9 د ANDS له خوا جوړ شوي ښوونيزو موخو تفصيلات وړاندې کوي.

په ۲۰۰۹ کال کې ۵۳،۵ په سلو کې (۶،۷ ميليونه) کوچنيان ښوونځي ته لاړل. د ښووني او روزني وزارت اټکل کوي هغه کوچنيان چې ښوونځيو ته ځي په سلو کې ۳۷ يې نجوني دي. د USAID دراپور له مخې ۵،۳ ميليونه افغان کوچنيان اوس هم ښوونځيو ته لاس رسی نه لري او په هيڅ ډول روزنيز پروګرام کې راجستر نه دي.[331] انځور ۳.۴۷ د جنس په اساس په ټولګيو د ثبت شويو زده کوونکو شمير ښيي.

انځور 3.47

په افغاني ښوونځيو کې ښځينه زده کوونکي، له 1 تر 12 ټولګيو پوري (په زرګونو)




يادوني: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوې دي. شميرې اټکل دي. USAID شميرې د افغانستان د ښووني او روزني وزارت په اختيار کې ورکوي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 2009\2\10.

### د ولايتونو په کچه ښوونه او روزنه

د USAID د راپور له مخې افغانستان د ښووني او روزني يو مرکزي سيستم لري، چې د ښووني او روزني وزارت له خوا اداره کيږي. په دغه سيستم کې لومړني او ثانوي زده کړې، ځوانانو او د بالغانو سواد آموزي او تخنيکي او حرفوي زده کړې شاملې دي.[332]

په جنوبي ولايتونو کې د ښووني او روزني په وړاندې ننګوني له نورو ځايونو زياتي دي. USAID راپور ورکوي چې په کابل، هرات، او ننګرهار کې ښوونيزې چارې ترنورو ولايتونو زياتي دي.[333]

د USAID د راپور له مخې ښوونيز سيستم ته دلاس رسي لپاره کمپيوټر يوه ښه لاره ده. دامريکا متحده ايالاتو په نهو ولايتو کې دانټرنيټ له لارې دقابلو لپاره د ښووني او روزني د ترېبې يو پروګرام لري. اولنی نمونه د کار د لنګون په درېيمه مرحله تمرکز کوي د روزنې د موډل تر څنګ، د دغې موخې لپاره USAID پروګرام لپاره ۵۱ کمپيوټري ورکړي دي. کمپيوټر او د ټرېننګ پروګرامونه به په بدخشان، باميان، غور، هرات، جوزجان، کابل، خوست، پکتيا او تخار کې وکارول شي. USAID په نظر کې لري، چې د انټرنيټ له لارې قابلو ته د مشورو په اړه مهارتونه او د نوي زېږېدلو کوچنيانو په اړه معلومات ورکړي.[334]

### د ښووني او روزني په لار کې ننګوني

د USAID د راپور له مخې په افغانستان کې ښوونيز سيستم له يو لړ ننګونو سره مخ دی.[335] ځينې دغه ننګوني په لاندې ډول دي:

- امنيت او په ښوونځيو بريدونه

- بې سوادي
- په ښوونځيو کې د نجونو پر خلاف د زور زياتي ګواښونه
- د ښوونکو د زده کړې د کچې ټيټوالی او د تعليمي اسنادو نه درلودل

په هېواد کې بې ثباتي د افغانستان په ښوونيز سيستم ناوړه اغېزه کوي. په تېرو دوو کلونو کې، د امنيتي ملحوظاتو له امله ۶۷۳ ښوونځي سوځول شوي، بريدونه پرې شوي او يا تړل شوي دي. د ښوونې او روزنې وزارت وايي، چې د دغه ښوونځيو د تړل کېدو له امله لږ ترلږه ۳۰۰،۰۰۰ افغانان زده کوونکي له زده کړو بې برخي شوي دي.[336]

د ښځينه ښوونکو کمی يوه بله ستونزه ده. په هيواد کې د ۴۱۵ روزنيزو ولسواليو خواوشا ۲۰۰ يې ښځينه ښوونکي نه لري. د ښځينه ښوونکو نه موجوديت د ښځينه زده کوونکو دزده کړو چانس کموي.[337]

### د امريکا د متحده ايالاتو هڅې

USAID په لويه کچه دزده کړو سره دتړليو ابتکارونو ملاتړ کوي. ټولې پروژې د هېواد په کچه د زده کړو په پرمختګ متمرکزې دي.[338] جدول ۳،۱۰ د USAID روزنيزې پروژې تشريح کوي.

## روغتيايي خدمتونه

د افغانستان د عامې روغتيا وزارت په وينا د افغانستان د وګړو روغتيايي حالت د ټولې سيمې له خلکو ډېر خراب دی؛ USAID وايي، چې په نړۍ کې دافغانستان روغتيايي حالت له بل هر چا خراب دی.[339] ځيني نمونوي احصايې په لاندې توګه دي:

جدول 3.10

**په ښوونيز سکتور کې د USAID هڅې**

| د پروژې عنوان | دفعاليتونو تشريح |
| --- | --- |
| دښوونکو لپاره د زده کړو د سيستم جوړول (BESST) | د BESST د ښوونې او روزنې وزارت ښوونکو ته د دندې پر مهال د ټرېننګ ورکولو پروګرام ۵۰۰۰۰ ښوونکو ته چې د افغانستان د ښوونکو يو پر دريمه برخه جوړوي، په ۱۱ ولايتونو کې پياده کوي، په دغه پروګرام کې ښوونکو ته د ښوونې او روزنې او اصول تدريس زده کړې ورکول کېږي. په دغه پروګرام کې مديرانو ته په اداره کې ټرېننګ ورکول کېږي، ويډيوګانې او راډيويي ښوونيز پروګرامونه دښوونکو لپاره جوړېږي او د ښوونې او روزنې وزارت سره د ظرفيتونو په لوړوالي، د سيستم د جوړولو او د استخدام او پلان سکتورونو په جوړولو کې مرسته کوي. |
| په افغانستان کې د ټولنې په مرسته د لوړو زده کړو ملګرتيا (PACE-A) | PACE- A د افغانستان د دولت سره د ټولنې په مرسته په ښوونې او روزنې کې، په هغو سيمو کې، چې ښوونځي نه وي مرسته کوي. دا مهال PACE-A په څه د پاسه اتلس ۱۸ ولايتونو کې ۵۰۰۰۰ زده کوونکو سره مرستې کوي دوی د تېز لوستلو او حساب ازموينو له لارې د زده کوونکو سويې برابروي. |
| سواد اموزي او د ټولنې د تقويې پروګرام (LCEP-2) | LCEP-2 د ښوونې او روزنې وزارت سره د دغه وزارت د سواد اموزي په پروګرام کې مرسته کوي، تر څو چې د ځوانانو او بالغو خلکو سره دکار موندلو په اړه مرسته کوي. دغه پروګرام د افغانستان په ۴۴ ولسواليو کې د ۹۹۴ ټولنو کې ۳۹۱۶ مرکزونه جوړ کړي دي. |
| د انټر نټ له لارې د افغانستان د معياريووالی (AeQa) | AeQa په افغانستان کې د لوړو زده کړو له ۱۹ ادارو سره د ښه معيار د لاسته راوړلو لپاره کار کوي. دوی د انټرنټ په مرسته د زده کړو لپاره مرکزونه جوړوي. دوی د سيمې، اروپا او امريکا د نورو پوهنتونو سره د ډيجيټل کتابتونونو، د سافټ وير پلاټ فورمونو، د انګليسي ژبې، د شاګردانو د امادہ ګی، اداري، لوړو زده کړو، ليډرشپ او اداري په برخو کې د ظرفيتونو د لوړولو لپاره کار کوي. |
| د کابل نړيوال ښوونځی (ISK) | د ISK ښوونځي په افغانستان کې له اول تر دولسم پورې د امريکا په سټينډرډ زده کوونکي روزي. دغه پروګرام د امريکا د منځني ولايتونو د لېسو او ښوونځيو توامیت د پينځه کلونو لپاره تر لاسه کړی او همدارنګه د ښوونې او روزنې وزارت او د افغانستان کابينې د خصوصي ښوونځيو په توګه د ۲۰ کلونو پورې راجستر کړي دي. |
| د لوړو زده کړو پروژه (HEP) | د لوړو زده کړو پروژه د افغانستان د حکومت سره د لوړو زده کړو د معيار اوچتولو او په ځانګړې ډول د ښوونکو د تربيې په برخه کې مرسته کوي. دغه پروژه د ښوونکو سره د ښوونيزو مهارتونو په لوړولو کې د ښوونې او روزنې د اصولو، د اصول تدريس، د مضمون په اړه دمعلوماتو له لارې مرسته کوي. د دې کار يو کليدي اړخ د يو اکاډيميک کلتور رامنځته کول د لوړې سويې د تدريس او مسلکي فعاليتونه دي. دغه پروژه په ولايتي مرکزونو کې دښوونې او روزنې ۱۶ فاکولتې په بر کې نيسي. |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹|۲|۱۰.

- افغانستان د نړۍ دهغو څلورو هېوادونو څخه يو دی، چېرته چې د فلج ناروغي اوس هم موجوده ده.[340]
- د ۵ کلونو نه د کمو ماشومانو او ميندو مړينه اوس هم په نړۍ کې په افغانستان کې زياته ده.[341]
- له نيمايي زيات افغان کوچنيانو قدونه ددوی له عمرونو کم دي.[342]

**د روغتيا او تغذيي په برخه کې ستراتيژي:** د روغتيايي ځارني يوه پاليسي چې د عامي روغتيا وزارت لخوا بشپړي شوي ځينو باندې بنا شوي وي. د ستراتيژي موخه دا ده چې د وزارت وړتيا لوړه کړي چې د افغانستان د روغتيايي ځارني په سيستم کې يو لړ ستونزو ته ځواب ووايي.

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf, مخ 12؛

د دې لپاره چې د عامي روغتيا وزارت ته د باوري او مؤثرو خدمتونو د برابرولو موقع په لاس ورکړل شي USAID د روغتيا او تغذيي سکتور لپاره د ستراتيژي (HNSS) د جوړولو وړانديز کوي د HNSS له مخې به د عامي روغتيا وزارت قانوني اصول، چې په دغه وزارت کې واکمن دي وڅېړي. د عامي روغتيا وزارت به همدا رنګه د روغتيا په برخه کې د نويو تګلارو، ستراتيژيانو او پلانونو د وضع کولو لپاره تحقيقات وکړي.[343]

د ۲۰۰۹ کال په کلني راپور کې د عامي روغتيا وزارت اعلان وکړ، چې د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۳ پورې د ANDS د ستراتيژي له مخې يې د روغتيا اساسي اړتياوو ته لومړيتوب ورکړی دی. د عامي روغتيا وزارت په دغه ستراتيژي کې هر اړخيزه ستراتيژي او پلان جوړ کړی. په دغه ستراتيژي کې به د افغانستان دولت موجوده جوړښتونه او موډلې په کار واچوي تر څو لاندې ذکر شوې موخې لاس ته راوړل شي:[344]

- د تمرکز نه د ويستلو لپاره يو ميکانيزم او لاره معرفي کول
- د عمل کولو تمرکز د ملي ستراتيژي سره تړل
- د عملي کولو پلان او ارزيابۍ لپاره يوه اداري وسيله برابرول
- په داسي حال کې چې د ماليي وزارت له بودجي او ترمينالوژي ملاتړ وشي د بودجي ټولې منابع شاملول
- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د محاسبي کوډونه کارول (تر څو له اوسني مالی اداري سيستمونه سره په يوه ليکه شي)
- بالاخره په ملي کچه د روغتيا د اکاونټونو پيلول

د افغانانو په روغتيايي حالاتو کې پرمختګ د څو انديکاتورانو له لارې اندازه کيږي، چې ANDS وضع کړي دي. جدول ۳،۱۱ په دغه سکتور کې ځينو هغو انديکاتورونو ته اشاره کوي، چې ANDS وضع کړي همدارنګه په دغه جدول کې تر ۳۰ سپتمبر ۲۰۰۹ پورې د ځينو انديکاتورونو احصائيه هم ورکړل شوې ده.

**د ANDS د راپور سره سم، د HNSS عملي کول به د عامي روغتيا له وزارت سره مرسته وکړي چې ځينو مهمو روغتيايي مسالو ته ځواب ووايي:**

- د ډيرو مهمو پروګرامونو لپاره د پيسو نشتوالی
- د پيسو ترلاسه کولو لپاره په بهرنيو منابعو تکيه کول
- په نامناسب ډول روزل شوي روغتيايي کارکوونکي
- په کليوالو سيمو کې د لايقو ښځينه روغتيايي کارکوونکو نشتوالی
- ويشل شوي نفوس او جغرافيايي خنډونه
- د ځانګړو روغتيايي خدمتونو لپاره د تيټي کچې کار کول
- د خدمتونو د کيفيت بيلابيلې سطحي
- په ځينو ولاياتو کې خراب امنيت
- د مالي ساتني د يوه اغيزمن ميکانيزم نشتوالی

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf, مخ ۸۰-۷۹؛ 11–12.

## د زيږون پر مهال د ميندو او کوچنيانو مړينه

ANDS د ميندو او کوچنيانو مړينه د روغتيا په برخه کې د دوه انديکاتورونو په توګه ټاکلي دي. خو د دواړو په اړه معلومات ډېر محدود دي. د کوچنيانو د مړيني په اړه ارقام او اعداد تر ۲۰۰۶ کال او د ميندو مړينه له ۲۰۰۲ کال راپيدخوا نده اندازه شوې. د USAID د راپور له مخې د نړيوال معمول سره سم بايد د ميندو مړينه د هر ۸ نه تر ۱۰ کلونو پورې اندازه شي. د ۲۰۱۳ کال چې د ANDS ضرب الاجل دی نه درې کاله وروسته کيږي يوه سروې پلان شوې ده. USAID وايي د دوی پرمختګ د نورو انديکاتورونو لکه له زيږېدو وروسته د کوچني د روغتيا ساتنه، د ډاکټر په مرسته د کوچني زيږېدنه او د کوچنيانو نه راوړلو لپاره د وقفو اضافه کېدل.[345]

## ننګوني

د USAID دراپور له مخې د روغتيا سکتور د پرمختګ لپاره امنيت يوه ننګونه ده. نوري ننګوني د روغتيا د مسلکي کارکوونکو کمی او د روغتيا لپاره د بوديجي کمی شامل دي. ټولنيزو فکتورونو د افغانانو په روغتيا ناوړه اغېزه کړې ده. غربت، بېسوادي، خوراکي موادو ته نه لاس رسی د مردارو اوبو د ويستلو نه انتظام او اوبو ته نه لاس رسی ټول په روغتيا ناوړه اغېزه کوي.[346]

**د روغتيايي خدمتونو ابتدايي ډول:** د روغتيايي څارني يو معياري سطح كه بايد د ټولو افغانانو په اختيار كې وي

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20 National%20Development%20Strategy_eng.pdf, مخ ١١٢؛

جدول 3.11

**د روغتيايي خدمتونو د زياتولو لپاره ستراتيژيك اوليتونه**

| د ANDS موخې | حالت | د ANDS د بشپړيدو نيټه |
|---|---|---|
| لږ تر لږه ۹۰ په سلو کې افغانان به روغتيايي اسانتياوو ته لاس رسی ولري. | ۶۷په سلو کې د دوه ساعتونو په مزل او ۸۵ په سلو کې له څلور څخه تر شپږو ساعتونو مزل نه وروسته روغتيايي اسانتياوو ته لاس رسی لري. | مارچ 2010 |
| د زېږون پر مهال د ميندو مړينه به کمه شي. | سروې به په ۲۰۱۳ کې بشپړه شي. د نور بحث له پاره ليکنه وګورئ. | مارچ 2010 |
| له پينځه کلونو نه د کم عمر ټولو کوچنيانو ته به واکسين ورکړل شي. | ۹۵ په سلو کې کوچنيان د فلج، ۸۳ په سلو کې دشپږو نورو لويو ناروغيو پر خلاف واکسين شوي دي: شری، توبرکلوز، ملاريا، تيتانوس، ديفتری، او انفلونزا ب. | مارچ 2010 |
| دکوچنيانو مړينه به تر ۲۰ په سلو کې راکمه شي. | له ۲۰۰۶ نه وروسته احصائيه نشته. د نور بحث له پاره ليکنه وګورئ. | مارچ 2010 |
| د پرمختايي لپاره حداقل موخې: د زيزون په وخت د ماشومانو مړينه د ۲۰۰۳ کال يو په دريمې سطحې ته ټيټول. | له ۲۰۰۶ نه وروسته احصائيه نشته. د نور بحث له پاره ليکنه وګورئ. | 2020 |
| د پرمختايي لپاره حداقل موخې: په افغانستان کې د HIV او AIDS د خپريدولو مخنيوی. | نړيوال بانک او د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د HIV/AIDS د مخنيوي د پروژې په يوه ۱۰ ميليونه ډالره پروژه همکاري کوي (۲۰۰۷-۲۰۱۰)<br><br>د HIV/AIDS، توبرکلوز، او ملاريا لپاره نړيواله بوديجه،د دي مرضونو د مخنيوي، علاج، څارنې، او ملاتړ د فعاليتونو لپاره ۱۰،۰۸ ميليونه اضافي بوديجه ورکوي. | 2020 |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20 National%20Development%20Strategy_eng.pdf, مخ ١١٢-١١١؛ د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ٢٠٠٩\٢\١٠.

د دغه ننګونو د لمنځه وړلو لپاره USAID د ټولنې له مشرانو سره کار کوي تر څو په چارو کې د دوی ګډون يقيني کړي او د روغتيايي خدمتونو ساتنه وکړي. USAID همدارنګه د روغتيايي کارکوونکو شمېر اضافه کړی.[347]

## اوبه او د ګنده اوبو د لېږد سيستم

د اوبو لپاره د ANDS ستراتيژيك لر ليد د اوبو د منابعو په اداره او پرمختګ د (IWRM) سيستم له لارې ټينګار کوي.[348] ليکن IWRM سيستم د ټولنيز، سياسي او اقتصادي عناصرو يو سره تړلي ملاتړ ته اړتيا لري. د USAID د راپور له مخې، په دغو درې واړو ع+ناصرو موجود محدوديتونه دافغانستان وزارتونه او نړيوالې مرستندويه ادارې د ملي سيستم پر ځای په ځانګړو کارونو تر سره کولو تمرکز وکړ.[349] جدول 3.12 د اوبو د سکټور لپاره د ANDS اندازې لست کوي.

## ترانسپورټيشن

د ترانسپورت سکتور لپاره د ANDS انديکاتورونه د سړکونو په جوړولو، د هوايي ډګرونو په ودې او د اورګاډو د ليکو په جوړول په بر کې نيسي.[350] د ټاکلي وخت په دغه دوره کې د اور ګاډي او هوايي ډګرونو په اړه کوم راپور نه دی ورکړل شوی. جدول ۳.۱۳ د ANDS د انديکاتورنو په اړه ځينې تازه معلومات وړاندې کوي.

نړيوال بانك د افغانستان د سړکونو سيستم د نړۍ ديو تر ټولو خرابو سړکونو په قطار کې راوستی دی. حلقوي سرك د هېواد ښارونه يو بل سره تړلي وو، په جزوي توګه دجنګ له امله خراب شو، چې له امله يې افغانان بې سرکه پرېښودل.[351] کله چې دوباره جوړ شي ۶۰ په سلو کې افغانان به د سرك په ۵۰ کيلو مترۍ کې ژوند ولري.[352]

جدول 3.12

| د اوبو او ګنده اوبو د ويستلو لپاره ستراتيژيک اوليتونه | | |
|---|---|---|
| د ANDS موخې | حالت | د ANDS د بشپړيدو نيټه |
| د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به د اوبو د منابعو د اداري منسجم شوي سيستم جوړ او په کار واچوي. | په اوس وخت کې، د فعاليتونو تمرکز سيمه ييز دی. | رواني |
| تقريباً د کابل ۵۰ فيصد اوسيدونکي او ۳۰ فيصد نور افغانان به د نلونو اوبو او د ګنده اوبو د ايستلو اسانتياوو ته لاس رسي ولري. | ښاري نفوس: تر ۶۰ فيصد ډير پاکو اوبو ته لاس رسی لري؛ ۱۲ فيصد د ګنده اوبو د ايستلو مناسب اسانتياوي لري.<br><br>کليوال نفوس: ۳۰ فيصده خلک پاکو اوبو ته لاس رسی لري؛ ۱۰ فيصد خلک د ګنده اوبو د ايستلو اسانتياوي ته لاس رسی لري. | مارچ 2010 |
| لږ تر لږه د ۳۰ فيصده افغانانو د اوبو زيرمی به له لويو اوبو بندونو څخه لاس ته راشي. | د اوبو د پايپونو ته لاس رسي لا هم محدود دی. | مارچ 2010 |
| د پرمختايي لپاره حداقل موخې: ۵۰ فيصده افغانان به د څښاک اوبو ته لاسرسي لري. | پاکو اوبو د لاس رسی فيصدي پوره وګوری. | 2020 |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf، مخ ۸۵-۸۴؛ د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID خواب، ۲۰۰۹|۱۲|۱۰. USAID د کليو د بيا جوړولو او پراختيا وزارت او ANDS د ماخذ په توګه ورکوي.

جدول 3.13

| د ترانسپورتيشن سيستم د بيارغوني لپاره ستراتيژيک اوليتونه | | |
|---|---|---|
| د ANDS موخې | په ۳۰ سپتمبر ۲۰۰۹ باندې حالت | د ANDS د بشپړيدو نيټه |
| د حلقوي سړک پروژه به په بشپړه توګه فعاله وي، د افغانستان په څلورو خواوو کې به سړکونه او له ګاونډي هيوادونو سړکونو سره ونښلوي. | د دې سړکونو نيژدې نيمايي په بشپړه توګه ترميم شوي دي. | مارچ 2008 |
| د کابل نړيوال هوايي ډګر او د هرات هوايي ډګر به د ملکي هوانوردي له نړيوالو معيارونو سره سم بشپړ شوی وي. | نوی راپور نشته | مارچ 2010 |
| د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به د افغانستان د اورګاډي پروژه په لاره واچوي. | نوی راپور نشته | رواني |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20National%20Development%20Strategy_eng.pdf، مخ ۸۰-۷۹؛ د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID خواب، ۲۰۰۹|۱۲|۱۰.

**په وچه کې ايسارو مخ پر ودې هيوادونو په مينځ کې، افغانستان يو له هغو هيوادونو څخه دی چې د سمندر له غاړې ډير لرې پروت دی - تر ۲،۰۰۰ کليومتره زيات لوړه ژوره اراضي.**

سرچينه: نړيوال بانک، "د افغانستان د ترانسپورت سکتور،" http://web.worldbank.org، وکتل شو ۲۰۰۹|۹|۱۰.

USAID د حلقوي سړکونو په جوړولو کې له هر چا وړاندې دی، چې د دغه سړك د جوړولو موخه د نورو سړکونو نښلول دي. ANDS د سړك د بشپړېدو لپاره د ۲۰۰۸ کال د مارچ مياشت نېټه ټاکلې وه، ليکن د سړك ځيني برخې له بشپړېدو پاتې دي. په غرب کې د لامان-بالامرغاب (۴۳ کيلو متره) او ارماليك-لامان (۵۰ کيلو متره) صفر په سلو کې بشپړ شوي. په شمال کې د دوشي پلخمري (۵۰ کيلومتره) پروژه ۳ په سلو کې بشپړ شوی. په مقايسوي توګه د مزار شريف – هرات (۵۱۱ کيلومتره) سړك ۹۰ په سلو کې سرته رسېدلی.[353] انځور ۳،۴۸ د۳۰ سټمبر ۲۰۰۹ پورې د حلقوي سړك او د هغه د بشپړېدو د حالت وړاندوينه کوي.

د USAID د راپور په اساس، سړکونو ته د لاس رسي د زياتېدو له امله د کليوالو مارکيټونو حالت ته وده ورکړي. د بدخشان د لرې پرتې سيمي مارکيټ، د بهارک بازار په اړه، د خرڅوونکو شمير چې خپل توليدات خرڅوي، له ۳ نه ۳۰ ته لوړ شوی دی. د چارمغزو د صادراتو کچه (کابل او بهرنۍ نړۍ ته) د پروسس‌کال د۲۷۰ ټنو نه ۲،۰۰۰ ټنو ته پورته تللې.[354]

د USAID د راپور له مخې پخو سړکونو په سيمه کې د سفر کولو وخت را کم کړی او کروندګر يې د دې

انځور 3.48

د افغانستان د حلقوي سرک حالت




ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. شميرې اټکل دي. پاتي پروژې اوس مهال خنډول شوي دي؛ خکه نو د بشپړېدلو نېټې په اوس کې معلومې نه دي.

د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 2009\2\10.

جوګه کړي، چې خپل حاصلات له خرابېدو پرته مارکيټ ته ورسوي. پخوا کروندګر اړ وو چې مارکيټونو ته د خپلو حاصلاتو د رسولو لپاره ډېريورانو ته ډېرې روپۍ ورکړي، خو اوس دوی کولای شي په کمو روپو خپل حاصلات مارکيټ ته ورسوي.[355]

## مخابرات

د ANDS د مخابراتو په موخي ارزانه بيه د هر کلي او ولسوالۍ خلکو ته د مخابراتي خدماتو ورکول دي.[356] جدول 3.14 د مخابراتي خدماتو سره تړلي ځيني موخي دي.

تخميناً ۳۳په سلو کي (۱۰ميليونه) افغانان اساسي غږيزو خدماتو ته لاس رسی لرِي؛ ۱۰۰.۰۰۰ يي تاريزو تليفونونو او نور يي د ګرځنده تليفون سره تړلي دي. ليکن د مخابراتو وزارت وايي، چي هغه افغانان چي مخابراتي خدماتو ته لاس رسی لري له دغي سلني زيات او ۷۵په سلو کي دي. . دغه وزارت وايي، چي افغانان له دوستانو او کورنيو سره تليفونونه شريکوي او عامو تليفون خانو ته لاس رسی لري.[357]

تليفون ته لاس رسی له يو ولايت نه بل ولايت ته توپير کوي، د USAID دراپور له مخي. د ګرځنده تليفونونو شرکتونو د زيات نفوس په سيمو کي د مخابراتو انفراسټرکچر جوړه کړي ده. د افغانستان لوي ښاري مرکزونه لکه هرات، جلال اباد، مزارشريف، او د هېواد شمالي برخي زياتي تليفوني زېربناوې لري.[358]

د USAID د راپور له مخي کليوالو سيمو ته د مخابراتي پرمختګونو غزول يو لوی ګواښ دی. د افغانستان دولت په کليوالو سيمو کي د مخابراتو زيربنا ته د ودي ورکولو لپاره يو صندوق جوړ کړی دی. تر۳۰ سپټمبر ۲۰۰۹ پورې دغه صندوق ۲۵ميليونه ډالر راغونډ کړي، چي ۲،۵ ميليونه ډالر يي شلو ولسواليو ته ويشلي دي.[359]

USAID د افغانستان اقتصادي حکومتداري او خصوصي سکتور حمايه کوي، چي د ۲۰۰۳ نه تر سپټمبر ۲۰۰۹ پورې يي دغه پروګرام ته څه د پاسه ۱،۵مليارده ډالره ورکړي. دغه پروګرام څلور خصوصي کمپنيو ته په لايسنسونو ورکولو سره د مخابراتو ازاد سکتور په رامنځته کېدو کي مرسته وکړه.[360]

USAID د مخابراتو وزارت سره يو ميليون ډالره مرسته وکړه تر څو د ټولو وزارتونو او ولايتي حکومتونو لپاره په سيمييزو ژبو ويبپاڼي جوړي کړي، چي خلکو ته د دولتي منابعو په اړه کره معلومات ورکړي.[361] زياتره ويبپاڼي انګليسي ژبه هم لري.[362]

USAID د ملي سټلايټ سيسټم چي د مخابراتو وزارت يي چلوي لپاره هم پيسي ورکړي. دغه سيسټم د افغانستان ولسمشر له ۳۴ ولايتونو له واليانو سره نښلوي. د USAID د راپور له مخي دوی اونيز ويډيويي کانفرانس لري، چي له دغه امله په حکومتي مشينرۍ کي ډېر سياسي تړاو رامنځته شوی دی.[363]

## صنعت

د امريکا متحده ايالاتو په افغانستان کي د صنعت د ودي د بېلابېلو پروګرامونو له لارې تقويه کړه. د بېلګي په ډول د افغانستان د وړو او متوسطو سوداګريو د پرمختګ پروژې په افغانستان کي وړو سوداګرو ته دورکړې لپاره ۴۰ ميليونه ډالره لاسته راوړي.[364] په دغه برخه کي دافغانستان ځيني لوی صنعتونه تشريح شوي دي.

**د پېژندني د اداري ملي ابتکار:**
**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت قوانين د دي غوښتنه کوي چي د مخابراتو ګډون کوونکي د خپلو خانونو په اړه تفصيلي معلومات ورکړي تر څو خدمات په لاس راوړي. په دي خاطر چي ۱۰ ميليونه ګډون کوونکي دي (د ۳۰ سپټمبر ۲۰۰۹ پورې)، د معلوماتو يوه ډېره ستره ذخيره لا دمخه راټول شوي دي. د USAID راپور سره سم، دا معلومات کيدای شي د پېژندني د اداري ملي ابتکار لپاره ډېر ګټور وي، څکه هغوی غواړي چي د افغانستان د نفوسو احصايي بشپړې کړي.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۰.

جدول 3.14

| د مخابراتو د سکټور د ودي لپاره ستراتيژيک اولويتونه | | |
|---|---|---|
| **د ANDS موخي** | **حالت** | **د ANDS د بشپړيدو نېټه** |
| مخابراتي خدمتونو ته د لاس رسي غزول چي لږ تر لږه ۸۰ په سلو کي افغانانو ته ورسيږي | ۳۳په سلو کي افغانان دغږيزو خدماتو سره ثبت دي او ۷۵په سلو کي مخابراتي خدماتو ته لاس رسی لري. | 2010 |
| سټلايټ خدمتونه (ګرځنده الي) ۳۰۰۰زره کلو ته رسول | ۳۰۰۰ ټولني ګرځنده ټاوري کاروي | 2010 |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي،" www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/Afghanistan%20 National%20Development%20Strategy_eng.pdf، مخ ۸۰-۷۹؛ د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۰.

## زراعت



**د شاتو د مچيو يو افغان ساتونکی** په پنجشير کې د خپلو مچيو د کندو پالنه کوي. د دي کس لومړنۍ دوه ځمکې هغه ته د شاتو د مچيو د پروګرام په جريان کې ورکړ شوي وه، کوم چې د پنجشير ولايت د زراعت رياست لخوا ملاتړ کيږي. (د متحده اياﻻتو د هوايي ځواک انځور، بريدمن ميشل ب کيلير)

د افغانستان د زراعت، اوبه خور او مالدارۍ وزارت (MAIL) د زراعت لپاره يوه نوې تګلاره، چې د زراعت د پرمختګ ملي چوکاټ (NADF) بلل کيږي، جوړه کړې ده. دغه چوکاټ په ANDS کې د بيان شوي د زراعت او د کليوال پرمختګ د ساحو (ARDZ) پر اساس منځته راغلي دي. د USAID د راپور له مخې د زراعت د پرمختګ ملي چوکاټ د ANDS د زراعت او د کليوال پرمختګ د ساحو له پروګرام زيات پرمختللی دی او له دغه امله له دواړو يې ډېر پرمختګ کړی دی. نړيوال بسپنه ورکوونکي د زراعت او کليوال پرمختګ د ساحو پروګرام ته نوره بسپنه نه ورکوي.[365]

د زراعت، اوبه خور او مالدارۍ وزارت په لاندې څلورو پروګرامونو تمرکز کوي:[366]

- دطبعي زېرمو اداره
- زراعتی محصوﻻت او توليد
- اقتصادي بيا توليد
- د پروګرام حمايه او اداري تغيير

نو زراعتي محصوﻻت چې کورنۍ يې دځان لپاره زېرمه کوي نسبتاً هغه څه ته چې دوی يې پلوري دوﻻيتونو، ولسواليو، محصوﻻتو او کليو په توپير سره له يو بل نه توپير کوي. د بېلګې په ډول په ننګرهار کې په ۹۸ په سلو کې په ځمکه غنم کرل کيږي له ۱۰ نه تر ۲۰ په سلو کې به سبزيجات او ۵ په سلو کې پياز کرل کيږي (ځکه دغه نغدي فصل ګڼل کيږي). د دې په پرتله په بلخ کې ۷۰ په سلو کې غنم، د کورني استعمال لپاره ساتل کيږي، ځکه ځمکې نسبتاً پراخه دي.[367]

### د زراعت له ودې نه د امريکا د متحده اياﻻتو ملاتړ

د امريکا متحده اياﻻتو په کليوالو سيمو کې د هېواد په کچه د زراعت او سوداګرۍ له پراخېدو څخه ملاتړ کوي. USAID افغانستان کې د زراعتي سوداګرۍ د ملاتړ لپاره ۴۰۲،۸ ميليونه ډالره مرسته کړې ده.[368] جدول ۳،۱۵ په موجوده وخت کې په دغه سکتور کې د USAID ځينې هڅې تشرېح کوي.

### د زراعت د ودې پر وړاندې ننګونې

USAID د راپور له مخې له ۷۵نه تر ۸۵ په سلو کې (۲۷ نه تر ۳۵ميليونه افغانان) د زراعت په سکتور کې په کار اخته دي.[369] له دغه جملې ۴،۸ ميليونه يې اوسمهال بې روزګاره دي. USAID د راپور له مخې په زراعتی سکتور کې د خلکو بې روزګاري لاندې پايلې درلودلی شي:[370]

- بې روزګار او ګوښه ځوانان د تروريستانو لپاره د استخدام ښه زمينه ده.
- لږ عايد د غريبۍ دوران ته تيزي ورکوي.
- د لږ عايد له امله ډېر خلك ښارونو ته کډه کوي.
- په ښوونځيو کې د کوچنيانو کم شاملېدل، د دې سبب ګرځي، چې خلك خپل کوچنيان په راډيکاله تعليمي ادارو کې شامل کړي.

USAID وايي، چې له ډېرو ګواښونو ډك افغان چاپيريال او د هغې په پايله کې رامنځته شوې بې ثباتي د زراعتي پروګرامونو د تطبيق په ﻻر کې خنډونه راپيدا کوي. نتيجتاً USAID خپل پروګرامونه پر امنه سيمو کې تطبيقوي او د شخصي امنيتي شرکتونو کارونه يې ډېره کړې او د خطرې له لمنځه وړلو لپاره يې په خپلو پروګرامونو د سره غور کول پيل کړي دي.[371]

## د خصوصي سکتور وده

افغانستان د نړيوال بانك د ۲۰۱۰کال لپاره د سروې کوونکو ۱۸۱ هېوادونو کې ۱۶۰ نمبر راغی.[372] دسمندر پورې خصوصي پانګې اچونې شرکت (OPIC) په راپور کې راغلي، چې په افغانستان کې خصوصي پانګه اچونه مخ په زياتېدو ده، ليکن دومره تېز هم نه چې وړاندوينه يې شوې وه. زياتېدونکې نا امني، اداري فساد او د کليدي تجارتي قوانينو په پاس کېدو کې ځنډ دتېز پرمختګ د ډب کېدو لامل دي.[373]

د ماليې وزارت د راپور له مخې د خصوصي سکتور د ودې او پرمختګ په لار کې تر ټولو لويه ننګونه د قانونمندۍ نه عملي کېدل او دخپلې فايدې دولتي قوانين دي.[374] USAID ځينې نورې ننګونې هم يادي کړي: د غير يقيني بربېښنا موجوديت، د ځمکې د ګرو يا اجاره کول، قرضې اخيستل او اداري فساد د نورو فکتورونو په توګه په ګوته کړي دي.[375] د OPIC د خصوصي امنيتي شرکتونو لګښت غير يقيني فزيکي انفراسټرکچر ( لکه برېښنا) او خدماتي زېربنا ( د اساسي بانکي سيستم په شمول) فکتورونو ته اشاره کړې ده.[376]

جدول 3.15

**د USAID د زراعت رواني پروژې**

| پروژه | تشريح |
| --- | --- |
| غور ولايت کې دکليوال Watershed بيا رغاونه | د دې پروژې موخه په غور ولايت کې د۷ واټر شيډونو رغول دي. پروژه په نظر کې لري، چې د سيمييزو طبيعي زېرمو د ادارې له لارې د ټولنې په مټ د واټر شيډونو بيا رغاونه تېزه کړي. د ښځو ګروپونه د ښځو برخه اخيستنه تېزه کړې ده. |
| د افغانستان د زراعت د اتحاد پرمختلل | اتحاد د زراعت دپوهاوي سيستم د رامنځته کولو لپاره کار کوي، چې له دغه لارې د زراعت د پوهې تحقيق او توسيعې ته وده ورکړل شي. دغه پروژه په افغانستان کې د زراعت او وترنرۍ د فاکولتو او د کرهنې او مالدارۍ وزارت د وړتيا په پورته وړلو تمرکز کوي. |
| دافغانستان د اوبو، زراعت او ټکنالوژي بدلېدل | دغه بدلون د پايدارې او په طبيعي زېرمو ولاړ تکنالوژۍ کوم چې د اوبو ادارې ته وده ورکوي او زراعتی محصولات زياتوي، په نښه کوي. دغه پروګرام په نظر کې لري، چې د اوبو او ځمکې د کارونې تګلاره او چوکاټ جوړ کړي، ترڅو په ملکي، ولايتي او ملکي حکومتونو کې افراد د زراعت په سکتور او طبيعي زېرمو کې تل پاتې اقتصادي ودې ته وهڅوي. بالاخره دغه پروګرام په نظر کې لري چې د افغانستان د وزارتونو مامورين او پوهنتونونو سره د ملګرتيا له لارې په معلوماتو ولاړې فيصلو او خلکو ته د رسېدو د پروژو له لارې د افغانستان اقتصاد ته ګټه ورسوي. |
| د افغانستان د کرنې د سوداګرۍ د ودې اتحاد | د دغه درې کلن پروګرام موخه په کليوالو او نيمه ښارې سيمو کې له کورنيو سره په مارکيټ ولاړ زراعتی پرمختګ له لارې په خپلو پښو ولاړ عوايدو پراخوالی او وده شامله ده. دغه پروګرام د غور، هرات او باميانو ولايتونو کې وړو کروندګرو ته د توسعې مواد او زراعتي خدمتونه مهيا کوي. د دې پروګرام موخې په غزنې او مرکزي افغانستان کې د زراعتي سيمو او د زراعتی سيمو ليرې دغريب، کروندګرو د عوايدو زياتول دي او په مارکيټ ولاړې کرنې کې دهغوی دوړتياوو لوړول دي. |
| په هڅونه ولاړ اقتصادي متبادل: شمال، شرق او غرب | دغه پروګرام د پينځه کلونو مارچ ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۴ پورې د DAI او ACDI-VOCA او Mercy corps سره لاسليك شوی تعاوني قرارداد دی، چې د پرمختيا متبادل پروګرام دی، چې د شمال، شرق او د غرب په هغو سيمو کې چې ADP-E او ADP-N (لغمان، ننګرهار، کونړ، بدخشان، نورستان، بلخ، تخار او بادغيس ولايتونو کې عملي کيږي) شامل دي. |
| د افغانستان د زراعتي خدمتونو اتحاد | دا اتحاد د شپږو کرنيزو مرکزونو (FSCS) يو اتحاد دی، چې په شپږو د نظر لاندې ولايتونو –غزني، هلمند، کندهار، لغمان، کونړ او زابل کې- ترې تر ۲۰۰۰۰ زرو پورې افغان کروندګر فايده اخلي دغه مرکزونه د فايدې لپاره دي، چې د خلکو ملکيت به وي، د ټرېننګ، ان پټ او اوټ پټ، اپوټ او د مارکيټ سره تړاو لري افغان کروندګر يو کامياب اقتصادي زراعت ته اړتيا لري. |
| د پرخپلو پښو ولاړ زراعت ګړندی کول (ASAP) | د دې پروګرام موخه د يو متحرك او مختلف تجارتي زراعتي سکتور رامنځته کول دي، چې په کليوالو سيمو کې افغانانو ته دروزګار برابرول دي. ASAP د پيرودونکو کروندګرو تر منځ تړاو رامنځته کوي دغه پروژه به په فعال ډول اقتصادي فعاليتونه په نښه کړي او سرمايه ګزارې به په کې وکړي، ترڅو هغه خنډونه، چې دسيمييزو محصولاتو د ودې مخه نيسي له منځه يو سي. |
| د زياتو زراعتي محصولاتو لپاره د افغانستان د مدرك پلس پروګرام (AVIPA) | AVIPA پلس د غنمو د تخم voucher پروګرام دی، دغه پروګرام بۀ په کندهار او هلمند ولايتونو کې په زراعتي چوکاټ کې دوسله وال جنګ پر خلاف د ټيکاو لپاره هڅې وکړي. AVIPA به په مخامخ ډول ۵۰۰ افغانانو ته روزګار ورکړي او د زراعت وزارت سره به د دغه وزارت ولايتي او ولسواليو په کچه د چارواکو سره اړيکې ټينګې کړي او د افغانستان د تجارتي ويش شبکې به په کار واچوي. |
| د ودې لپاره متبادل پروګرام- جنوب غرب | د دې پروګرام موخه د فراه، ارزګان، نيمروز او هلمند ولايتونو د افينو په کرنه، پروسس کولو او تجارت انحصار کموي. USAID به دټولنو سره د عوايدو د زياتولو او د قانوني اقتصاد له لارې د دوامداره کارونو په پيدا کولو کې مرسته وکړي او همدارنګه به ټولنيزې او اقتصادي زېربناوې، چې دغه مواقع پرې انحصار لري تقويه کړي. هغه نتايج چې له دغه پروګرام تمه کيږي، دبې ځمکو کروندګرو، غريبو کارګرانو، کونډو او هغه خلك، چې دافينو د توليد، پروسس کولو او تجارت کولو د ګواښ لاندې وي، ترڅو چې سيمييز تجارت ته وده ورکړي د مخ پر ودې سيمييزو شرکتونو لپاره کار وکړي او د يو لړ بازار موندنې، پروسس او تجارتي پرمختګونو له لارې عوايد زيات کړي. |

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۲\۱۰؛ د سيګار د ارزونې پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۱۵\۱۰.

په افغانستان کې د قوانينو کمزورى ته په ځواب کې د څو اړخيزه سرمايه ګزارى د تضمين اداري (MIGA) د افغانستان د پانګې اچوني اسانتيا (AIGF) رامنځته کړې ده. د AIGF له لارې MIGA ديو تضمين کوونکي اداري په توګه، چې پيسو د انتقال، استمراك، جنګ، کورنى جګړې او د قرارداد د خلاف ورزى په پايله کې رامنځته شوي خسارو تر ۹۰ په سلو کې خسارى پرى کوي په توګه کاروي.[377]

USAID راپور ورکړى چې د دوى پروګرامونه ډېرو ننګونو، چې خصوصي پانګه اچونه ورسره لاس او ګرېوان ده ته د حل لاره پيدا کوي. د USAID د اقتصادي ودې دفتر (OEG) په دې برخه کې د خصوصي سکتور دپرمختګ لپاره په درې برخو کې کار کوي.[378]

- **اقتصادي تګلاره او تجارت:** د اقتصادي قوانينو سمونونو، د اسعارو تګلاره او بانکي څارنه، د تجارت تګلاره او اسانتياوې او د ګمرکونو د عصري کولو لپاره کار کوي.
- **د مالي سکتور پرمختګ:** د وړو قرضو اداري، تجارتي بانکونه، د قرضو کوپراتيفونه او د غير بآنکي د پيسو اداري تقويه کول
- **تجارتي رقابت کول:** واړه او متوسط تجارتونه تقويه کول، دولتي تجارتي شرکتونه تقويه کوي، دځمکې په اجاره نيول او يا ګرو کولو ته وده ورکوي او له صنعتي پارکونو ملاتړ کوي

OPIC راپور ورکړى، چې دوى د امريکايي پانګوالواو د هغوى له ملګرو سره د بيمې د محصولاتو د اخيستلو لپاره د روپو ورکولو لپاره په ګډه کار کوي، چې دوى پانګه اچونه ممکنوي، چې له دغه کار پرته بيا امکان نه لري.[379]

OPIC د افغانستان د بيمي سره د مرستي کولو د خپل ځانيدلي پروګرام خبره کوي او په افغانستان کې د يواځينى خصوصي تجارتي بيمي د شرکت سره مرسته د حقوقي سکتور د پرمختګ لويه نښه ګڼي. د بيمې او بانکي محصولاتو وده تجارتي خدمتونه زياتوي، چې له دغه امله کار موندنه زياتيږي او په ټوليزه توګه دهېواد اقتصاد ته وده ورکوي.[380]

د شخصي سکتور د پرمختګ اضافي ملاتړ د ملګرو ملتونو د پرمختيايى پروګرام (UNDP) لخوا د هغوى د تجارت او شخصي سکتور د پرمختګ پروګرام له لاري تامين کيږي، کوم چې د اقتصادي ودې، د کار د فرصتونو جوړول، او غريبي د کمولو له پاره کار کوي. نړيوال بانک د شخصي سکتور د پرمختګ د ملاتړ پروژې له لاري له هغې ملاتړ کوي، کوم چې د بريښنا د ظرفيت لوړولو، د ځمکې خدمات، اوبه، او مخابراتو باندې تمرکز کوي تر څو د ښه تجارتي پانګې اچونې چاپيريال ته پاملرنه وکړي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د خزاني ځواب، ۲۰۰۹|۱۳۰۱۹.

## دمخدره موادو پرضد مبارزه

ANDS د خدره موادو پرضد مبارزه يوه کثير الوجهي ستونزه ګڼي، ځکه که په افغانستان کې د مخدره موادو موضوع حل نه شي د ANDS ټولنيزه کاميابي به له خطر سره مخامخ شي.[381] کثيرالوجهي ستونزي د ANDS له يو نه زيات ستونونه متاثر کوي. د ANDS دراپور له مخې دمخدره موادو پر ضد مبارزه دګلورو موخو دلاسته راوړلو لپاره جوړه شوي ده:[382]

- دمخدره موادو په تجارت کې خلل رامنځته کول
- د عوايدو کليوالو قانوني لارو چارو ته وده ورکول
- د ناقانونه مخدره موادو غوښتنه کمول ( او په مخدره موادو د اخته خلکو درملنه کول)
- د مرکزي او ولايتي حکومتونو په کچه د مخدره موادو د مبارزې تقويه کول

له دې امله چې ANDS له مخدره موادو سره مبارزه د يوې څو اړخيزې مسلې په توګه پيژني، دا راپور له مخدره موادو سره د مبارزې هڅې له يوه نه زياتو ځايونو کې ذکر کوي. د کوکنارو له مينځه وړلو، د مخدره موادو ضبط کولو، او اړوند امنيتي مسالو په اړه د تفصيلاتو لپاره مهرباني وکړي او د امنيت برخه وګورئ.




د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ له ستون سره سم متبادل پرمختګ او عامه معلومات د مخدره موادو پر خلاف دوه لومړني پروګرامونه دي.

د USAID او د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرمونو داداري (UNODC) د راپورنو له مخې د مخدره موادو سره ترلي فعاليتونه کميږي. د افينو کرل په ۲۰۰۹ کال کې ۲۲ په سلو کې او حاصل يې ۱۰ په سلو کې کم شوى. نرخونه يې په لسو کلونو کې له ټولو نه کمې کچې ته راښکته شوي.[383]

**له کوکنارو پاك ولايتونه :** ولايتونه هغه وخت "له کوکنارو پاک" اعلان کيږي چي د ولايت د ځمکي تر ۱۰۰ هکتاره لږ ځمکه د افيونو د توليد لپاره کارول شوي وي.

سرچينه: UNODC، "د افغانستان د افيونو سروي: 2008،" 8/2008، مخ 4.

له دې سره سره د ملګرو ملتونو احصاييي د مخدره موادو په کارکوونکو کي له امدن او د صادراتو له کميو هم خبر ورکوي. له مخدره موادو ډپاکو ولايتونو شمېر او د مخدره موادو د نيولو پېښې هم مخ په زياتېدو دي، ليکن UNODE وايي، چي مخدره مواد اوس هم دافغانستان د پرمختګ د هڅو په لار کي يوه ننګونه ده.[384] د دوی د اندازې سره سم ۱۲۳.۰۰۰هکتاره ځمکه اوس هم د افينو د کر کيلي لپاره کارول کيږي.[385]

د مخدره موادو تجارت په دولت کي اداري فساد ته لاره هواروي د کوم له امله چي خلك په حکومت باور له لاسه ورکوي. هغه روپۍ چي د مخدره موادو لاسته راځي د افغانستان بانکونه کمزوري کړي.[386]

د دغو ستونزو برسېره د مخدره موادو کاروبار د نشه يانو شمېر زياتوي، چي د دوی اکثريت يا خو مهاجرين او يا هم ډېر غريبانان دي. د مخدره موادو د کاروني له امله AIDS, HIV او په زياته اندازه د دغو موادو کارونه رامنځته کيږي.[387]

## متبادل پرمختګ

د USAID د راپور له مخي داسي شواهد موجود دي، چي د متبادل پرمختګ پروګرامونو د افينو دپيداوار په کمي کي رول لوبولی دی. USAID د امريکا د متحده ايالاتو لپاره د متبادل پرمختګ پروګرام اداره کوي. د۳۰ سپتامبر ۲۰۰۹ کال پوري دغه ډول دوه پروګرامونه يو يې د ټول شمالي، شرقي او غربي ولايتونو او بل يې د جنوب غرب ولايتونو لپاره دی. د متبادل پرمختګ ټول پروګرامونه د قانوني کار موندني مواقع زياتوي او په سيمه کي د توليداتو قانوني خرڅلاو ته لاره هواروي. ليکن USAID د راپور د اقتصادي او جغرافيايي حالاتو په نظر کي نيولو سره د هري سيمي لپاره تياريانې شوي دي.[388] ۳،۱۶ جدول د USAID د متبادل پرمختګ روانو پروګرامونو شرحه وړاندي کوي.

## عامه معلومات

د امريکا متحده ايالاتو له ۲۰۰۶ کال راپېخوا د مخدره موادو پرضد د مبارزې د پروګرامونو ملاتړ کوي.انځور ۳.۴۹ د وخت په تېرېدو د دغو پروګرامونو پرمختګ ښيي. د مخدره موادو او د قانون د تطبيق نړيوالي څانګي د راپور له مخي د مخدره موادو پر خلاف په مبارزې باندې د عامه معلوماتو د تاثير اندازه کول ستونزمن کار دی، ځکه چي څوك نه پوهيږي، چي د دغو هڅو د خپلولو له امله څومره کوکنار نه دي کرل شوي. ليکن د UNODC احصاييي ښيي، چي ۵۵ په سلو کي کروندګرو د افينو د نه کرلو لامل د INL د مالي حمايي د عامه معلوماتو پېغام ښودلي:[389]

جدول 3.16

| دمتبادل پرمختګ فعاليتونه | |
|---|---|
| **فعاليت** | **تشريح** |
| د انفراستړکچر د پرمختګ پروګرامونه | د ابياری او د ضاحکشی د سيستم او د ولسواليو د سرکونو جوړونه |
| د پيسو لپاره د کار پروګرام | هغه کار چي د لوري بي روزګاری ستونزه هواروي |
| کروندګرو ته د ټيکنالوژي ټرېننګ او رسول | کروندګرو ته د پرمختللي ټکنالوجي ته د لاس رسي او اداري ټرېننګ ورکول کيږي |
| د زيات قيمت لرونکو فصلونو حمايه | کروندګر د سبزيو، ميوو، وچو ميوو، ونو، غنمو او نورو فصلونو کرلو ته هڅول |
| د تخمونو ويشل | کروندګرو ته د ښو تخمونو او کيمياوي سري برابرول |
| د ميوو او د ځنګلونو د ونو ويشل | کروندګرو ته د ځنګلونو، د ميوو د ونو د کرلو او د باغونو د خدماتو ورکول |
| د څارويو د روغتيا او وترنري خدمات | د څانګرو پروګرامونو له لاري د څناورو روغتيا ته پام کول او روغ څاروي ساتل |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۰.

انځور 3.49

اندي د مبارزي په اړه د عامه معلوماتو فعاليتونه، 2006-2010




2006:
قراردادیان د مخدره موادو په وړاندې د مبارزي په اړه د عامه معلوماتو فعاليتونه سرته رسوي. (د چاپ شويو مواد خپرول، راډيويي خپروني).
د کوکنارو د محو کولو پروګرام (PEP) ټيمونو د ولايتونو واليانو ته مشورې ورکول پيل کړل.

2007:
د کولمبو پلان د مخدره موادو په وړاندې د مبارزي د پيغام رسولو د روزنې لپاره سيمه ييزو مشرانو د پيسو ورکول تصويب کړل. د PEP ټيمونه د مخدره موادو په وړاندې د مبارزي په مشاورتي ټيمونو (CNAT) بدل شول، د عامه معلوماتو لپاره نور مسؤوليت ورکړ شو.

2008:
CNAT او د کولمبو پلان په ولايتو کې تر کرلو مخکې يو جامع کمپاين په لاره واچاوه چې کروندګر وهڅوي چې کوکنار و نه کري.
د عامه معلوماتو نورې هڅې: د راډيو، تلويزيون، او ګرځنده تياتر پروګرامونه د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې له پيغامونو سره.

2009:
د CNAT او کولمبو پلان کار دوام لري. CNAT خپل فعاليتونه په سيمه او اوو ولايتونو کې پرمخ بيايي.

2010:
د کولمبو پلان، CNAT، او نور د عامه معلوماتو کارونو ته ادامه ورکوي او په نظر کې لري چې د راډيو، تلويزيون او نوي رسنيو پيغامونه (تر ډيره حده د ليکني لنډو پيغامونو له لاري) خپل کارونه پراخ کړي.

ښکار د معلوماتو پوښتنې ته د INL ځواب، 2009\5\10.

- په افينو لګول شوي حکومتي بنديز ته درناوی (۳۳په سلو کې ځواب ورکوونکي)
- د افينو په کر د اسلام له نظره بنديز (۱۶په سلو کې ځواب ورکوونکي)
- شورى يا د مشرانو د پريکړي کولو فيصلي
- ټولني ته په افينو د اخته خلکو خطر

له اول جولای تر ۳۰ سپتامبر ۲۰۰۹ کال پورې د عامه معلوماتو کمپاين د افغانستان د ۲۵ ولايتونو لپاره پلان او منظور شو. دا د کوکنارو د کرلو لپاره د عامه ملاتړ په کمولو متمرکزې وي.[390]

د پيغامونو د اضافه کولو پروګرام، د عامه معلوماتو يو بل ابتکار اوس هم جريان لري. دا د افغان ټولني مشرانو ته د مخدره موادو پرضد پيغامونه او نورو ته د دغه پيغامونو د رسولو لپاره ټرېننګ ورکوي.[391]

## له کوکنارو پاك ولايتونه

د UNODC يو راپور وايي، چې د افغنستان له ۳۴ ولايتونو ۲۰ ولايتونه له کوکنارو پاك دي. درې نور ولايتونه (هرات، بدخشان او نيمروز) د کر په راتلونکي موسم کې بهٔ له کوکنارو پاك شي.[392]

له کوکنارو پاك او يا د کم مقدار کوکنارو درلودونکي ولايتونو کې اوس هم د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې پروګرامونه عملي کيږي. INL وايي، چې په دغو ولايتونو کې د عامو معلوماتو له لارې د کم مقدار کوکنارو د کرلو کنټرول ته وده ورکول د مخدره موادو د تجارت په خلاف د خلکو نظريات اصلاح کيږي. د کوکنارو د تجارت پر خلاف مشاورتي ګروپ، چې INL يې ملاتړ کوي د مخدره موادو له وزارت سره په ګډه کار کوي چې ولايتي ابتکارونه قوي کړي.[393]

د مخدره موادو لپاره غوښتنه کمول هم په دغو ولايتونو کې دوام لري. د مخدره موادو غوښتنه کمول له کوکنارو په پاکو ولايتونو کې هم دوام لري، افيون اوس هم يوه ملي ستونزه ده.[394]

## د افغانستان ښځې

د ملګرو ملتونو د ښځو د پرمختګ صندوق (UNIFEM) وايي، چې افغانستان د ښځو لپاره د نړۍ د تر ټولو خطرناکو ځايونو يو دی. افغان ښځې، جايداد، زده کړې او معلوماتو ته کم لاس رسی لري په ځانګړي ډول په وروسته پاتې ولايتونو کې.[395] ځيني ابتدايي احصاييې:

- ۸۷ په سلو کې واده شوې د فاميلي تاوتريخوالي سره لاس او ګريوان دي.[396]
- يوازې ۱۸ په سلو کې هغه ښځې چې له ۱۵کلونو زيات عمر لري لوستې دي، چې ددغه عمر سړي ۵۰ په سلو کې لوستي دي.[397]
- يوازې ۱۰ په سلو کې کليوالي ښځې لوستې دي، چې د دوی شمېره د لوستو سړو نه چې ۷ په سلو کې ده زياته ده: (7%).[398]
- تخميناً ۱۳په سلو کې افغاني ښځې کوندې دي، چې ۹۶ په سلو کې کونډې نالوستې دي.[399]

## د قانون په وړاندې برابري

د افغانستان د اساسي قانون له مخې د يو ګروپ پرخلاف تبعيض او يا يو ګروپ ته د بل په پرتله زيات امتياز ورکول غير قانوني کار دی. د اساسي قانون ۲۲مه ماده وايي، چې "سړي او ښځې دقانون په وړاندې يو شان دي." په داسې حال کې هغه څه چې په تيوري کې دي همېشه په عمل کې نه پياده کيږي.[400]

### د شيعو د شخصي احوال قانون

د شيعه وو د شخصي احوال قانون (۲۰۰۹) د افغانستان د شيعه و ښځو د ژوند کولو يوه ښه بېلګه ده. شيعه د افغانستان ۱۵ په سلو کې نفوس جوړوي.[401] د USAID د يو راپور له مخې د دغه قانون له مخې ښځې اړ دي، چې د کار کولو لپاره د خپلو مېړونو اجازه واخلي او جنسي جنايتکاران که متاثره شوې ښځې ته خون بها ورکړي له سزا ليرې ګڼل کيږي.[402]

د شيعه د شخصي احوالو قانون د واده، طلاق، د ښځې د مرګ په صورت کې د بل واده ميراث، د ګرځېدو راګرځېدو د حق، د واده په صورت کې د جنسي اړيکو او ديواليه کېدلو په اړه قانوني تګلاره وړاندې کوي. USAID د راپور له مخې نوی قانون د اساسي قانون سره مخامخ په ټکر کې دی او په ځانګړي توګه د اساسي قانون له ۲۲مې مادې سره. د قانون لومړنی مسوده افغان ولسمشر په مارچ ۲۰۰۹ کې لاسليک کړه، د USAID د راپور وايي، اګر چې قانون له سره ارزيابي شوی، خو په ښځو موجود بنديزونه لا پرځای پاتې دي.[403]




### د افغانستان د ښځو لپاره په ملي کچه کاري پلان

د افغانستان د کابينې له خوا په اپريل ۲۰۰۹ کې تصويب شوی دغه پلان د افغانستان د دولت لپاره د ښځو په اړوند ۱۰کلن د پاليسي چوکاټ دی. داسې تمه کيږي، چې دغه پلان د ښځو د تابعيت د حقوقو د خوندي کولو لپاره د افغانستان د دولت ملاتړ کوي.[404]

دغه پلان د ښځو چارو وزارت، چې د ښځو د دفاع او حقوقو تر ټولو لويه اداره ده له لارې د افغانستان د ټولو وزارتونو له لارې عملي کيږي.[405] د حکومت د وزارتونو سره په ګډه د افغانستان د ښځو چارو وزارت د دې لپاره کار کوي، چې د حکومت تګلاره، بوديجې او خدماتو کې دې په دواړو سړو او ښځو تاثيرونه په نظر کې ونيول شي. د ښځو چارو وزارت د نورو وزارتونو او نړيوالو سازمانونو سره لوظنامې لاسليک کوي تر څو چې د سړو او ښځو لپاره يو شان حقونه تضمين کړي.[406] جدول ۳،۱۷ د ځينو هغو لوظنامو چې د ښځو چارو وزارت په ۲۰۰۹ کې لاسليک کړی، تفصيل وړاندې کوي.

جدول 3.17

| د NAPWA قرارداد، ۲۰۰۹ | |
|---|---|
| **د ښځو چارو د وزارت ملګري موخه** | |
| د افغانستان د ملکي خدمتونو کميسيون | په دولت او سياسي مقامونو کې د ښځو برخه اخيستل هڅوي |
| د حج او اوقافو وزارت | د ښځو د برابر حقوقو پوهاوي په ټول هيواد کې خپور کړي او د عامه خلکو لپاره کمپاينونه په لار واچوي. |
| UNIFEM او د افغاني ښځو شبکه | د NAPWA په تطبيق کولو سره د مدني ټولنې اداري پياوړي کول |
| د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت | په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د نجونو او بالغانو ښځو د شمول کچه اوچته کړي |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۰.



**د کابل په یوه کور کې** یوه ښځه غالۍ او له مریو ډک سرمیزي جوړوي چې په مارکیټ یې خرڅ کړي. (د سیګار انځور)

## د سیمو په لحاظ ازادیانې

د ښځو لپاره مواقع د سیمو په لحاظ یو له بله تغییر کوي. د ښځو چارو وزارت د راپور له مخې، څومره چې په یو ولایت کې امنیت زیات وي په هماغه اندازه په هغه ولایت کې په دولتي ادارو کې ښځې زیاتې وي. د USAID راپور وایي، چې په پرامنه ولایتونو کې ډېرې نجونې ښوونځیو ته ځي او ډېرې ښځې روغتیایي اسانتیاوو ته لاس رسی لري.[407] غټ ښارونه په امن کې دی؛ هغه ښځې چې په غټو ښارونو (د کابل، هرات او مزار شریف په شمول) ژوند کوي، په دولتي چارو کې دګډون زیاتې مواقع په لاس کې لري. USAID وایي اساسي ازادیانو او حقوقو په دغه سیمو کې پرمختګ کړی دی.[408]

په لرې پرتو ولایاتو (لکه هلمند، پکتیکا، زابل، اورزګان او خوست) کې ښځې بیا هغه اسانتیاوې او ازادیانې، چې په ښاري سیمو کې یې لري، هلته نه لري. د USAID دراپور له مخې په دغو سیمو کې د ښځو ژوند د کلتوري اصولو نه د اساسي قانون مطابق چلیږي. د بېلګې په ډول په کلیوالو سیمو کې ښځې شاید په کرنیزو چارو کې مرسته وکړي، لیکن کلتوري اصول، چې سړی باید فامیل ته ګټه وکړي مانا داده چې ښځه به د کور کار کوي، چې هغې ته به یې معاوضه نه ورکول کیږي. په کلیوالو سیمو کې ښځې په کم عمر او یا هم په زوره د واده کولو له ګواښ سره مخ دي. په لرې پرتو سیمو کې د ښځو پر شخصي ژوند زیات محدودیتونه شتون لري.[409]

جدول ۳،۱۸ د ښځو، د مساوي حقوقو لپاره د امریکا د متحده ایالاتونو د هڅو بېلګې دي.

جدول 3.18

د افغانستان د ښځو لپاره د USAID ملاتړ

| پروګرام یا فعالیت | احتمالي تاثیر |
|---|---|
| د ۲۰۰۹ کال تر جولای USAID د افغانستان د انجونو او ښحو لپاره ۴۴۵ ملیونه ډالره مرسته ورکړې. | دا پانګه دافغانستان پر ښځو او انجونو دیو فوق العاده تاثیر ورتیا لري. |
| "دژوند لپاره زده کړې" په دغو ټولګیو کې ښځو ته دسواد زده کړې، حساب او روغتیایي چارو په اړه معلومات ورکول کیږي. | له ۸۰۰۰ نه زیاتو ښځو په دغه کلاسونو کې برخه اخیستې ده. |
| USAID د ازادې میډیا د ملاتړ لپاره ښځینه ژورنالستانو ته له ډېر وخت راهیسې ټرېننګ ورکوي. | له ۲۰۰۲ کال راهیسې ۵۰۰ ښځینه ژورنالستانو ته USAID ټرېننګ ورکړی. |
| د USAID د راپور له مخې د افغانستان قابله ګانو سازمان د افغان دولت سره د قابله ګانو د مهارتونو د لوړولو لپاره او د دې لپاره چې قابله ګانې د پرمختګ د پروسې برخه ده، کار وکړي. | څه د پاسه ۱۰۰۰ افغاني ښځې د قابله ګانو د سازمان غړې دي. |

سرچینه: USAID، "افغانستان: په منځ کې پریکول" http://afghanistan.usaid.gov/en/Program.33.aspx، وکتل شو ۲۰۰۹\۱۲\۲۳\۱۰؛ د سیګار د پلټنو ریاست، د پوښتنو ځواب، ۲۰۰۹\۱۲\۲۳\۱۰: ډېټا د USAID په اختیار کې ورکړ شوې؛ USAID، "د عامې روغتیا وزیر محمد امین فاطمې د افغاني قابله ګانو د ټولنې لومړنې ټولنه پرانیستله"، ۲۰۰۹\۴\۱۵.

**د راتلونکې نسل روزنه**

دوه افغان هلکان د هلمند په ناوه ښوونځي کې خپل د ښوونځي مواد ښکاروي. د متحده ایالاتو سمندرې ځواکونو د ښوونځیو مواد د یاغیانو په خلاف د مبارزي په عملیاتو کې په جنوبې افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډه وویشل.
(انځور د متحده ایالاتو د سمندري پوځ، ډلګی مشر جیمیری هریس)

# 4
# د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د بيا رغوني عمومي پلټونکی له نورو دولتي سازمانونو غواړي، چې د خار تول راپورونه، چې دوی بشپړ کړي او يا يې بشپړوي، د نوموړي دفتر ته ولېږدوي. لاندې ورکړل شوي سازمانونه په افغانستان کې د نظارت فعاليتونه سر ته رسوي او نتيجه يې سيګار ته ورکوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د احتساب دفتر (GAO)
- د نړيوالي پرمختيا لپاره متحده ايالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)
- د متحده ايالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

۴.۱ جدول د بيا رغوني او امنيت اړوند د نظارت هغه اتهپروژې ښکاورې چې په دې دريو مياشتو کې بشپړې شوي وي.

جدول 4.1

| د متحده ايالاتو د نورو ادارو لخوا په نيژدې وختونو کې بشپړ شوي د نظارت فعاليتونه | | | |
|---|---|---|---|
| اداره | د پروژې نمبر | د خپرېدلو نېټه | د پروژې عنوان |
| DoD OIG | D-2009113- | 9/30/2009 | په جنوب ختيځه آسيا کې د ملاتړ عملياتو لپاره طبي تجهيزات استعمال شول |
| DoD OIG | D-2009100- | 9/30/2009 | د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه دريمه مرحله-د افغانستان د ملي پوليسو لپاره د اخيستل شويو تجهيزاتو حساب ورکول |
| DoD OIG | D-2009-109 | 9/25/2009 | د دفاع وزارت د تروريزم سره د مبارزې لپاره د ټکنالوژۍ پروګرام د ملاتړ لپاره قراردادونه |
| DoD OIG | D-2009-099 | 8/12/2009 | د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه دريمه مرحله-د افغانستان د ملي اردو لپاره د اخيستل شويو تجهيزاتو حساب ورکول |
| DoS OIG-MERO | 09-MERO-3006 | 8/31/2009 | سياسي امنيت (DS) د WPPS اداره کول - افغانستان |
| DoS OIG-MERO | 09-MERO3005- | 8/31/2009 | د شخصي امنيت تفصيلات (WPPS) قراردادونه - افغانستان |
| GAO | GAO-09-1015T | 9/9/2009 | افغانستان او پاکستان: د متحده ايالاتو د ادارو تر منځ هڅو نظارت |
| GAO | GAO-10-01 | 10/1/2009 | د احتمالي پيښي له پاره قرار داد کول: د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او USAID لا هم په افغانستان او عراق کې د قرارداديانو د پرسونل او قرارداديانو په څرک معلومولو کې له ننګونو سره مخ دي |

يادونه: MERO = د منځنی ختيځ منطقوي دفتر.

سرچينه: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۹؛ DoS OIG-MERO، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۹؛ GAO، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۹؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۹؛ USAID OIG، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۹؛

## روان نظارت

تر ۳۰ سپتمبر پوري، ادارو د نظارت ۲۸ فعالیتونه د پرمختګ په حال کې درلودل. دا فعالیتونه د ادارو په اساس لست شوي دي، او د هغوی څرګندونه هماغسي راوړل شوی لکه چي سیګار ته سپارل شوي وه، او په عین حال کي ځیني میخانیکي بدلونونه چي د دي راپور له مخکنیو برخو سره ورته والي پیدا کړي: مخففات او لنډوني د بشپړو نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معیاري لیکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دریم شخص بیارغوني کارول شوي دي.

جدول 4.2

**د متحده ایالاتو د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2009-D000LC-0237.000 | 6/11/2009 | د عراق د آزادي د عملیاتو او د تلپاتي آزادي عملیاتو په ملاتړ کي د هوایي کارګو ترانسپورتیشن قراردادونه |
| DoD OIG | D2009-D000LC-0230.000 | 6/5/2009 | د دفاع وزارت د ورکړ شویو بودیجو مسؤلیتونو او مصارفو په اړه د ادارو تر مینځ پلټنه د بهرنیو چارو وزارت لپاره د افغان ملي پولیسو د روزني او ځارني لپاره. |
| DoD OIG | D2009-D000AE-0102.000 | 12/9/2008 | د دفاع وزارت د پرمختللیو چاودیدونکو موادو او ماینونو پر خلاف سیستمونو قرارداد |
| DoD OIG | D2007-D000FD-0198.001 | 10/10/2008 | د عراق او افغانستان لپاره د پلټني ځانګړی شوی بودیجه د بهرنیو نظامي خرڅلاو ترسټ بودیجي له لاري بیا اعلانول |
| DoS OIG-MERO | 09-MERO3004- | اپریل ۲۰۰۹ | په افغانستان کي د مخدره موادو پرضد د پروګرام مؤثریت |
| DoS OIG-MERO | 09-MERO3009- | جون ۲۰۰۹ | د افغانستان د ملي پولیسو د روزني او ځارني پروګرام (له DoD OIG سره په ګډه) |
| GAO | 351399 | 9/17/2009 | په افغانستان کي د عملیاتي قرارداد د ملاتړ د دفاع وزارت له خوا نظارت |
| GAO | 320712 | 9/2/2009 | د مسلکي افغان ملي اردو په جوړولو کي دامریکا هڅي |
| GAO | 351395 | 8/21/2009 | په افغانستان کي دامریکایي پوځي عملیاتو لپاره لوجیستیکي ملاتړ |
| GAO | 351393 | 8/21/2009 | د عملیاتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتیایي ارتیاوو مقررات |
| GAO | 320709 | 8/17/2009 | د افغانستان امنیتي چاپیریال |
| GAO | 351385 | 8/11/2009 | د حمایوي تولیو لپاره جنګي مهارتونه |
| GAO | 351376 | 7/30/2009 | د هوایي جنګي ځواکونو او د هوایي حمایوي ځواکونو اماده ګي |
| GAO | 351387 | 7/30/2009 | د پوځ او سمندري ځواک د روزني ورتیا |
| GAO | 351388 | 7/26/2009 | عراق او افغانستان کي دعملیاتو دملاتړ لپاره آماده او روزل شویو پوځیانو مهیا کول |
| GAO | 320680 | 5/8/2009 | په افغانستان کي د څښلو اوبو، د فاضله اوبو او د اوبو خور پروژي |
| GAO | 320662 | 3/16/2009 | په افغانستان کي د USAID د زراعت د پروګرامونو ته په پیسو برابرولو، مقاصدو، نتایجو، نظارت او ارزیابی پر هڅو متمرکزي وي. |
| GAO | 320657 | 1/29/2009 | په افغانستان کي د مخدره موادو پر ضد د امریکا مبارزه |
| GAO | 120790 | 11/25/2008 | د افغانستان او عراق قرارداد ورکول |
| USAAA | A-2008-ALL-0531.000 | 7/26/2009 | د قوماندان د بیرني ځواب پروګرام (CERP) - افغانستان |
| USAAA | A2009--ALL-0106.000 | 2/2/2009 | د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کي د عملیاتو قراردادي -- کابل او جلال اباد (افغانستان) |
| USAAA | A-2008-ALL-0401.000 | 9/1/2008 | د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کي د عملیاتو قراردادي --کندهار او سالارنو (افغانستان) |
| USAAA | A-2008-ALL-0320.000 | 1/28/2008 | د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کي د عملیاتو قراردادي (بګرام) |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | په USAID \افغانستان کي د شخصي امنیتي قراردادیانو څارنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID\افغانستان د ښوونځیو او کلینیکونو د ودانیو چي د ښوونځیو او کلینیکونو د جوړېدو او بیا رغوني د پروګرام (SACCARP) لاندي جوړ شوي |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID\ افغانستان د ملکي خدماتو د ملاتړ پروګرام |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د انرژي د سکتور د ځانګړو فعالیتونو پلټنه چي د USAID/افغانستان د انفراسټرکچر او بیارغوني پروګرام لاندي تمویل شوي |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/افغانستان د ښوونکو لپاره د ښووني او روزني جوړولو د ملاتړ سیسټم جوړولو پروژي پلټنه |

سرچینه: دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹/۹/۲۹؛ DoS OIG-MERO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹/۹/۲۹؛ GAO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹/۹/۲۹؛ USAAA، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹/۹/۲۹؛ USAID OIG، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹/۹/۲۹؛

4.2 جدول د بیا رغوني او امنیت اړوند د نظارت د روانو فعالیتونو لست وړاندې کوي چې د ۳۰ سپتمبر ۲۰۰۹ پورې د نورو دولتي ادارو لخوا ترسره کیږي.

### د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د ۲۰۰۹ کال د می تر میاشتې د دفاع وزارت عمومي پلټونکي د دفاع وزارت د غړي او د فدرالي نظارت د سازمانونو په استازیتوب د وضع شویو قوانینو پلان د جنوب غربي اسیا، چې د ۲۰۰۹ کال د وضع شویو اصولو نظارت په کې شامله ده، نوې معلومات خپاره کړل.

د جنوب غربي اسیا د نظارت په جامع پلان کې د دفاع وزارت، خارجه وزرات او د USAID د عمومي پلټونکو، دعراق دبیا رغوني لپاره عمومي پلټونکی او د سیګار د نظارت انفرادي راپورونه په کې شامل دي. په دغه کې همدا رنګه د پوځ د پلټني اداره، د بحري قواوو د پلټني اداره او د دفاع د قراردادونو د پلټني اداری په کې د هغې ونډې له امله چې دوی یې د پوځ د تقویې او مؤثریت په لار کې تر سره کوي، هم شامل دي. دغه جامع پلان د دفاع وزارت له پلټونکو نه نورو هغو سیمو لکه دعراق د ازادی پلان، د قراردادونو اداره، د آلاتو بیا برابرول او د بیا رغوني ملاتړ ته وغځول شو. له دې علاوه په می ۲۰۰۹ کې خپاره شویو معلوماتو کې قوماندان او د امریکا د مرکزي قوماندې درخواست چې د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي له خوا په جنوب غربي اسیا کې د ذخایرو د حساب کتاب دوباره جایزه واخلي شامل دي. د دفاع وزارت عمومي پلټونکی د جنوب غربي اسیا د نظارت د پلان په بیا مطالعه بوخت دي.

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی تر مشرۍ لاندې د جنوب غربي اسیا د ګډ پلان ګروپ د فدرالي او د DOD OCO تر منځ همغږي رامنځته کوي او موجود مسایل یې له منځه وړي. ګروپ خپله لسمه غونډه په اګست ۲۰۰۹ کال کې وکړه. د افغانستان او عراق د جګړې ډېرو قراردادونو استازو د نظارت هڅې او ورسره تړلې ستونزې، چې دوی د خپل لومړني کار په نتیجه کې په ګوته کړې وې، باندې بحث وکړو. د د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، سیګار او د پوځ د پلټني اداري د قوماندان د بیړنی ځواب له پروګرام سره په افغانستان کې د نظارت د منابعو د زیاتولو او په عراق او افغانستان کې د ابتدایي قواوو نه د بارکمولو باندې هوکړه وکړه.

د دفاع وزارت عمومي پلټونکی په جنوب غربي اسیا کې په افغانستان او عراق کې د نورو تحقیق کوونکو او پلټونکو د ټاکلو له لارې خپل حضور زیات کړو. اضافي کار کوونکی، د کانګریس غوښتنه، د دفاع وزارت او پوځې سابقه دارو مامورینو غوښتنه اضافي پرسونل ته اړتیا لرې. د دفاع وزارت د نظارتني عمومي مسؤل په قطر، کویټ، عراق او افغانستان کې د نظارت او تحقیق د ملاتړ لپاره د پلټني په برخه کې د دغو ساحوي دفترونو وړتیا اضافه کوي.

په ۳۰ سپتمبر ۲۰۰۹ کال کې د دفاع وزارت عمومي پلټونکی ۴۹ د نظارت فعالیتونه درلودل او ۱۳ راپورونه یې خپاره کړل، چې د ازادي بخښوونکي عملیات یې حمایه کول. د دغو ۴۹ روانو پروژو له جملې څلور چې په افغانستان کې د امنیت او بیا رغوني سره تړاو لري په دغه راپور کې ځای پر ځای شوي دي. د دغو 13 روانو پروژو له جملې څلور چې په افغانستان کې د امنیت او بیا رغوني سره تړاو لري په دغه راپور کې ځای پر ځای شوي دي.

په ټولیزه توګه په ۲۰۰۹ مالي کال کې د دفاع وزارت عمومي پلټونکي، چې کوم فعالیتونه سرته ورسول یا روان دي لاندې ساحې یې په بر کې ونیولې:

- د افغانستان د امنيتي ځواکونو د صندوق کارونه او حساب ورکونه (ASFF)
- د ساختماني موادو کفايت
- د جايداد حساب ورکونه
- د قراردادونو اداره کول
- د قراردادیانو د لاس رسی عام کارونه
- د زغره کولو وړتیاوې
- د سوخت د موادو اداره
- د غير تاکتيکي موټرو اخيستل او کارونه
- د IT د الاتو کارونه
- د موادو او سامانونو له یو ځای نه بل ځای ته لېږد

په افغانستان او عراق کې د جنګ د وخت قراردادونو يو درخواست ته په ځواب کې د دفاع وزارت عمومي پلټونکی يو پلټنه پيل کړو چې موخه يې په کابل کې امريکايي ځواکونو (USFOR-A) ته د يو کمپاونډ جوړولو نه راولاړو مسايلو ته ځواب ويل وو. له دې سربېره د کانګرس يوې غوښتنې ته په ځواب ويلو سره، د خارجه وزارت عمومي پلټونکي د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي سره په ګډه يو پلټنه پيل کړې و، چې د ASFF روپۍ چې د دفاع وزارت، خارجه وزارت د افغان ملي پوليسو لپاره ورکړې وې بيا کتنه وکړي.

### د نظارت فعالیتونه

د عراق د آزادي د عملیاتو او د تلپاتي آزادي عملیاتو په ملاتړ کې د هوايي کارګو ترانسپورټيشن قراردادونه
(د پروژې نمبر. D2009-D000LC-0237.000, پيل شوه جون ۱۱، ۲۰۰۹)
د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر دا پريکړه کوي چې آيا د عراق د آزادي عملیات (OIF) او OEF په ملاتړ کې د هوايي کارګو ترانسپورټيشن قراردادونه د اړوند فدرالي او دفاع وزارت له مقرراتو سره سم اداره شوي او که نه. په ځانګړي توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر به دا پريکړه کوي چې دا پريکړه چې له هوايي ټرانسپورټ څخه کار واخيستل شي عادلانه وه، او دا چې آيا د لېږدلو اوامر د اخيستونکو د انتخاب له معيارونو سره سم ورکړل شوي او که نه، او دا چې لېږل شوي کارګو د هوا له لارې د مقرراتو سره سم په ورکړل شوي وخت کې شوي وه او که نه.

د دفاع وزارت د ورکړ شويو بوديجو مسؤليتونو او مصارفو په اړه د ادارو تر مينځ پلټنه د بهرنيو چارو وزارت لپاره د افغان ملي پوليسو د روزني او ځارني لپاره.
(د پروژې نمبر. D2009-D000JB-0230.000, پيل شوه جون ۵، ۲۰۰۹)
د دفاع وزارت او بهرنيو چارو د وزات عمومي پلټونکي په دې وخت کې يوه مشترکه پلټنه د ګانګريس د غوښتنې په ځواب کې عملي کوي. د دې پلټنې موخه دا ده چې د ASFF د پيسو حالت وګوري چې د دفاع وزارت د بهرنيو چارو وزارت ته د ملي پوليسو د روزنې لپاره ورکړي دي. په ځانګړي توګه، د دفاع وزارت عمومي پلټونکی به قرارداد، اړوند کاري احکام، د کار د سرته رسولو امر، او هر هغه قرارداد يا د کار امر تبديلي چې د روزنې او

ځارني لپاره وه بيا کتنه وکړي، تر څو دا ډاډینه ترلاسه شي چې هغوی د اړوند فدرالي مقرراتو او د دفاع وزارت د اړتیاوو سره برابري دي. په دې سربیره، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر به د قراردادیانو بلونه وګوري تر څو دا ډاډینه ترلاسه شي چې ادعا شوي مصارف د عملي شوي خدماتو په مقابل کې د اجازې وړ، اختصاص وړ، او منلو وړ وه. د بهرنیو چارو د وزارت عمومي پلټونکی به د دفاع وزارت عمومي پلټونکی سره په دې پلټنه کې مرسته کوي او د ملکي پولیسو د روزونکو د قرارداد اغیزمنتوب، د کارکوونکو، روزنې او قرارداد اداره کول به ارزیابي کوي.

د دفاع وزارت د پرمختللیو چاودیدونکو موادو او ماینونو پر خلاف سیستمونو قرارداد

(د پروژې نمبر. D2009-D000AE-0102.000, پيل شوه ډیسمبر ۹، ۲۰۰۸)

د دفاع وزارت عمومي پلټونکی معلوموي چې ايا د پرمختلیلو چاودېدونکو موادو او ماینونو سیستم، چې په عراق او افغانستان کې وکارول شو دلاسته راوړلو، د دفاع وزارت او فدرالي قوانينو سره سم، اداره شوي او وده ورته ورکړل شوي او که نه.

د عراق او افغانستان لپاره د پلټنې ځانګړی شوی بودیجه د بهرنیو نظامي خرڅلاو ټرسټ بودیجې له لارې بیا اعلانول

(د پروژې نمبر . D2009-D000FD-0198.001, پيل شوه اکتوبر ۱۰، ۲۰۰۸د هغو مشاهدو په اساس چې په لومړي کې اعلان شوي پروژې (D2007-D000FD-0198.000) د ساحوی پلټنې په جریان کې ولیدل شو، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر پریکړه وکړه چې یوه اضافي پروژې ته اړتیا لیدل کیږي چې د ساحوي کار په جریان کې په ګوته شوي موضوعات په بیل ډول تر بحث لاندې ونیسي. د دفاع وزارت عمومي پلټونکی FMS ته د روپو انتقال او په (D-2009-063) راپور کې په اداري فیس راټولولو تمرکز وکړو. د دفاع وزارت عمومي پلټونکی معلوموي چې ایا د عراق او افغانستان د امنيت او بيا رغوني لپاره ځانګړي شوي بودیجه په خارج کې د مېشته پوځیانو د صندوق له لارې اداره شوي او که څرنګه. ليکن د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دويمي اهداف په خارج کې د پوځیانو د صندوق له خوا په ځانګړي ډول محاسبه شوي، د مقاصدو لپاره کارول شوي او د دفاع وزارت په اقتصادي راپور کې ذکر کېدو ته راکم کړي دي.

## په منځني ختيځ کې د باندينيو چارو وزارت دعمومي پلټونکی سيمه ييز دفتر

### د نظارت فعاليتونه

په افغانستان کې د مخدره موادو پرضد د پروګرام مؤثريت

(پروژه نمبر 09-MERO-3004, پيل شوه اپريل ۲۰۰۹)

هدف: په افغانستان کې د مخدره موادو د پلان او اداري لپاره د امريکا هڅې چې (۱) د امريکا مسؤليتونه او لګښتونه، (۲) د خلکو سره د مرستو پروژې، (۳) د مرستو د همغږۍ ميکانيزم او تګلاره، او (۴) لوی خنډونه، چې د امريکا د موخو لاسته راوړل متاثر کوي په کې شامل دي.

د افغانستان د ملي پوليسو د روزني او ځارنې پروګرام (له DODIG سره په ګډه)

(پروژه نمبر -09-MERO3009, پيل شوه جون۲۰۰۹)

هدف: د ټولو اړتياوو ، موادو او د افغانستان ملي پوليسو د روزني د پروګرام د خلاصې بيا ارزيابي قرارداد، د قرارداد موخې او د کار ترتيب، د کارکردګی د اندازه کولو لپاره کوم انديکاتورونه ټاکل شوي دي او څرنګه. د باندينيو چارو وزارت د Dyncorp د کارکردګی نظارت او د قرارداد لګښت اداره کړو. دغه کار بهٔ د قرارداد ريکارډ حالت ادراه، کنترول لګښت او د دغه قرارداد ارزښت د خارجه وزارت او دفاع وزارت سره ارزيابي کړي.

### دحکومت د احتساب اداره

دتېرو درې مياشتو په دوران کې GAO په افغانستان او پاکستان کې دبېلابېلو سازمانونو تر منځ دامريکا د نظارت په اړه يوې استماعيې کې خپل بيان ورکړ. په دغه استماعيه کې هغه کليدي موضوعات چې GAO د اپريل ۲۰۰۹ کال کې ولسمشر ته په خپل منځمهالي راپور کې ياد کړي وو، ذکر شوي وو. همدا رنګه په دغه راپور کې د GOA د پخواني، کارموندنو، سفارشات هم شامل وو، چې څرنګه د احتساب د نورو ټولنو سره همغږي کوي او په پاکستان او افغانستان کې د موجودو ننګونو د کمولو لپاره کوم اقدامات کوي.

له دې پرته GAO په پراخو موضوعاتو د افغانستان سره تړلي لس نور موضوعات شامل کړل:

- د افغانستان بدليدونکی امنيتي چاپېريال
- يو وړ افغان ملي اردو جوړول
- عراق او افغانستان کې د عملياتو د ملاتړ لپاره د روزل شويو پوځيانو مهيا کول
- د هوايي جنګي ځواکونو او نورو موخو لپاره د وړتياوو مهيا کول
- د روانو عملياتو لپاره د دفاع وزارت د وړتياوو د روزنې برابرول
- د پوځي حمايي د ټوليو لپاره د جنګي مهارتونو روزنه
- په افغانستان کې د امريکايي عسکرو لپاره لوجيستيك
- د عملياتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتيايي اړتياوو مقررات
- په افغانستان کې د عملياتي قرارداد د ملاتړ د دفاع وزارت له خوا نظارت
- امريکايي پوځيان دعراق او افغانستان په ځينو خلاصو ځايونو کې ناکاره شيان سوځوي

**د نظارت فعاليتونه**

په افغانستان کې د عملياتي قرارداد د ملاتړ د دفاع وزارت له خوا نظارت

(پروژه نمبر. 351399, پيل شوي ۱۷ سپتمبر ۲۰۰۹)

دا پروژه دفاع وزارت ته د کافي شمېرې روزل شوي پرسونل د مهيا کولو قابليت ورکوي. هغه ننګوني چې دنظارتني پر مهال ورسره د دفاع وزارت مخ کيږي او هغه درسونه چې د عراق او افغانستان نه اخيستل شوي.

د مسلکي افغان ملي اردو په جوړولو کې دامريکا هڅې

(پروژه نمبر 320712, پيل شوی ۲ سپتمبر ۲۰۰۹)

دا ارزيابي به د ملي اردو لپاره د امريکا په موخو متمرکزه وي، چې امريکا څومره لګښت کړی او مسؤليت ته يې اوږه ورکړې. همدا رنګه د ملي اردو د ساتلو او تکميل لپاره لګښت؛ امريکا د ملي اردو د جوړښت لپاره څومره موخې کړي؛ او نورو بسپنه ورکوونکو د ملي اردو سره څه ډول مرسته کړي.

په افغانستان کې د امريکايي پوځي عملياتو لپاره لوجيستيکي ملاتړ

(پروژه نمبر 351395, پيل شوي ۲۱ اګست، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي د دفاع وزارت د جوړښت او افغانستان ته او له افغانستان د باندې او په افغانستان کې دننه د سازو سامان په لېږد متمرکزه ده. هغه ننګوني چې شايد پر وړتيا يې تاثير کړی وي او هغه درسونه چې له نورو عملياتو زده شوي دي.

د عملياتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتيايي اړتياوو مقررات

(پروژه نمبر 351393, پيل شوي ۲۱ اګست، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي به په هغه حدودو کې چې دفاع وزارت تعيين کړي او د روانو عملياتو لپاره روغتيايي اړتياوې په نخښه کړي، ددغه ضروررياتو د پوره کولو لپاره دوی له کومو ګواښونو سره مخ دي او د دغو ضروررياتو د پوره کولو لپاره دوی کوم سامان الات لري.

د افغانستان امنيتي چاپيريال

(پروژه نمبر 320709, پيل شوي ۱۷ اګست، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي به د امريکا د پوځيانو په موجوديت کې په تغيير راتللو باندې تمرکز وکړي. امنيتي حالات چې د دښمن له خوا په پيل شويو بريدونو او د امنيتي حالاتو له امله د امريکا هڅو ته موجودې ننګوني سره مقايسه کيږي.

د حمايوي ټوليو لپاره جنګي مهارتونه

(پروژه نمبر 351385, پيل شوي ۱۱ اګست، ۲۰۰۹)

دا ارزيابي د خدمتونو د ځانګې په فعاليتونو چې څرنګه حمايوي ټوليو ته ځانګړي روزنه ورکوي، چې په کې د روزنې د اړتياوو حد معلوم وي او د روانو عملياتو اخيستل شوي عبرتونه په کې شامل دي.

د هوايي جنګي ځواکونو او د هوايي حمايوي ځواکونو اماده ګي

(پروژه نمبر 351376, پيل شوي ۳۰ جولای، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي بهٔ د هوايي جنګي ځواکونو او د هوايي حمايي ځواکونو په پياوړتيا، چې د جنګ لپاره په وړتيا تمرکز وکړي، چې په کې روان جنګي عمليات د افغانستان په شمول د کميو د حلولو، چې په کې د قواوو جوړښت او د پرسونل برابرول شامل دي تمرکز وکړي.

د پوځ او سمندري ځواك د روزني وړتيا

(پروژه نمبر 351387, پيل شوي ۳۰ جولای، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي به د DOS د پوځ او سمندري ځواکونو په فعاليتونو تمرکز وکړي، چې دوی د عراق او افغانستان لپاره د روزني د اړتيا توپير تعين کړی دی او په عراق او افغانستان کي يي د پوځيانو د بدلېدونکو اړتياوو لپاره ظرفيتونه عيار کړي دي.

عراق او افغانستان کي دعملياتو دملاتړ لپاره آماده او روزل شويو پوځيانو مهيا کول

(پروژه نمبر 351388, پيل شوي ۲۶ جولای، ۲۰۰۹)

دا ارزيابي بهٔ د دفاع وزارت د روانو اړتياوو لپاره د امادګي په کچه، د اړتياوو د پوره کولو لپاره د نورو پوځيانو د ځای پرځای کېدو او اداره کولو او د دفاع وزارت د نورو ژمنو د پوره کولو په اړتيا تمرکز وکړي.

په افغانستان کي د ښښلو اوبو، د فاضله اوبو او د اوبو خور پروژې

(پروژه نمبر 320680, پيل شوي 8 مې، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي به د افغانستان د اوبو د سکتور د پرمختګ په هڅو کې په مرستو او خلکو ته د ANDS د تګلارې سره سم د پاکو اوبو، فاضله اوبو او د اوبو خور د خدماتو په ورکولو تمرکز کوي.

په افغانستان کي د USAID د زراعت د پروګرامونو ته په پيسو برابرولو، مقاصدو، نتايجو، نظارت او ارزيابی پر هڅو متمرکزي وي.

(پروژه نمبر 320662, پيل شوي 16 مارچ، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي بهٔ د USAID د زراعتي پروګرامونو د بوديجو، موخو، نتايجو، څارنو، او د ارزيابي په هڅو باندې تمرکز کوي.

په افغانستان کي د مخدره موادو پر ضد د امريکا مبارزه

(پروژه نمبر 320657, پيل شوي 29 جنوري، ۲۰۰۹)

دغه ارزيابي بهٔ په قضايي سمونونو، د مخدره موادو په لمنځه وړنه، عامه معلوماتو او د مخدره موادو د مارکيټ په له منځه وړلو تمرکز کوي.

### د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره
### د نظارت فعالیتونه

د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) - افغانستان

(د پروژې کوډ A-2009-ALL-0531.000, پیل شوي ۲۶ جولای، ۲۰۰۹)

د قوماندان د عاجل غبرګون پروګرام کافي داخلي کنترول درلودلی تر څو چې پروګرام په ښه طریقه عملي کړي
ددغه پلټنه ارزښت کمېدلو.

د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کي د عملیاتو قراردادي -- کابل او جلال اباد (افغانستان)

(د پروژې کوډ A-2009-ALL-A-2009-ALL-0106.000, پیل شوي ۲ فروری، ۲۰۰۹)

دا پلټنه په افغانستان کي سرته رسېږي. دا به معلومه کړي، چې قرارداد شوي سامانونه او خدمات په صحیح ډول
ورکړل شوي او اداره شوي دي.

د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کي د عملیاتو قراردادي --کندهار او سالارنو (افغانستان)

(د پروژې کوډ A2008--ALL-0401.000, پیل شوي ۱ سپتمبر، ۲۰۰۹)

